د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډیره غوره وي. (سوره النحل ، 125 ایت)

موسس او مسئول چلوونکی:

محمد طارق بزګر

د تأسیس نیټه: 1367ل،(۱۹۸۸ م)

Dawat Media Center,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384 Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com

دعوت

ملي، خپلواکه خپرونه

www.dawatmedia24.com
ISBN: 978-82-691395-2-5

Jan-March . 2024 Vol. 251 پرله پسې ګڼه ۲۵۱

ملي سندره

څو چې دا مځکه آسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت

افغانستان، افغانان او د هېواد د اوسنیو چارواکو مسئولیت؟

د افغانستان روان بحران د ۲۰۲۱ کال په اګست میاشت کې د طالبانو د بیا واکمنیدو سره لا ژور شو، چې له امله یې سیاسي، اقتصادي او بشري ستونزې رامنځته او لا ډېرې شوې. نو د دې ستونزو د حل له پاره باید حل لارې ولټول شي که چیرې اوسني واکمن وغواړي او د حل وړتیا یې ولري چې د دوئ مسئولیتونه په لومړي قدم کې زموږ په نظر په لاندې ډول دي:

سیاسي ثبات: د هېواد سیاسي ثبات لپاره د وزیرانو، وزارتونو او حکومت د ټولو برخو تر مینځ همغږي رامنځته کېدل. د هېواد په ټولو چارو کې د ټولنې د ټولو پرګنو برخه اخیستنه او د افغانانو خپلمنځي خبرو اترو ته لار هواروول.

بشري حقونه: د بشري حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو حقوقو، ته درناوی کول، او د هغوی تعلیم او کار ته زمینه برابرول. چې دغه مسئولیت د نړیوالې ټولنې د ملاتړ لپاره بنسټیز دی.

اقتصادي ودې ته جدي او هراړخیزه توجه کول: د هېواد اقتصاد پیاوړی کول، د پانګونې جذبول او د کار زمینه برابرول د اوسنیو واکمنو یوه مهمه او بنسټیزه دنده ده. د اقتصاد لپاره د پلانونو جوړول او د نړیوالو مرسته غوښتل هم اړین دی.

امنیت ساتنه: د امنیتي او دفاعي ځواکونو (پوځ، پولیس او ملي امنیت) پیاوړتیا، روزونه تر څو د خلکو ژوند خوندي او د ترهګرۍ مخه ونیسي. د عامه (فزیکي او رواني) امنیت په برخه کې د افغان ولس اعتماد او باور ترلاسه کول خورا مهم او اړین دي.

د خدماتو وړاندې کول او برابرول: تعلیم، صحت، عدالت او نور عامه او بنسټیز خدمات باید خلکو ته وړاندې شي. حکومت باید هڅه وکړي چې د عامه خدماتو کیفیت لوړ کړي او په خدمتي سیستم کې نوښت رامنځ ته کړي. اهلیت، پوهې او مسلک له مخې چارې یې اهل کار ته وسپاري.

د نړیوالو اړیکو ساتنه: د نړیوالې ټولنې سره مناسبې اړیکې جوړول او د مرستو جلبول. د دې لپاره اړینه ده چې د نورو هیوادونو سره د دیپلوماتیکو روابطو د ښه کولو لپاره جدي او مخلصانه هڅې وشي.

د کلتوري او ټولنیزو مسایلو درک: د ولسي او ملي کلتور، مذهب او د ټولنیزو نورمونو احترام او ملاتړ خورا اړین او زیاته توجه غواړي تر څو د عام ولس ملاتړ زیات کړي.

د جنوبي او غربي ګاونډیانو سره باید اړیکې په ملي ګټو ولاړ وي.

په عموم کې، د افغانستان اوسني واکمن باید د افغان ولس د هوسایني، امنیت او پرمختګ لپاره جدي کار وکړي او پاسني یاد شوي ټکي په نظر کې ونیسي او د نړیوالې ټولنې او افغان ولس په وړاندې خپل مسئولیتونه په غوره توګه ترسره کړي. او که په ځای یې خپله ټوله توجه او انرژي د ملایزم او طالبیزم په حاکمیت او واکمنۍ وکاروي او ولس ته همداسې شا کړي نو اوس چې په کومه روان دي د مکې پر ځای به ترکستان ته ورسي.

مطالب این شماره

۱/ دعوت مېډیا ستاسې او ستاسو له پاره
۲/ دعوت مېډیا د افغان ولس غږ
۳/ د نجونو د تعلیم مذهبي، فرهنګي او سیاسي اړخونه. دوکتور م، عثمان توره کی
۳/ که د خیالی غرور له دلدل څخه رابښکته شو نو پوهیږو!؟. عبدالوحید وحید
۴/ یکتعداد افغانها مدعی اند که معاهده دیورند اصلاً امضا نشده است! دکتور نوراحمد خالدی
۵/ د پیسو نړیوال صندوق د پاکستان څخه څه غواړي. استاد نصیر احمد حیدري
٦/ د زراعت محوره اقتصادي پراختیا ستراتیژي. محمد آصف ننګ
۷/ واقعیت گرایی، خویشتن داری و ملاحظه در سیاست خارجی امریکا ضرورت است
۸/ د اوبو نړیواله ورځ او د افغانستان د اوبو ستونځې
۹/ د هالیډې له انده د متنی انسجام شننه
۱۰/ د ریاضي مور؛ هیپاتیا. غلام سرور ظهیر
۱۱/ د وریښمو کاروان د دې ګڼې شاعر ښاغلی کاوون توفاني

۱۲/ د نړۍ تر ټولو لوی ځنګلونه. شبیه گهیځ
۱۳/ انگلیسي برخه
او نور ډېر په زړه پورې مطالب....

مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلی، آباد او یو موټي افغانستان په لور

دعوت مېډيا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو بېلابيلو رسنيزو فعاليتونو د لياري د هيواد په دې ټاکونکو او حساسو شيبو کې په ملي افغاني روحيه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تماميت، ملي ګټو او د ملي يووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، ليکوالانو، او روڼفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانيستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هيواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپيژني او تر ممکن حده د دوی خاينانه دسيسې او توطيې شنډې او خنثی کړي.

په هيواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنيز عدالت، وګړيزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بيان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنيو بنسټيزو اسانتياو د برابرولو، او په لنډه که ووايو د دموکراتيکو لارو، نه د "زور، زر، او تزوير" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثريت په خوښه د يو غښتلی او ملي مرکزی ملي حکومت د جوړيدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بيائي.

خو!

د دې څراغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاريو ته د هر وخت نه خورا زيات ضرورت دئ، که زموږ د پاليسۍ او د دعوت د ملي خپرونې د محتوا سره موافق ياست نو موږ د دې جوګه کړئ چې د دعوت ميډيا خپرونې او دعوت خپرونه د نړۍ او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه ناامیده هيوادوالو له پاره د امید ډيوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله يې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چيرته چې افغان وي هلته دعوت وي يانې دا چې ډيرو هيوادوالو ته دعوت ورسيږي او زموږ هڅې به هله بيځايه نه وي چې يو زيات شمير هيودوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسيدل ستاسو درنو هيوادوالو او د دعوت مينه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هيله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په ليکل شوې پته راواستوئ:
د بانک او يا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.
يو ځل بيا وايو :

((دعوت ميډيا د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي ډلې نمايندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت ميډيا د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپرونې کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د پخوا نه زيات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتيا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه
د دعوت اداره

دعوت مېډيا ستاسې او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هيواد نه خپريږي. د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي او غير سياسي ډلې استازيتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپريږي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو ليکنو مسئوليت د درنو ليکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره ليکنه دې د دعوت د نشراتي پاليسۍ سره برابره وي.

DAWAT MEDIA CENTER,
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انترنت په نړيواله شبکه زموږ ويبپاڼه

www.dawatmedia24.com

زموږ د بريښنا ليک پته:

dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړيوالو تادياتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668

د ويپس شمېره: Vipps: #557320

څنګه کولی شئ د دعوت مېډيا مالي مرسته وکړئ:

خپلې مرستې (پيسې) د بانک په پته راوليږئ. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بريالیتوب او لاښه پرمختګ زيری دی. هر افغان بايد تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئوليت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

د نجونو د تعلیم مذهبي، فرهنګي او سیاسي اړخونه

دوکتور م، عثمان تره کی

د نوي تعلیمي کال د رارسیدو په درشل کي، د جینکیو پر مخ د ښونځیو د دروازو د خلاصون څرک نه مالومیږي.
په فرهنګي ساحه کې، افغانستان د خپل معاصر تاریخ له توري او شرمونکي دوره څخه تیریږي.
د نجونو له تعلیم سره مخالفت د اسلام دښمنانو ته د اسلام پر ضد لاسوند په لاس ورکوي .
دوه کاله پخوا (۲۰۲۲ م) په ناروې کې یو فرانسوي ژورنالیست د قرآن سوزولو د دوه پیښو پړه د طالبانو پر پوهې او معرفت ضد کړنو باندي واچوله.
طالبان د اسلامي نړۍ د علماوو د باورونو پر خلاف، دغه فرهنګي ناورین ته اسلامي پوښښ ورکوي. خو حقیقت دا دې؛ د نجونو له تعلیم سره مخالفت هیڅ مذهبي، فرهنګي او سیاسي توجیه نلري.
۱- د مذهبی توجیه په اړه باید و وایم : افغانستان د څه باندې پنځوسو مسلمانو هیوادونو په کتار کې یواځینی هیواد دی چې په کي نجونې د زده کړو څخه بې برخه شوي.
د اسلام پیغمبر علیه السلام چې کله مدینې منورې ته تشریف یووړ، هلته یې د پوهې داسې ډیوه روښانه کړه چې سړو او ښځو دواړو ور څخه هممهاله ګته اخیسته.
د بیلګې په توګه، هغه مبارک د بدر له لوستو اسیرانو څخه مرسته وغوښته چې د مسلمانانو اولادونو ته زدکړې ورکړي.
د دینې او دنیوي علم د حصول په فرضیت کې بیشمیره آیاتونه، احادیث او د علماو اقوال موجود دي.
پیغمبر علیه السلام پخپله ام المومنین حضرت حفصه رضی الله تعالی عنها ته د لیک او لوست د زده کړې لپاره معلمه مقرره کړې وه.
له بده مرغه، طالبان د اسلام څخه د خپل ځانګړي تعبیر پر بنسټ د نجونو د تعلیم او د ښځو د کار د حق په اړه د افغانانو، د اسلامي همکاریو کانفرانس، اسلامي علماو، ملګرو ملتونو او په لنډه توګه له ټولې نړۍ سره په ټکر کې قرار لري.
۲- د نجونو د تعلیم سره مخالفت فرهنګي توجیه هم نشي لرلای.
په ښارونو کې د نجونو تعلیم ستونزه نلري خو په کلیو او باندو کې ښایي لږ شمیر کورنیو د خپلو اولادونو له تعلیم سره د امنیتي ګواښ له امله مخالفت ښو ولای وي، نه د فرهنګي ستونزې له امله چې دې ته هم قطعاً عمومیت نشو ورکولې.
ماته ښه یاد شي، د مرحوم ظاهر شاه په وخت کې په پښتون میشتو سیمو کې په زرګونو کورنیو خپلې شخصي ځمکې د مکتب جوړولو په پار حکومت ته ډالي کړې او خپل اولادونه یې د ښونځیو د جوړولو پر اعمار وګمارل.

۳- د نجونو له تعلیم سره مخالفت د سیاسي پلوه هم عقلاني بنسټ نلري.

د طالبانو اداره د اساسي قانون په چوکات کې نده جوړه شوې. د کورني مشروعیت او بهرني پیژندني نه بې برخه ده. نو ځکه د خلکو په استازیتوب نه ښونځی بندولای شي او نه هم د ښځو څخه د کار حق اخیستلای شي.

سربیره پر دې افغانستان د ملګرو ملتونو غړی هیواد دی او د بشري حقونو نړیواله اعلامیه یې هم منلي ده.

د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې په شپږویشتمه ماده کې راغلي:

« هر انسان د ښوونې او روزنې حق لري، ښوونه او روزنه، په تېره بیا لومړنۍ او بنسټیزې زده کړې باید وړیا او اجباري وي. دحرفوي ښوونې امکانات باید د ټولو پر مخ پرانستې وي. د پوهنتونونو او نورو لوړو زدکړو مؤسسو ور باید د هر چا پرمخ خلاص وي.

د زدکړو موخه باید د انساني شخصیت بشپړ غوړېدل، وده او د بشر د حقوقو او بنسټیزو ازادیو درناوی وي. زدکړې باید د ټولو ولسونو، نژادونو او مذهبي ډلو ترمنځ پوهاوی، زغم او دوستي رامنځته او هغه پراخه کړي او د ملګرو ملتونو د مؤسسې د سوله ایزو موخو د لا ټینګښت او پیاوړتیا له پاره لاره هواره کړي».

اعلامیی ته په کتو، د طالبانو ادارې د نجونو د تعلیم د مخالفت له کبله، د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د حکمونونه څخه سرغړونه کړیده.

په وروستیو وختو کې د علم او معرفت سره د طالبانو د دشمنۍ په وړاندې کلک او جدي غبرګون د برتیانیا پخواني لومړي وزیر ګورډن بروان ښودلی.

موږ د انګریزانو د استعماري چلن څخه ښې خاطرې نلرو، خو کله چې د حقیقت خبره مطرح کیږي باید د دوست او دشمن تر منځ توپیر یوې خوا ته پریږدو. براون وایي په افغانستان کې د ښځو او نجونو په اړه د طالبانو چلن « د بشریت ضد یو جرم دی ».

نوموړی زیاتوي، ځینې خلک دغه ډول سیستم "جنسیتي اپرتاید" ګڼي او د هغه په اند باید د بشریت ضد یو جرم وبلل شي.

د بریتانیا دغه پخواني سیاستوال د جرمونو له نړیوالې محکمې هم غوښتنه کړې چې د بشري حقونو دغه "ظالمانه" سرغړونکي محاکمه کړي. د براون د څرګندونو څخه څو ورځې وروسته د سزا نړیوال دیوان څارنوال هم د براون د خبرو په تأئید ویلي چې دتعلیم سره د طالبانو دښمني باید، بشري ضد جنایت وشمیرل شي.

په لنډه توګه:

د نجونو د تعلیم او د ښځو د کار حق سره مخالفت دا مانا لري چې :

۱- طالبان د اسلام د ستر پیغمبر علیه السلام لارښوونو ته پام نه اړوي.

۲- د اسلامي نړۍ علماوو مشورې نه مني.

۳- د افغانستان له خطر نه ډکه دیپلوماتیکه انزوا چې د نجونو له تعلیم سره تړاو لري، پایلې ته پام نه کوي.

۴- د طالبانو د ادارې کورنیو او بهرنیو دښمنانو ته د مخالفت بیلګې په لاس ورکوي.

۵- ډیرې کورنۍ دیته اړ باسي چې د خپلو اولادونو د تعلیم په خاطر هېواد خوشې کړي.

٦- په لوی لاس جګړه مارانو ته د بیا راتګ او واک ته د رسېدو امکانات برابروي.

او هم په ناپوهۍ د خپلې واکمنۍ بیا نسکوریدو ته زمینه برابروي او په پایله کې د امنیت او خپلواکۍ اوسنی زرین چانس ضائع کوي.

اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِیْ فَاِنَّهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ (الحدیث)

۲۰۲۴/۰۲/۲٦

« پاې»

که د خیالي غرور له دلدل څخه راښکته شو، نو پوهیږو!؟

عبدالوحید وحید

کله هم چې سیاسي مشران دَ خپل ملت د مذهبي تنوع، سیاسي او کلتوري پیچلتیاو په تړاو اړین معلومات نه لري، په کور د ننه حساسیتونو او نزاکتونو باندي یې د پوهې زیرمه ټکنۍ وي او په نړیوالو کچه د روانو سیالیو په تړاو یې معلومات نیمګړتیاوې لري، سلاکاران یې ابن الوقت مخلوق او د امتیازاتو د بایللو له وېرې واقعیتونه پټوي، نو په مشرانو کې د هېواد د مدیریت لپاره اړینې وړتیاوې نه پوره کیږي، ارزونې، انګیرنې، اټکلونه او محاسبې یې په مفروضو او احساساتو باندي ولاړې وي. د واک حرص یې د جنون تر پولو ورسیږي، مشران مشفقانه لیدلوری پریږدي او مغرورانه ذهنیت غوره کوي، کشران احترامانه چلن پریږدي او خودسرانه کړنې سر ته رسوي، نو بیا د مشرتابه او ولس ترمنځ بې باوري او واټن رامنځته کیږي، نظام مستبدانه بڼه خپلوي او دا هر څه د نسکوریدو بنسټ برابروي. ټولنه ترانې د خپلواکي غږوي شعارونه د اتلولي پورته کوي، خو ژوند په خیراتونو تیروي او د پخواني تاریخ سندرې غږوي. هم سوال کوي هم یې خر لغتي وهي.

پوره باور لرم چې د دوحې په مهمه غونډه کې د طالبانو لخوا د نه ګډون پریکړه ښه پریکړه نه وه. د حیرت خبره ده چې له تیرو دوو کلونو راهیسې طالبان د افغانستان په تړاو غونډو کې د ګډون غوښتنه کوي خو چې اوس وغوښتل شول نو غونډه یې تحریم کړه. د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له خبرو څخه داسې څرګندیده چې دغه اداره په بدیلو لارو موندلو باندي غور کوي. دَ تحریم له امله به مخالفینو ته په نورو ناستو کې د ګډون فرصت برابر شي او د افغانستان ستونځه به نوي اړخونه پیدا کړي. په یاده غونډه کې د نه ګډون له امله نړیوالې ټولنې ته منفي پیغام ورکړل شو. د تیرو تجربو په رڼا کې باور لرم چې د بدیل لټون به یقیناً افغانستان ته بل ناورین راوړي او پایلې به یې خپله اوسني حاکم مشرتابه او ممکن هېواد ته زیان واړوي.

په یاده غونډه کې افغانستان ته د ملګرو ملتونو لخوا د ځانګړې استازي ټاکل او د نړیوالې ټولنې لخوا له ااا سره تعامل ته نوې بڼه ورکول مهمې موضوع ګانې وې. که احیاناً د ځانګړې استازي ټاکل د افغانستان په ګټه هم نه وای، نو بیا هم د ناستې له تحریم څخه به په ناسته کې ګډون او د پیاوړې استدلال په مرسته د استازي د ټاکلو مخالفت کولو به اقلا دغه ستونځه د امنیت شورا ته له وړلو څخه ژغورلې وای.

که زموږ مشران خیالي غرور پریږدي او له هوایي دلدل څخه راښکته شي، نو پوهیږي چې په نننی عصر کې د نړیوالې ټولنې ترمنځ په هسکه غاړه ژوند کول، سیالي افتخارات او بریاوې د ساینس او ټیکنالوژي په برخه کې په برلاسی پورې تړلې دي. جګړې هغه ډرون الوتکې کوي او

دښمن هغه روباټونه او راکټونه ماتوي چې مدیران یې زرګونه مایله لیرې د یوه کمپیوټر ترشا ناست او کافي څښي.

افغانستان په ساینسي او د معلوماتي ټیکنالوژي د نړیوالو پرمختګونو او رقابتونو له ټول بهیر څخه د وروسته پاتې هېوادونو په کتار کې راځي. له دوه نیم کاله تېریدو سره سره مو په نیمایي ولس باندي د علم دروازې تړل شوې پاتې دي او په دغه د ولس چیغې قطعاً نه اوریدل کیږي. ملت مو د بیوزلي ژوند تیروي، ځوانان مو د ناهیلي توب له امله په نفسیاتي رنځونو اخته کیږي. په دندو باندي د ګمارنو معیار انډیوالي ده او هېواد مو د نړیوالې ټولنې په منځ کې په انزوائي حالت کې قرار لری، نو د بریاو ویاړونو او نړۍ د ماتولو دعوې به مو څومره وزن ولري؟

که واکمني او یکه تازي د موخو بنسټ او محوري نکته نه وي نو اوس هم وخت شته او هم پراخ امکانات شتون لري چې د اسلام د سپیڅلي دین او افغاني ارزښتونو په رڼا کې په کورنیو او بهرنیو تګلارو کې د داسې بدلونونو رامنځته کولو نوښت ته عملي جامه ورکړل شي چې د ملت ملاتړ تر لاسه شي او د نړیوالې ټولنې د مخالفت مخه ونیول شي. تر هر څه د مخه د انجونو په زده کړو باندي ناروا ظالمانه او جابرانه بندیز ختم شي تر څو د ذهنیت جوړولو او د باور ترلاسه کولو لپاره ښه پیل ثابت شي.

لاندې اصطلاحات به مې اوریدل چې سیاست مخ او څټ نه لري. په سیاست کې همېشنۍ دوستي او تلپاتې دښمني نه وي، خو اوس نور هم پوه شوم چې زموږ په هېواد کې د سیاست په ډګر کې لوبیدل د ځان او یارانو لپاره د امتیازاتو ترلاسه کولو مبارزه ده چې سرې کرښې نه لري. مقدسات پکې له پښو لاندې کیږي. دروغ ویل او د ژمنو ماتول پکې د شرم خبره نه ده. په سیاست کې د تل لپاره ریښتونولي نیمګړتیا ده ، تل په خپله خبره دریدل او پاک نفسي د عزت نښې نه دي. په سیاست کې تور د همیش لپاره تور نه وي سپین د تل لپاره سپین نه پاتې کیږي.

پورته یاد شوي شاخصونه په نړیوال سیاست کې هم شته، خو متأسفانه زموږ په هېواد کې سیاست له یادو شویو شاخصونو څخه ورهاخوا نورې نیمګړتیاوې هم لري. له تیرو پنځو لسیزو راهیسې زموږ په هېواد کې د سیاست او سیاستوالو له سختو ناکامیو سره سره د غلطیانو نه ارزول او له ناکامیو څخه د زده کړو نه کول یقیناً زموږ په عصبي سیستم باندي د داسې ویروسونو برید ګڼلای شو چې د ولس د دردونو د درک او احساس کولو سینسرونه یې فلج کړي او له سیاستوالو سره د هغوی د کړنو په تړاو د احتساب کولو ولسي شعور یې اغیزمن کړی دی.

چیرته هم چې له مشرانو او له واکمنانو څخه د هغوی د کړنو او مسئولیتونو په هکله د احتساب غوښتنه ناروا او نا ښایسته کړنه او انتقاد له حاکم ګوند سره دښمني ګڼل کیږي، په ټولنیزو چارو کې د شفافیت دود له منځه ځي، هېواد او ولس په ړوند تقلید عادت او په کړو لارو باندې سر کیږي، ټولنه د پرمختګ کولو پرځای په معکوس ډول نزولي سفر ته داوم ورکوي او نتیجتاً یو ناورین ختمیږي او بل پیلیږي. لکه زموږ په هېواد کې د ناورینونو تسلسل رامنځ ته کیږي.

پرون له جګړو او فساد سره لاس او ګریوان وو او نن مو بیکاري او بیوزلي لاسونه را تړلي دي. پرون مو قانون درلوده خو دَ پلی کولو وړتیا مو نه لرله او نن د پلی کولو ښه وړتیا لرو، خو قانون نه لرو. پرون مو فساد هډوکي وراسته کړل او نن د خپلو ښځینه بچیانو په مخ بندو دروازو ته ناست او ژاړو. پرون د دموکراسي ترعنوان لاندې د ملت حقونه تلف کیدل او نن د اسلامي نظام ترچتر لاندې ملت محکوم دی.

متأسفانه زموږ اوسنی سیاسي بهیر په هر ځای او هره ناسته کې د واک او امتیازاتو د وېش په محور راڅرخیږي. سیاستوال خپلې نیمګړتیاوې د سمولو پرځای توجیه کوي، د کوما په حالت او په تراژیدي کې د ولس پرېښودل هم ورته د ملت بیوفائي ښکاریږي. د مقاومت، ازادي، ملي، دیموکراسي او خپلواکي په نوم له بهر څخه د بهرنیانو په لمسه بله لوبه پیلوي. بله بڼه خپلوي او د ولس د غولولو په موخه بل چال وهي. بله ډله د واک ترلاسه کولو هڅه کوي. همدغه ستر ارمان پوره کیدل او د ملت په اوږو باندې کیناستل هم په ولس باندې خپل احسان ګڼي.

موږ د تیر جمهوري نظام په پیل کې ولیدل چې سیاستوال د خپلو موخو او خپلو شخصي ګټو لپاره له هرې کرښې څخه واوښتل، د سوچه او نګه اسلامي نظام دعوه کوونکي له یرغلګرو سره یوځای د دموکراسي تر پوښښ لاندې راغلل او په افغانستان باندې حاکمان شول، د خمیني د لارې لارویانو د زنده باد دیموکراسي چیغه پورته کړه او د غرب مزدوران شول، د کارل مارکس او لینن عاشقان د امپریالیستې امریکا ملګري شول، رنګونه بدل شول، شعارونه بدل شول، مخونه بدل شول، نیرنګونه، لوبې او چالونه بدل شول، خو افغان ولس لاهم په خپلو لومړیتوبونو کې بدلون نه راوړي.

د دعوت رسنیز مرکز ملاتړي شئ!

زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي یا لویه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پیاوړی او راتلونکی مو ژغوري. له دعوت رسنیز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امریکایي ډالر یا یورو مرسته وکړئ - دا یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. که تاسو کولی شئ، د مهربانۍ له مخې مو زموږ سره هره میاشت په منظم ډول ټاکلې اندازه مرسته وکړئ .له تاسو مخکې له مخکې مننه!

به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!

زمان حمایت ما همین اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و یا کوچک، مطبوعات ما را تقویت و از آینده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/یورو حمایت کنید - فقط یک دقیقه طول می کشد. اگر می توانید، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنید . تشکر.

Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

یکتعداد افغانها مدعی اند که معاهدهٔ دیورند اصلاً امضأ نشده است!



به قلم دکتور نوراحمد خالدی

به گفته این گروه معاهدهٔ خط دیورند اصلا وجود ندارد چون سند امضا شده آن نشر نشده است و موجود نیست. در حالیکه پاکستان میگوید اصل سند امضاَ شده در آرشیف ملی پاکستان محفوظ است.

بهر صورت بر اساس ادعای این گروه چون معاهدهٔ خط دیورند وجود ندارد، بنابر آن منطقاَ کدام قضیهٔ خط دیورند هم وجود نخواهد داشت !

اگر قضیهٔ دیورند موجود نباشد پس این همه سر و صدا برای چیست؟ پس دعوای ما در مورد غضب مناطق پشتون نشین آنطرف خط دیورند با چه کسی است؟

همه می دانیم که مناطق دوطرف دریای سند شامل کشمیر، پنجاب، سند و شرق اتک بشمول پشاور قبل از ایجاد پاکستان از قلمروهای افغانستان توسط رنجیت سنگ جدا شده بودند..

آنچه را بعدا انگیسها در جنگ دوم افغان و انگلیس و بر اساس معاهدهٔ دیورند جدا کردند مناطق آزاد قبایلی یا فتا FATAبود . بنابر آن اگر ادعای این گروه را اساس قرار دهیم چه کسی را باید افغانستان به محکمه بین المللی عدالت یا ICJ بکشاند؟ دعوای ما چه خواهد بود؟ اینکه انگلیسها مناطق قبایلی را بزور و با حیله گرفته اند؟ اینکه رنجیت سنگ مناطق قلمروهای افغانستان را در جنگ و معاهده جمرود جدا کرده بود؟ این دو ادعا برای ICJ قابل شنیدن نیست زیرا کدام قانون و توافقنامه بین دو دولت را نقض نکرده اند..

لطفا" بدقت این مطلب را مطالعه کنید. ادعای اینکه اصلاَ چیزی بنام معاهدهٔ خط دیورند وجود نداشته افغانستان را در عمل از دعوای حق مالکیت بر سرزمینهای پشتون نشین جدا شده از افغانستان محروم میکند زیرا اگر معاهده دیورند موجود نباشد بنابر آن قضیهٔ معاهدهٔ خط دیورند هم موجود نخواهد بود !

اما اگر ادعای ما این باشد که معاهدهٔ دیورند بین عبدالرحمن خان و مورتمر دیورند در سال 1893 انعقاد یافته بود که بعد از مرگ عبدالرحمن خان تَوسط معاهدات 1905 حبیب الله خان و معاهدات 1919 و 1921 امان الله خان تایید گردید .اما چون معاهدهٔ سال 1921 کابل موقتی بود و مطابق ماده ١٤ معاهده مذکور صرف برای سه سال اعتبار داشت، این معاهده طبق فیصله لویه جرگه سال 1949 فسخ شد و بعد از آن کدام الزام قانونی ندارد. آنچه افغانستان از محکمهٔ بین المللی عدالت میخواهد آن است که دولت پاکستان وارث مناطقی نیست که شامل قلمروهای هند برطانوی نبودند. بر طبق معاهدهٔ دیورند یک منطقهٔ حایل یا Buffer Zoneمیان قلمروهای هند برطانوی و افغانستان بوجود امد که بنام مناطق قبائلی آزاد یاد می شدند. که بنابر تایید خود سر مورتمر دیورند و هم تایید انسایکلوپیدیا بریتانیکا شامل قلمروهای هند برطانوی نبودند و هدف ترسیم

خط دیورند هم بنابر تائید این دو مرجع ایجاد سرحد بین المللی نبود بلکه صرف یک ترتیب اداری برای حفظ امنیت و ادارهٔ مناطق آزاد قبائلی و تعیین حدود نفوذ دو جانب بود. بنابر آن پاکستان وارث این سرزمینها نبوده و نیست.

تقاضای افغانستان از محکمهٔ بین المللی عدالت این است که بر اساس معاهدهٔ خط دیورند پاکستان وارث مناطق قبایلی آنطرف خط دیورند نمیباشد بلکه افغانستان وارث اصلی این مناطق بوده باید به افغانستان برگردانده شوند..

دولت بریطانیا بعد از ایجاد پاکستان این موضوع را میدانست که پاکستان وارث مناطق آزاد قبائلی نمی باشد و افغانستان قانونا حق دارد آنها را به خاک خود ملحق نماید از طرق استفاده از زور نظامی و یا با مراجعه به محکمهٔ بین المللی. از همین جهت آمادگی های لازم قانونی اتخاذ کرد که چگونه در مقابل ادعای احتمالی افغانستان دفاع نماید. وزیر مستعمرات برطانیا از لوی ثارنوال بریطانیا یا وزیر عدلیه خواست تا یک مشورهٔ قانونی در این مورد تهیه نماید. چنین یک مشورهٔ قانونی در لندن تهیه شد. اما متاسفانه حکومتهای افغانستان به جز از اعتراض های میان خالی، اعزام ملیشه های قومی به باجور، و کوبیدن به دهل "دا پښتونستان زمونږ"، موضوع را به کدام محکمهٔ بین لمللی راجع نکردند و بدین طریق هفتاد و هفت 77 سال ضایع گردید و مناسبات افغانستان و پاکستان تیره و تار باقیماند و پاکستان هم تا دستش رسید به تخریب افغانستان و پی ثباتی سیاسی آن پرداخت.

د پیسو نړیوال صندوق (ایی . ایم ایف) د پاکستان څخه څه غواړی؟

لیکوال : استاد محمد نصیر حیدری

د پاکستان د مالیی وزیر د خپل دفتر څخه په ډیره خوښی اعلان وکړ چی د پیسو نړیوال صندوق به نوی پور پاکستان ته منظور کړی

پاکستان پرته له دی چی د خپل ولس راپرځیدلی اقتصادی وضعیت په پام کی ونیسی د پیسو د نړیوال صندوق سره دی هوکړی ته رسیدلی دی چی تعرفی به پخپل وخت زیاتوی. او ددی خبری منظوری شوی چی د پاکستان هیواد به راتلونکی کال د پیسو د نړیوال صندوق په شرایطو باندی ۲ دوه تریلیونه اضافی مالیه وضع کیږی چی دا د پاکستان په تاریخ کی لومړی ځل دی چی په دی کچه مالیه به وضع کیږی .

د پیسو نړیوال صندوق له پاکستان غوښتی تر څو د جون د میاشتی له پیل تر نیمایی کال پوری به د گازو بیی پورته کړی او د برق قراردادونه به له سره نوي کوي. ایی ایم ایف د پور په مقابل کی وخت نا وخت ځینی غوښتنی کړی دی چی په لاندی ډول یی ذکر کوو:

۱- په پترولو باندی د مالیی زیاتوالی: د پاکستان حکومت به په پطرولو باندی مالیه لوړوی. د پیسو نړیوال صندوق د پاکستان حکومت ته دا شرط وړاندی کړی دی تر څو په پطرولو باندی ۱۸٪ مالیه وضع کړی.

۲- په معاش لرونکو او بی معاشه خلکو د مالیی زیاتیدل: د پیسو نړیوال صندوق له پاکستان څخه غوښتی تر څو په معاش لرونکو او بی معاشه خلکو مالیات لوړ کړی. ایی ایم ایف وایی که چیرته پاکستان په دی غوښتنه عمل وکړی نو

د ۵۰۰ اربو څخه زیات عواید ترلاسه کیدلای شی او په داخلی ناخالص عوایدو کی ۰.۵فیصد زیاتوالی راتللی شي.

۳- د گازو د بیی لوړوالی: چی دد پاکستان حکومت د پیسو نړیوال صندوق سره په دی هم توافق کړی دی چی د گازو نرخونه به پورته کوی همدا علت دی چی د سویی سدرن گاز کمپنی د اوگرا اداری ته درخواست لیږلی تر څو په راتلونکو میاشتو کی د گازو نرخونه پورته کړی همدا علت وو چی د اوگرا کمپنی د فبروری د میاشتی څخه د گازو په قیمت کی ٦٧ ٪ زیاتوالی تصویب کړ. د پاکستان حکومت داسی وایی چی په گازو باندی د مالیی په زیاتوالی سره به ۴۰۰ میلیارده روپی چی ۱.۴۲میلیارده دالر کیږی اضافه رامنځته شی او بیا به د دولتي گاز سکتور د کوم زیان سره مخ نه شی.

۴- د برق د نرخونو لوړوالی: د پیسو نړیوال صندوق د پاکستان د حکومت څخه غوښتی دی چی د برق د سکتور ۲۳۷۴ اربه گردشی پور دی منجمد کړی او د دی پور د تادیی کولو لپاره دی لس کلن پلان جوړ کړی.

۵- په میاشتنی تقاعد د مالیی وضع کول: د پیسو نړیوال صندوق د پاکستانی چارواکو څخه غوښتی دی چی نوی بیل آوټ پروگرام د تقاعد اصلاحاتو ته اړتیا لری. که چیرته د میاشتنی تقاعد مقدار د یولک کلدارو څخه زیات وی نو په دی صورت کی باید په دی مقدار مالیه وضع شی .

٦- د اسعارو د تبادلې په بازار کی اصلاحات : د پیسو نړیوال صندوق د پاکستان څخه غوښتنه کړی تر څو د بازار د لاری

د تبادلی نرخ غوره کړی تر څو د بهرنیو حسابونو په توازن او د زیرمو په جوړولو کی مرسته وکړی . دا په بازار کی د روڼتیا او انعطاف غوښتنه کوی . د پیسو د نړیوال صندوق د شرایطو د پوره کولو لپاره د پاکستان مرکزي بانک د پاکستان د فوځ په مرسته په دی برخه کی د تور بازار عملیات بند کړل.

۷. د فساد په ضد کاری ځواک رامنځته کول: د پیسو نړیوال صندوق د پاکستان له هیواد غوښتی چی که څه هم مالیات لوړ کړی ، د برق قیمت لوړ کړی او مصارف کم کړی خو په دی یی هم ټینګار کړی چی د پاکستان هیواد باید د فساد په ضد یو کاري ځواک رامنځته کړی.

۸- په درملو باندی د مالیي لوړول: د پیسو د نړیوال صندوق په تجویز د پاکستان وفاقي حکومت پریکړه کړی تر څو په درملو باندی نوری اضافی مالیي وضع کړی. د وفاقي حکومت په حکم د ۱۰ – ۱۸ فیصدو پوری په درملو د مالیي د وضع کولو امر شوی دی. او د ضروری درملو پرته ستری کمپنیانی کولای شی چی د درملو قیمتونه پورته کړی . د پاکستان حکومت په ۱۴٦ قلمه ډیرو اړینو درملونو د قیمتونو د پورته کولو پریکړه کړی. خو د چارو کارپوهانو ددی اندیښنه څرګنده کړی چی د درملو اخیستل به د خلکو د خرید د قوت څخه ووځی او د یو شمیر خلکو ژوند به اړینو درملو ته د نه لاس رسی له کبله د ستر ګواښ سره مخ شی.

۹- د بانک د سود د نرخ زیاتوالی: د پیسو د نړیوال صندوق سره د تفاهم له کبله د پاکستان مرکزی بانک د ۲۰۲۳ میلادی کال د جون په میاشت کی د بانکی سود نرخ ۲۲ ٪ ته لوړ کړ خو د اپریل میاشت کی بیا د پاکستان مرکزي بانک پخپله غونډه کی مخکی له دی چی د پیسو د نړیوال صندوق سره د دری میلیارده ډالرو توافقنامه پای ته ورسیږی د سود دا نرخ ثابت وساته.

د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډیره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړی کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه $/10 ډالر یا په ډیرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکی پته: DNB Bank AC # 0530 2294668
له ناروی بهر د نریوالو تادیاتو حساب:NO15 0530 2294 668
د ویپس شمېره: Vipps: #557320

Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

د زراعت محوره اقتصادي پراختیا ستراتیژۍ

د میکانیزه زراعت او اوبو د مدیریت لومړیتوبونه

آیا د افغانستان اوبه د ستراتیژیکه وسلې اعتبار لري؟

محمدآصف ننگ

د اقتصاد خپرندوی مشر

د ۱۴۰۲ کال د کب میاشت، له پکتیکا څخه

د زراعتي اقتصاد په معاصرو تعریفونو کې د ودې او رشد شاخصونه Indicators دا دي چې، اولاً د هېواد زراعت باید میکانیزه شوی وی، عنعنوي زراعت په صنعتي زراعت او د محصولاتو ډول او د محصولاتو تنوع غالباً تجارتي بڼه غوره کړې وي. بله معنا یې دا ده تر څو چې د یوه هېواد زراعت او محصولات د صنعت په خدمت کې نه وي واقع شوی، یعني زراعتي توکې او محصولات د کرنیزه صنایعو د خامو موادو په حیث نه وي تبدیل شوي، زراعتي وده اصلاً وجود نلري.

په افغانستان کې نه زراعت میکانیزه شوی او نه هم تر اوسه زمونږ محصولات د زراعتي صنایعو د خامو موادو په حیث ندي راغلي، مثلاً پنبه د نساجۍ د کارخانو مواد ندي، له جواري او لمرپرسته ګلانو د غوړو فابریکې نه چلیږي، له میوه جاتو اړوند د مربا یا د جوس د تولید کارخانې نه چلیږي. مګر له حیواني وړیو او څرمنو د قالین، ګیلم او چرمي صنایعو کارګاوي چلیږي، یو مقدار د لبنیاتو کارخانې او فارمونه د وطني تولیداتو په توکو پیل شوې اما لاهم په صنعتي رونق کې زمونږ د خامو محصولاتو ونډه د حساب وړ نده.

عین قاعده په معادنو کې ده، معنا دا چې تر څو پوري چې د هېواد طبیعي شتمنۍ، معادن او

منرالونه زمونږ د تولیدي صنایعو د خامو موادو په شکل استخدام نشي، صنعتي اقتصاد ندی ایجاد شوی.

بیرته د ځمکو او زراعت بحث ته راګرځم، ځمکه یو لوی نعمت دی، ځکه چې د انسان د خوړو خوندیتوب یا غذایی مصئونیت له همدې څخه تامینیږي، د بشر حیات او ممات په خاوري پوري تړلی، په افغانستان کې د اقلیم په مرحمت، څلور مساعد فصلونه، خوږې اوبه، متنوع هوا، کشتمندي خاوره او مناسب چاپیریال بلکل د کرنیزو فعالیتونو او تولیداتو لپاره مساعد دي، ډیر زیات هېوادونه دا نعمتونه نلري، ډېر هېوادونه ریګي صحراوي لري، تروه سمندرونه لري، بی حاصله ځنګلونه لري، یا نامساعده ګرمه یا هم نامساعده سخته سړه هوا لري چې کرنې ته ملتیا نه کوي. معنا دا چې زمونږ د هېواد وګړې او دولتونه په خپل ټول ماضي کې ددې نعمتونو په ارزښت او استعمال نه دي پوه شوي، او لاهم پدې پرېمانه نعمتونو کې کافي تحرک نه لیدل کیږي او په دومره عظیم کرنیز ظرفیت کې زمونږ ولس وږی او فقیر دی، بې وسه او ناتوان دی؛ ښایې د نادانۍ او جهالت په سبب وی چې له دوو پېړیو زیات وخت مو په جګړو او منازعو کې تیر کړی او دغه غني او مالامال وطن د غربت په تر ټولو ښکته کرخې ولاړ دی او وګړې یې د نړۍ خیراتونو ته سترګې نیولې...!!

مګر لوی سوال دا دی چې هغه کوم کمبود دی چې په یوه جغرافیا کې دي، سطحي، ورښتي او جاري اوبه پرېمانه وي، خاوره دې کرښت ته مساعده وي، هوا او اقلیم دې مساعد وي، وګړې دې روغ، تنومند او بېکاره وي او بیا دې هم وږي، محتاج او پرېشانه وي؟؟

همدې سوال ته په ځواب کې تلاش کوم چې پدې مبحث کې پر هغو خلاګانو او ظرفیتونو تمکین وکړم چې ډکول او موثره کول یې کولی شي زمونږ په ژوند او د هېواد په خودکفایی کې اساسي نقش ولوبوي، زمونږ ملي ثبات لاغښتلی کړي، د غربت او فقر بڼه په غنامندۍ تبدیله کړي او هم مو د سیمه ییزه اتصال په چوکاټ کې د یوه ارزښتمن شریک غړي په حیث، د آسیا په زړه کې او د مجاورو هېوادونو په ردیف کې راته مفید تبارز او د قدر وړ موقعیت راکړي...!

د پورته سوال لنډ ځواب دا دی چې د مدیریت، رهبرۍ او اقتصاد محوره برنامو او پلانګذارۍ خلا ده چې کلونه کلونه یې مونږ د خپل رزق تر مخ وږي ساتلې یو...!

زمونږ ځمکو او زراعت ته ورپېښ ګواښونه

د افغانستان دځمکو د اطلاعاتي بانک او هم د طالبانو د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په استناد، په تیرو دوو لسیزو کې په افغانستان کې ۷ میلیون جریب ځمکه د غاصبینو تر نظر او تیررس لاندې وه چې پدې کې یې څه د پاسه ۱.۲ میلیون جریب ځمکه (مزروعي او غیر مزروعي، ښاري او دهاتي) عملاً د زورواکو او غاصبینو لخوا غصب شوې ده.

اسلامي امارت په کال ۲۰۲۲ کې ۴۵۴ زره جریب غصب شوې ځمکه له غصب خلاصه کړې ده، ددې کار لپاره یې ځانګړی مقتدره کمیسیون ورته ټاکلی چې په

جدیت سره یې د مخنیوې او دوباره اعادې په برخه کې فعالیت کوي.

غصب او په سلطاني ځمکو ناقانونه تصرف یواځنی مشکل ندی چې د ځمکو په هکله یې حکومت بوخت او پریشانه ساتلې، علاوه پر دې نور ګڼ مشکلات او آفتونه دي چې ځمکه یې له خطر سره مخامخ کړې ده...هرکال په سلګونو جریب ځمکه د سیلابونو خوراک ګرځي، په سلګونو زره جریب زراعتي کشتمندي ځمکي د استوګنې په ساحو تبدیلیږي، او پدې توګه د ښارګوټو د ایجاد او د غیرپلاني استفادو په غرض له زراعتي مقصد وځي... د ننګرهار سرخرود او بهسود هغه زراعتي ټرانګې وي چې اوس په ښاري ناحیو تبدیلې شوې، د کابل ښار شنه زراعتي کمربندونه ختم شوی، په هرات، غزني، کندهار، مزار او نورو ولایتونو کې پراخې زراعتي ځمکې خپل وصف استوګنیزو ساحو ته اړولی...!

د پرله پسې مزمنو وچکالیو په سبب په پراخه پیمانه خړوبه ځمکې شاړې شوې، د ځارویو څرځایونه وچ شوې او په سلګونو زره مواشي سره له شپنو او کوچیانو بل وطن ته کډه شوې دي...!

د افغانستان د ځمکو معلومات

د افغانستان د ځمکې د اطلاعاتي بانک او د خوراک او کرنې د نړیوال سازمان FAO د اطلاعاتو له مخې د ټول هېواد په کچه د موجوده ځمکي مساحت ٦٥٢.٢٢٥ کیلومتر مربع (٦٥.٢٢ میلیون هکتار) دی چې (٦٨٪) یې غرونه او دریابونه تشکیلوي، او پاتې نوره یې:

٩.٦ میلیون هکتاره (١٢٪) یې زراعتي کرنیزه ځمکه ده، (٤.٥٪) یې علفچر یا علفزار ځمکه ده، ١.٩ میلیون هکتاره (٧.٢٪) یې ځنګلونه او څه د پاسه ٨ میلیون هکتاره یې (٩.٤٪) مسکوني زیست لاندې راغلې بر علاوه یو پر شپږم برخه خاوره غیرمزروعي دشتي او ریګزاره بیابانونه دي.

د افغانستان د زراعي ځمکو همدغه ٩.٦ میلیون هکتاره په دریو کټګوریو تقسیم شوې دي:



۳.۵ میلیون هکتاره یې سیرآبه ځمکې دي، ۴.۵ میلیون هکتاره یې للمي یا باراني ځمکې دي او پاتې څه کم دوه میلیون هکتاره یې کمآبه ځمکې دي، چې په مجموع کې تر زراعت لاندې خړوبیدونکې ځمکه څه کم څلور میلیون هکتاره دی. په کال ۲۰۱۰ کې پر ۳.۱ میلیون هکتار ځمکو مختلف سبزیجات او پر څه کم ۲ میلیون هکتاره غنم کرل شوې و، پدغو کلونو کې ورښتونه زیات و او ځیني غیرمزروعي دشتې او تپې هم په للمي غنمو کرل شوې وی، په همدې کال کې د غنمو حاصلات ۴.۵ میلیون ټنو ته رسیدلې و، یعنې د هېواد د وګړو ۵۵٪ ضرورت او تقاضا یې بشپړه کړې وه...د یادوني وړ ده چې د ۳۸ میلیون وګړو لپاره هرکال ۹-۸ میلیون ټنه غلې دانې ته اړتیا ده خو متاسفانه پدې وروستیو کلونو کې د وچکالیو او اقلیمي بدلون په سبب مونږ هر کال یواځې ۲-۳ میلیون ټن (۳۵٪) غله دانه تولیدولی شو، پاتې ۷۰-۷۵٪ غله یا ۴-۶ میلیون ټن غله راته کمیږي چې دا د غربت د پیژندنې او ارزوني یو عمده شاخص دی.

معنا دا چې لاهم د کرنې وړ ۴-۵ میلیون هکتار ځمکه وچه او بې حاصله پاتې ده، البته د دولت د مرکزي پلان او د کرنې وزارت د لس کلن پراختیایي پلان له مخې باید هرکال تر ۵۰ زره هکتاره غیرمزروعي ځمکه د دولتي پروژو او بودجوې پلان له مخې او دیته ورته اندازه یې د خصوصي سکتور او فردي تشبثاتو په مشارکت مزروعي وګرځول شي، تر څو په راتلونکې لسیزه کې د هېواد ټولو وګړو ته غذایي مصئونیت ایجاد شي، د فقر کچه په مراتبو راښکته شوې وي او د غلې اړتیا کاملاً مرفوع شوې وي...!

په کال ۱۳۸۸ کې د ځمکې او اراضي ادارې مشر، ښاغلي شهیر احمد شهریار ویلې و چې د پلان له مخې باید هر کال ۲۵-۵۰ زره هکتار ځمکه د کرنیزه مقاصدو لپاره خصوصي تشبثاتو او داوطلبانو ته توزیع شي، دا کار د تشویقي اجارو پر بنسټ د ۳۰، ۶۰ او ۹۰ کلونو لپاره، د معینو شرایطو پر اساس، پلان شوی و،...ښایی دولتي بروکراسۍ، پلاني نواقص او تخنیکي نیمګړتیاوې، جګړې، بودجوي خنډونه، ظرفیتي کمبود او د غاصبینو مزاحمتي فعالیتونه هغه څه و چې دولتي سکتور پکې خپلې ژمنې نشوای عملی کولی...!!

په روان ۲۰۲۴ کال کې د کرنې سرپرست وزیر، ښاغلي عطاالله عمري اعلان وکړ چې په پلان کې لري چې د جلال آباد د کانالونو په مربوطاتو، د کمال خان بند، قوش تیپې او سلما بندونو په اطرافو کې د ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ او ۲۰۰۰ جریبو ځمکو د توزیع تړونونه ترسره کړي، چې دا ډیر د قدر وړ ګامونه دي...!

د افغانستان د مالدارۍ مختصره معلومات

د FAO ادارې یا Food and Agriculture organization د ۲۰۰۳ کال د احصائي له مخې ټول ټال په افغانستان کې ۳۶.۷۰۰ کلي او باندې دي چې د مالدارۍ له پلوه نسبتاً په ضعیفه وضعیت کې دي، حتی د ۱۹۸۱ کال په تناسب پکې مالدارۍ دوه چنده کمه شوې، مثلاً په ۱۹۸۱ کې په ټول افغانستان کې ۱۸ میلیون میږي موجود وي، په کال ۱۹۹۵ کې ۲۲ میلیون میږي یا ګډي موجود وي خو په ۲۰۰۳ کې د موجوده میږو دغه شمېره ۸ میلیون ته راښکته شوې. همدارنګه د جګړو په کلونو کې تر ۵ میلیون ډېرې میږي، اوښان او اوزې

له هېواد څخه د پاکستان طوی، کشمیر او د ایران بلوچستان او نورو ښارونو ته واوښتې...

اوس مهال په افغانستان کې ۳.۷ میلیون غواوي، ۸.۸ میلیون میږي، ۲.۳ میلیون اوزي، ۱۴۰ تر ۱۵۰ زره آسان، شاوخوا ۱.٦ میلیون مرکب، ۱۸۰۰۰ اوښان او ۱۲.۲ میلیون چرګې، هیلۍ او مرغابۍ موجود دي (البته دغه ارقام په نوسان کې دي).

د افغانستان د اوبو لنډ معلومات

افغانستان په شیرازه آبي موسم کې ۱٦۳ میلیارد مترمکعب د ورښتونو اوبه لري، ۵۷ میلیارد مترمکعب جاري یا سطحي اوبه لري او ۱٦ میلیارد مترمکعب زیرزمیني اوبه لري، د سطحي اوبو په برکت په مجموع کې افغانستان ۱۸۰ واړه او غټ دریابونه او رودونه لري چې ځینې یې په پنځو حوزو کې شامل شوي او ځینې رودونه لاهم مستقل دي:

اول، د هیرمند یا هلمند دریابي حوزه، چې له ۴۱ فرعي رودونو او دریابچو څخه آبریزونه پکې جریان لري

دویم، د کابل دریابي حوزه، چې له ۳۴ رودونو تشکیل شوې

دریم، د شمال حوزه، چې له ۱۷ دریابچو او رودونو سرچینه اخلي، د افغانستان د جاري اوبو

۸۰٪ یې د هندوکش له غرونو تامینیږي...

څلورم، غربي یا د مرغاب هریرود حوزه چې له ۱۸ دریابچو او رودونو جوړه شوې

پنځم، د آمو دریاب یا پنج حوزه چې له ۲۲ جهیلونو او رودونو تشکیل شوې

د اوبو د مدیریت، هغه اساسي لومړیتوب چې تیر جمهوریت په جدیت سره درلود، په تیرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر واړه لوي، بندونه، آبګردان میلیون هکتار زراعتي ځمکو د حاصلاتو ګټه کولی شي د شمال په شپږو ولایتونو کې د غربت او خوارځواکۍ کچه کاملاً راښکته کړي او په زرګونو

بندونه، چکډیمونه او ګڼ شمېر کانالونه ورغول شول، سلما، کمال خان، بخش آباد، شاه او عروس او ځیني مهم بندونه او کانالونه لکه د لغمان شاهي کانال، قوش تیپه، مارجه کانال، نهر سراج او ګڼ نور د اوبو رسولو رودونه ترمیم یا بیا ورغول شول...تر کال ۱۳۹۹ پورې په مجموع کې ۱۳۸۰کیلومتره کانالونه نوي جوړ شوي چې له فیضه یی ۹۷ زره هکتار شاړه ځمکه جدیداً په خړوبه کشتمندي ځمکو ور اضافه شوې ده.

د ۱۹۷۰ کال د احصائیو پر بنسټ د کوکچه دریاب (چې د آمو سیند له معاونینو څخه دی) که چیرته یې اوبه مهار او مدیریت شي نو یواځې په شمالي ولایتونو کې د یو میلیون هکتار ځمکي د خړوبول ظرفیت سره ایجادیږي، طبعاً چې د یو کاري فرصتونه او صنعتي کاروبارونه ورسره پخپله اقتصادي چرخه کې په تحرک راولي.

متاسفانه د اوبو د نه مدیریت په سبب

افغانستان په اوسط ډول له ۷۵ میلیارد مترمکعب اوبو څخه یواځې له ۳۰٪ اوبو استفاده کوي، پدې کې یې یواځې ۱۲-۱۸٪ په کرنه کې استعمالیږي...پاتې ۷۰٪ جاري اوبه یا په بل عبارت هرکال زمونږ ۴۲-۴۳ میلیارد مترمکعب بهداره اوبه د افغانستان له کنترول وتلې دي چې زیاته برخه یې په بلاعوضه توګه پاکستان، ایران او د منځنۍ آسیا هېوادونو ته واریز کیږي. د اقتصادي محاسباتو له مخې که افغانستان خپلې اوبه مهار او د حقآبي له برخې ماسیوا د ګاونډیانو د اړتیا وړ اوبه د قرارداد له مخې وپلوري، هرکال د اوبو د

عوایدو له مخې شاوخوا ۲۵ تر ۳۰ میلیارد ډالر عواید ترلاسه کولی شي چې درې ځلي زمونږ د مالي کال له بودجوي اړتیاوو مازاد رقم دی...!

د میکانیزه زراعت لپاره څو اساسي لومړیتوبونه

لکه چې پورته اشاره وشوه د افغانستان د زراعتي ځمکو حجم چندان زیات ندی، پدې کې چې بیا کومه ځمکه د کرني قابلیت لري د هغې تر نیمایی کمه یې تر کرښت لاندې ده، متاسفانه د مسلسلو وچکالیو په سبب کرنیزې ځمکې او هم یې د حاصلاتو کچه کال په کال کمیږي.

بل دا چې په تیرو دریو لسیزو کې د جګړو په سبب د ډیرو پراختیایی کارونو پرمختګ کمزوری پاتې شوی، هکذا د زراعت پراختیا هم شدیده صدمه لیدلې، دولتي انکشافي پلانونه له پلان سره سم تطبیق نشول، د کورنیو جګړو په سبب د پانګې او پانګوالو فرار، د صنعتي او تجارتي ګټو جذابیت او هم د کرنیزو پیداوارو د نرخ ټیټوالی ددې سبب شوی چې بزګر طبقه له خپل سکتور هغو نورو خدماتي او کاروباري (تجارت او سوداګرۍ) ساحې ته مخه کړي.

د ګڼو دولتي ځمکو د نه توزیع او د دولتي پلانونو د نه موجودیت په سبب د مړو یا شنډو ځمکو د احیا کولو پروګرام بی تطبیقه پاتې شوی، د محصولاتو په هکله د علمي څېړنو فقدان، د ترویجي فعالیتونو محدودیت او له مدرنه مشینریو څخه زمونږ د بزګرانو لیروالی او د بزګرانو د حمایت لپاره د کرنیزو قرضونو او سبسایدي نه موجودیت په او مجموع کې ځیني نور عوامل (لکه د مخدره موادو کاروبار) ددې باعث شول چې زراعتي انکشاف او د کرنې میکانیزه کیدل عملي نشي.

د پورته ذکر شویو مسایلو تر څنګ د تخمونو او بذرونو په هکله د بیکاره ورایټیانو تسلسل او تداوم او له بده مرغه د اصلاح شویو تخمونو د ډیر محدود استعمال له کبله زمونږ د کرنیزه محصولاتو ثمر او حاصلات ډیر ناچیزه دي، مثلاً:

په افغانستان کې له یو جریب ځمکې ۱۳۰-۳۰۰ کیلو یا په بل عبارت له یو هکتار ځمکې ۱.۳ ټنه غنم په لاس راځي، په پاکستان کې د اصلاح شویو بذرونو د ترویج له برکته له یو هکتار ځمکې ۴.۹-۵.۵ ټنه غنم په لاس راځي، په هندوستان کې ٦ ټنه او په آلمان او فرانسه کې ۸-۷ ټنه حاصلدهي لري.

که څه هم په کال ۱۳۹۳ کې د کرنې وزارت د مرستیال، مرحوم سلیم کندزی مدعي و چې د ترویجي اصلاحي تخمونو له برکت په تجربوي مزارعو کې له یو جریب ځمکې ۳ ټنه غنم خرمن شوې دي.

دا یو ډیر ساده مثال دی، ټوله نړۍ د اصلاح شویو تخمونو په ترویج بوخته ده، دغه تخمونه په هرې ورایټي کې، د هر ډول کرنیزو محصولاتو، سبزیجاتو، غله جاتو، حبوباتو او میوو آزمایل شوي اصلاحي تخمونه په بازارونو کې مهیا دي، مګر متاسفانه د ترویج کار او پدې برخه کې د زراعتي سکتور ماموریت د تحسین قابل ندی. د کرنې وزارت او شریکان یې باید پدې عصر کې د افغانستان بدوی، کلاسیکه او پخوانی سیستم او هم مروج عنعنوي کرنیزه میتودونه بدل او په عصري بڼه یې واړوي، دا (مسلکي زده کړې، د مدرنه

میتودونو کارول او د اصلاح شویو تخمونو ترویج) د زراعتي میکانیزه کیدو لومړنۍ پېل دی.

د میکانیزه زراعت لپاره د هدفونو ټاکل او د شرایطو مهیا کول

د دولت وظیفه ده چې مستقیماً د حکومتي پلانونو له مخې او هم د خصوصي سکتور او دولتي مشارکت PPP پر بنسټ او هم کولی شي د مضاربت، مساقات او یا د بانکي پانګونې له مخې د افغانستان موجوده بدوي عنعنوي زراعت په عصري او میکانیزه زراعت تبدیل او ددې مقصد لپاره پر ملي طرحو او پلانونه کار ترسره کړي، چې ځیني لومړیتوبونه یې دا دي:

1. بزګرانو ته د هغوي **په مزارعو کې د مسلکي ټرننګونو**، علمي مشورو او تخنیکي زده کړو پروګرامونه برابرول،
2. **د مدرن ماشینرۍ او عصري تکنولوژۍ** مهیا کول او استخدام،
3. **د بکر او بائر ځمکو د توزیع** منظم پلان،
4. **د بازار موندنې** لپاره د عصري بازارچو، دوشنبه بازارونو، جمعه بازارونو او هم د بندري مشترکه بازارونو ایجادول،
5. **د زیربنایی خدمتونو د پراختیا لپاره پلانګذاری**، لکه د سړو خونو جوړول، د چک ډیمونو، سربندونو، کانالونو او له مزرعي څخه تر سړک د فرعي لارو جوړول باعث کیږي چې محصول په آسانه، آرزانه او پریمانه توګه مستهلک یا مصرف کوونکو ته ورسیږي.
6. **د زارعتي بانکونو او تعاوني صندوقونو ایجاد**، او بیا په آسانه، طویله او ساده شرایطو بزګرانو ته پورونه او زراعتي تجهیزات مهیا کول. د داودخان په جمهوري دوره کې او آن د ډاکټر نجیب تر سقوط

پوري کرنیزو بانکونو ګټور فعالیتونه درلودل، بیاځلي په کال ۱۳۹۵ کې د افغانستان د کرنې انکشافي صندوق یا ADF- agriculture Development fund، د ډاکټر ایمل آرمان په ریاست ایجاد شو، دغه صندوق د شاوخوا ۱۴زره بزګرانو د حمایت په مقصد، په دوو دریو مرحلو کې ۱.۸ میلیارد افغانۍ پورونه هم توزیع کړل چې د ۳-۵ کلونو پورې باید بیرته راټولې شوې وای... بیا ځلي په کال ۱۴۰۱ کې د طالبانو لخوا همدغه موډل دوباره، د کرنې د پراختیا وجهي صندوق، په عنوان ایجاد شوی چې ایجاب کوي په هر اقتصادي زون کې دغسې یو بانک یا صندوق فعالیت ولري...تر څو کروندګر توانمند شي او زیاتو کرنیزو فعالیتونو او پراختیا قابلیت پیدا کړي...که مالي او فني حمایتونه ترسره نشي موجوده ملامتونکی وضعیت به ددغه سکتور پاتې قشر لازیات مایوس او له خپل کاروبار په شا کړي...

7. **د اوږد مهاله قرضو** په ملاتړ به دهاقینو ته د مدرنه کرنیزو ماشینریو او د محصولاتو د زیاتیدو لپاره له میکانیزه شویو هېوادونو د عصري تکنولوژۍ مهیا کول آسانه شي، پدې توګه به کرنیزه زحمت سرعت پیدا کړي او له بلې خوا به د بکر او بائرو اضافي ځمکو کرښت او خرڅوبیدو ته لاسرسۍ پراخ شي.

8. د اوبو له ضایع کیدو مخنیوی او په ځای یې **د قطره یې یا ډرپنګ سیستم ایجادول** او مروجول

9. په ټولو ولایتونو، کلیو او باندو او مزارعو کې **ترویجي خدمات** او د اصلاح شویو تخمونو جاګزین کول

10. **د ګران بیه بذرونو تکثیرول** او د تجارتي او صنعتي محصولاتو پراخول

11. په ځینو ساحاتو کې **د دهقانانو حمایت** او هغوی ته د سبسایدي نظام بیا فعالول

12. د رقیبو وارداتي محصولاتو په وړاندې په ځانګړې توګه د ثمر په وخت کې **د ملي محصولاتو ملاتړ** او په بندري ګمرکونو کې د حمایوي تعرفو وضع کول تر څو بزګران له ډمپنګ مصئون پاتې شي او هم یې رقابتي توان برقرار پاته شي.

13. **په سیمه ییزه او بین المللي کچه ملي محصولاتو ته بازار موندنه** او د شریکانو راجلبول.

14. د کروندګرو او سوداګرو ترمینځ **د کوپراتیفونو او کرنیزو اتحادیو** له لارې د همغږۍ رامنځته کول

15. د تازه او وچوو میوو د پروسس او بسته بندیو په برخه کې د مینځګړي سکتور رامینځته کول

16. په ګرمسیره سیمو کې **د سړو خونو یا کول ستوریجونو جوړول**، په ځانګړې توګه په بندري بندرګاوو او سرحدي صادراتي ټېسنونو او ټرانزیتي هډو کې د تازه میوو او

سبزیجاتو لپاره؛ تر څو د صادریدونکي توکي محفوظ او کاروباریان یې د خپلو توکو حکمیت په لاس کې ولري او د سرحدي شخړو په سبب یې مال تلف نشي او دوی خساره مند نشي.

17. **د تجارتي او صنعتي تخمونو او هم د کیمیاوي یا دارویي بوټو ترویج**، لکه د زعفران، هنگ، شرین بویه، اسپند، ایارلنگ، موم لایی، اسفرزه، خاکشیر، ساکودانه، د کوکنارو تخم، فیروزه، زیره، پنبه دانه، زغر، کنجد، نیشکر، لبلبو، زیتون، گل آفتاب پرست، جواری او داسې نور... د یادونې وړ ده چې په دنیا کې ۳۲۰زره ډوله کیمیاوي یا دارویي گیاه او بوټي وجود لري چې له هغې جملې ۲۵ زره ډوله یې په افغانستان کې موجود دي، تر اوسه یې څه د پاسه ۵۰۰ ډوله پیژندل شوي، ۳۰۰ ډوله یې د استفادې وړ او ۴۵ ډوله یې تجارتي شوي دي... له نیکمرغه د دولتي اهتمام او د خصوصي سکتور په همکارۍ افغانستان د زعفران په بازار کې د ۱۷۰ هېوادونو په کتار کې دویم مقام لري، هرکال د ۱۸۰ میلیون ډالرو په ارزښت زعفران د نړۍ هېوادونو ته صادریږي.

18. **په غرنیزو (لم یزرع) ساحاتو کې د باغدارۍ ترویج** او په همدې مقصد د ځمکو د توزیع ځانگړی پلان عملي باید عملي شي، د میوو بیه پنځه ځلي تر سبزیجاتو لوړه ده، ځکه نو د باغدارۍ د پراختیا ستراتیژیکه پلانونه چې الحمدلله ترتیب شوي باید په عملي میدان کې یې تطبیقي اړخ ته اهتمام وشي.

19. **کرنه د سیمه ییزه اتصال په ابزارو تبدیلول**،

پدې برخه کې د افغانستان له گاونډیانو، ایران، پاکستان، هندوستان، ترکیه، د منځني ختیځ یا خلیج او هم د منځنۍ آسیا، چین او روسې سره د دوه اړخیزو او گڼ اړخیزو شراکتونو او همکاریو ایجادول، لکه څنگه چې په تیرو لسیزو کې افغانستان د غنمو د کمبود لپاره له قزاقستان او پاکستان سره تړونونه درلودل او آن تر محصول د مخه به یې اړوندو

هېوادونو ته پیسې په اډوانس یا پیش پرداخت په توګه ورکولې، عین تړونونه باید له خپلو دهاقینو سره ترسره شي، له دې سره به له یوې خوا بزګران خپلې کرنیزې اړتیاوې مهیا کړی شي او له بلې خوا به تر محصول د مخه خپل کاروبار تهاهتمام لازیات او په مسوولانه ډول ترسره کړي.

20. **له فقر سره د مبارزې او هم د مزمنې بیکارۍ د مهار کولو په مقصد** دې دولت د مړو یا شنډو ځمکو د احیا کولو (احیا الموات) او د غیر مزروع ځمکو د زراعتي ګرځولو په سلسله کې دې ددغو شاړو ځمکو د توزیع پلان (د اجارې یا مشارکت پر اساس) ترتیب کړي، بخصوص په هغو سیمو کې چې د لویو بندونو او سترو کانالونو پروژې جریان لري، مثلاً د قوش تیپې په اطرافو، د شاهي کانال، د جلال آباد د فارمونو په شاوخوا، د کجکي بند، د نغلو بند، د پکتیکا د سرده بند، د پکتیا د مچلغو بند، د هرات د پاشدان بند، د سلما بند په مسیر، د کندهار د ډاله او ارغنداب بندونو په شاوخوا، د چک بند، د بامیان د امیر بند، د کمال خان او بخش آباد بندونو په مسیرونو او هکذا د کوکچه او نورو ساحاتو کې...دې د عادلانه توزیع پلانونه ترکار لاندې ونیسي.

د میکانیزه زراعت یو بل رکن مالدارۍ ده

افغانستان د غوښې ٥٦٪ کمښت له ګاونډو هېوادونو بخصوص له پاکستان پوره کوي، که څه په وروستیو کلونو کې د چرګانو فارمونو په شدت سره پراختیا موندلې، د هېواد په اکثریت ولایتونو کې د چرګانو فارمونه او هم د کورنیو فارمونو موجودیت وسیله شوی چې لدې بابت افغانستان ځان بسیاینې یا خودکفایی ته ورسیږي، تر ۱۲ میلیون زیات جرګان د هېواد د ننه پرورش او مصرفیږي.

اما متاسفانه د غواوو او پسونو د پرورش په برخه کې ډیر شدید کمبود موجود دی، په مقایسوي ډول:

په دنمارک یو دهقان له ۱۰۰ تر ۴۵۰ غواوې لري ددې هېواد د غواوو شمیر په ۲۰۲۰ کې ٥.٦٥ میلیون ښودل شوی، خو په افغانستان کې یو نسبتاً معتبر دهقان درې یا څلور غواوې لري، دنمارک هرکال ۴.۵ میلیارد لیتر با کیفیته شیدې تولیدوي او نیمې نړۍ ته یې صادروي.

په افغانستان کې۳.۷ میلیون د شیدو غواوې موجود دي، چې د حاصلدهۍ له پلوه د ۳۰٪ نفوس اړتیا هم نشي پوره کولی، هر کال د ۱۰۰ ګونو میلیون ډالرو په ارزښت تازه او وچې شیدې او نور لبنیات هېواد ته راواردیږي، په داسې حال کې چې په دنمارک کې 0.12٪ (صفر عشاریه دولس په سلو کې) وګړي زراعت پیشه دي، خو په افغانستان کې دغه کچه تر ۷۰٪ زیاته ده، د ملي ناخالصه عوایدو د محاسبوي سهم له پلوه زمونږ مالدارۍ او زراعت دواړه په ګډه ۲۷-۳۱٪ ونډه لري، پداسې حال کې چې په دنمارک کې د کرنې او مالدارۍ سکتور (چې تر یو فیصد کم وګړي یې پکې بوخت دي) په ملي ناخالصه عوایدو کې یې د سکتور ونډه څه د پاسه ۳۳٪ دی...او دا ځکه چې دوی د مالدارۍ او کرنې سکتور میکانیزه کړی، د تکنولوژۍ او مدرنه ماشینرۍ استعمال تقریباً سراسري دی، دودیزه اسلوب او عنعنوي وسایل کاملاً ختم شوې دي.

د دې مقایسې نتیجه دا ده چې افغانستان یوه نیمه پېړۍ تر اروپایی هېوادونو او نیمه پېړۍ تر ایران او پاکستان شاته دی.

نو لازمه ده چې دولت باید ددې سکتور د موثره کیدو لپاره، له پردیو د بې نیازه کیدو، له فقر سره د مبارزې او د ځان بسیاینې مرحلې ته د رسیدو په موخه یو عظیم جهاد اعلان کړي، ځنګه چې په ایران کې موجوده آخوندي نظام، په تحریمي اقتصاد کې د نجات د ریاضتونو په پار یې دوه جهاده سرمشق ګرځولي: ***جهاد تعلیم، جهاد کشاورزي...***

همدا سرمشقونه مونږ ته هم لازم دي، همدا سرمشقونه زمونږ د دايمي رفاه او پايدارۍ تضمين کولی شي.

د مالدارۍ سکتور ته اهتمام که له يوې خوا د غذايي (د غوښې) کمبود د پوره کيدو لپاره ده، نو له بلې خوا ګڼ نور تشبثات هم په تحرک راولي، ګټه او موثريت يې لازيات لوړولي شي، مثلاً د لبنياتو اړتيا راته پوره کوي، د خوارځواکۍ چاره کوي، د زرګونو فارمونو او کاري فرصتونو د اضافه کولو، د حيواني وړيو او پشم له توليد سره به يې د قالين، ګيلم او چرمي صنايعو په زرګونه شرکتونه رونق او پراختيا وکړي، طبعاً لدې سره به د هېواد لاسې صنايع او د قالينو او ګيلم په ساحي کې ميليونونه ډالر ګټه هېواد او هېوادوالو ته ورسيږي، ځکه خو د مالدارۍ سکتور د ګڼو نورو سکتورونو د تقويې ذريعه هم ګرځي...!

بر علاوه مالدارۍ د ملي وحدت لپاره هم يوه وسيله ده، د کوچيانو او قالين بافانو (اوزبيک، بلوچ، ترکمن، هزاره او...) ترمينځ د وړيو شراکت او يو بل ته يې مستدام احتياج کولی شي د متبادلو ګډو ګټو تر څنګ صميمانه ټينګښت قايم کړي...

د اوبو مديريت د ميکانيزه کيدو يو بل اساسی رکن

د اوبو ارزښت خدای پاک پخپله بيان کړی، (و جعلنا من الماء کل شی حی...) اوبه هغه ګټوره ماده ده چې د نړۍ په مهمو ستراتيژيکه منابعو کې حسابيږي، نړۍ يواځې يو يا دوه فيصد طبيعي خوږې اوبه لري، ويل کيږي چې د راروانې پېړۍ جګړې به د اوبو جګړې وي.

اوبه د دريو مقاصدو لپاره ستراتيژيک اهميت لري:

اولاً: پخپله د انسان او څاروو د ژوند د تداوم او بقا لپاره يې استعمالوي ارزښت، د څښاک، نظافت او زراعت لپاره...

ثانياً: د ضمني اقتصادي استفادې لپاره يې اهميت، مثلاً د بندونو په بڼه يې راوستل، د برق او انرژۍ د توليد په حيث ترينه استفاده کول چې په سلګونو توليدي صنايع پاکې انرژۍ Hydro power ته اړتيا لري، د کورونو د ګرمايښت او...

دريم مورد: اوبه د ستراتيژيکې وسلې په توګه کارول، اصلاً اوبه لکه اتم بم داسې يو قدرت او طاقت دی،

افغانستان د سیمې د اوبو لرونکي هېواد په حیث او له سوق الجیشي پلو د آسیا زړه په توګه په بلندآبه کې واقع دی، زمونږ اوبه ایران، پاکستان، اوزبیکستان او ترکمنستان ته توییږي، ځکه خو که دولتونه مو غور وکړي نو د اوبو دیپلوماسي ډیر قوي حکمیت په لاس راکوي چې د اوبو د مدیریت په تحکم سره خپل ملي ثبات پرې ټینګ کړو، سیمه ییزه ارزښت ترلاسه کړو او د اوبو په تقسیم او خرڅلاو سره هر کال د میلیاردونو ډالرو عواید په سالمه توګه په لاس راوړو...

پاکستان او ایران دوه هغه هېوادونه دي چې په تیرو څلوېښتو کلونو کې یې د افغانستان له شخړو او په نتیجه کې یې د میلیاردونو مترمکعب مجاني اوبو څخه ګټنه اخیستې...

ښایې زمونږ د مزمنه منازعاتو او کړکیچونو تر شا د ګاونډیانو د ستراتیژیک عمق Strategic dept اهداف هم نغښتې وي، د سرشاره غني منابعو تر څنګ چې دلته د فقیر او اوږي ملت په سینه پراته دي، دا هېواد یې د غني کیدو او خودکفا کیدو په ځای په خوار و زار، آواره، دربدره او هردم شهید ملت تبدیل کړی.

که د مجاني اوبو قیمت وسنجول شي، ښایی په تیرو څلورو لسیزو کې یې مونږ ته په سلګونو میلیارد ډالر کمایی کړې وای، اوس به مونږ د خیراتخور په ځای خیرات ورکونکي او د لوړ لاس (ید العلیا..) مالکان وای، د هېواد کلنې اوبه، چې پورته یې معلومات شته، په مادي لحاظ یې کلنی ارزښت شاوخوا ۲۵-۳۰ میلیارد ډالر برآورد کیږي، یعني د خلیج تر نفتو زمونږ اوبه ډیر ارزښت لري...ښایی جهل او بېسوادي هغه عمده عامل وي چې متل دی...آب در کوزه و ما تشنه لبان میگردیم...ددې متل په مصداق مونږ د دنیا یواځنی هغه ملت یو چې د خپلو شتمنیو او نعمتونو په استعمال نه پوهیږو او په سبب یې کلونه کلونه په کړکیچ او منازعو کې ساتل شوې یو، زمونږ په شاوخوا زرنګو ښکارچیانو، بې رحم لوبغاړو (!) څو لسیزې زمونږ د وینو حمام ګرم ساتلی، اما داسې زعامت او رهبرۍ چې دلته د ټکرونو ګنجایش ختم او د اقتصادي ودې پر اساس سرداري او سیادت ایجاد کړي تر اوسه نده راغلې...

امید او لوی خدای ته التجا لرم چې اوسنی حاکمه زعامت یا اوسنۍ غلبه Dominance په مشروع دولت Legitimate State او مشروع دولت بیا په ملي اقتدار Sovereignty تبدیل شي، د ملي اقتدار تداوم او پاېښت هغه فضا او هغه تضمین دی چې زمونږ ملي ثبات National Constancy پکې پایداره Sustainable پاته کیدای شي.

د دې لیکنې لپاره ماخذ او منابع:

- د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت
- اندیشکده اقتصاد و سیاست
- پورتال آبهای افغانستان
- د کرنې او مالدارۍ وزارت
- Avisar Organization

واقعیت گرائی، خویشتن داری و ملاحظه در سیاست خارجی امریکا ضرورت است



نویسنده:Andrew Byers

ترجمه: میرعبدالرحیم عزیز

۲۰۲۴/۲۵/۲

جهان در آشوب دست و پا میزند. جنگ در اوکراین با درخواست های متداوم از ایالات متحده برای ادامهٔ تامین تلاش های جنگی اوکراین همچنان ادامه دارد. چین ممکن است در سالیان آینده به تایوان حمله کند و جاه طلبی‌های خود را در بحیرهٔ چین جنوبی و سائر نقاط شرق آسیا قطعیت بخشد . اسرائیل به جنگ خود علیه حماس در نوار غزه ادامه داده، بدون اینکه پایانی در افق مشاهده شود. قوای امریکا در سوریه و عراق محصور بوده و همچنان توسط نیروهای قائم مقامی ایران در سراسر منطقه مورد حمله قرار می گیرند.

این آشفتگی بین‌المللی و تقاضا های مداوم برای مداخلهٔ نظامی ایالات متحده، مصارف و پیامد های واقعی را برای ایالات متحده نادیده می گیرد. ارسال هر چه بیشتر مهمات به اوکراین باعث کمبودی مهمات در امریکا شده و خطر تشدید جنگ با روسیه را نادیده می پندارد. این رفتار که گویا جنگ سرد جدید با چین اجتناب ناپذیر است، فقط به احتمال بیشتر چنین تصادم کمک می کند. رفتن به جنگ برای حفظ استقلال تایوان به معنای خطر جنگ اتمی در جزیرهٔ کوچکی در ۷۰۰۰ میلی کالیفرنیا است. حفظ عساکر امریکائی در شرق میانه، علی رغم مخالفت های گسترده در سراسر منطقه، این مردان و زنان را برای اهداف مبهم در معرض خطر بزرگ قرار میدهد و این منطقه را که هم اکنون در هرج و مرج به سر می‌برد بیشتر بی ثبات میسازد.

وضع کنونی سیاست خارجی امریکا - بر مبنای تمایل به برتری جهانی- به اندازهٔ کافی منافع یا رفاه امریکا را ارتقا نمی دهد و در واقع به هر دو آسیب می رساند. ایالات متحده طور قابل توجهی در امن است .این کشور توسط همسایگان ضعیف و دو اقیانوس احاطه شده و دارای یک بازدارندگی اتمی توانا و

قابلیت های نظامی متعارف نیرومند است. به عقیدهٔ جان کوینسی آدامز، ایالات متحده نیازی به رفتن به خارج از کشور برای جستجوی دشمنان و نابودی آنها ندارد. سیاست خارجی جدید ایالات متحده بر اساس اصول واقع گرائی و خویشتن داری، بسیار بهتر میتواند منافع امریکا را تأمین کند.

بسیاری از اثرات مخرب سیاست خارجی امریکا پس از ۱۱ سپتمبر کاملاً آشکار شده است. اگرچه جنگ در افغانستان باعث کشتن رهبران القاعده شد، اشغال های نظامی طویل المدت امریکا در عراق و افغانستان با هیچ معیاری موفقیت آمیز نبود. این جنگ های همیشگی منجر به بربادی حیات تعداد زیادی از مردم، نابودی ثروت و ثبات منطقه ئی گردید. جنگ جهانی علیه ترور در تمامی مظاهر آن نه تنها شکست های سیاست خارجی بلکه طرح های نظارت داخلی عظیم و تاکتیک های اجرائی قانون را نظامی کرده است که به نظر می رسد همه آنها موسسه شده اند. همچنین طور قابل توجهی به رفاه مالی امریکا آسیب رسانده است. طرح مصارف جنگ پوهنتون براون تخمین میکند که جنگ ها پس از ۱۱ سپتمبر بیش از ۸ تریلیون دلار برای مالیات دهندگان امریکائی مصرف داشته است. این مجموع شامل مصارف متداوم مرتبط با کمک رساندن به امنیت متحدان ثروتمند ایالات متحده، مصارف طولانی مدت صحی برای نسلی از عساکر جنگدیده و همچنین مصارف هنگفت مرتبط با سیاست های تجارتی، تحریم ها و نظام تعرفه ئی فعلی ایالات متحده که در خلق روش ها بی اثر هستند، نمی گردد.

اینکه چگونه می توان این همه سیاست های به ظاهر غیرقابل حل را از نظر سیاسی تغییر داد، یک مشکل بزرگ است، اما مسیر رو به جلو واضح است. مصارف دفاعی رو به ازیاد امریکا (قانون مجوز دفاع ملی در سال ۲۰۲۴، اجازه ۸۴۲ بیلیون دالر را برای وزارت دفاع را صادر کرد) ناشی از جنگ های خارجی و استقرار قوای نظامی غیر ضروری است که توسط "منافع ملی" مبهم اما گسترده به حرکت می افتد. به یقین که ایالات متحده نباید اجازه دهد که دیگر برتری جویان منطقه ئی ظهور کنند، اما روسیه ضعیف و رو به زوال درین خصوص کاندید مناسب نیست و همچنان ناگزیری جغرافیه و مشکلات داخلی چین نمی گذارد که این کشور تبدیل به تهدیدی برای ایالات متحده شود. مشکلی که باید مدیریت شود اینست که ایالات متحده در عوض باید از مفکورهٔ برتری نظامی جهانی بدور شده و مصارف نظامی خود را کاهش دهد. باید کمک مالی به امنیت متحدان ثروتمند (بالاخص اروپا، کوریای جنوبی و جاپان) را متوقف کند. اگر این متحدان نگران همسایگان متجاوز هستند، می‌توانند مصارف نظامی خود را برای جلوگیری از تجاوز، به جای اتکای رایگان به امریکا، افزایش دهند.

ایالات متحده باید استقلال انرژی را دنبال کند که مزایای مالی عمده خواهد داشت. این همچنان باعث خواهد شد که فشار ها برای ادامهٔ حضور در شرق میانه (حملات ایران و بازیگران غیردولتی در منطقه) را کاهش دهد. باید راه ها برای تنش زدائی با چین سراغ گردد (هدف امریکا باید همزیستی مسالمت آمیز با چین باشد) و جلو جنگ تجارتی و برخورد نظامی احتمالی آینده را بگیرد. در نهایت، باید از تحریم های اقتصادی و ابزارهای مشابه برای آسیب رساندن به سایر کشورها دست بردارد. این ابزارها ناکارآمد هستند و به سادگی به منافع اقتصادی آمریکا آسیب میرسانند، بدون اینکه امتیازات معنی داری از دیگر قدرت ها به دست آورند.

اگرچه بعید به نظر می رسد که بایدن دور دوم مسیر سیاست خارجی خود را تغییر دهد، اما این امیدواری وجود دارد که ترمپ دور دوم از غرایز ترمپ پیروی کند - در صورتیکه ادارهٔ او توسط مشاوران جنگ طلب تسخیر نشود - و سیاست خارجی مستدلی را تعقیب نماید که در واقعیت گرائی، خویشتن داری و ملاحظه تهداب گذاری گردد.

❖

د اوبـــو نـړيـــوالـــه ورځ او د افغانستان د اوبو ستونځې

ليکوال: انجينر محمدربی آماج

په نړۍ کې هر کال د مارچ دوه ويشتمه نيته د اوبو د نړيوالې روځي پنامه نومول شويده چې هر کال د په نيويارک ښار کې د ملګرو ملتونو لخوا لمانځل کيږي او د همدې کنفرانس په ترځ کې په نړيواله کچه د اوبو اړوندې ستونځې په ګوته، څيړل او ترځنګ يې د ضرورت په بنسټ نوی ستراتيژی او پاليسۍ د پلی کيدو په پار معرفی کيږي. د لسيزو راهيسې د اوبو مسله د نړۍ په دوامداره پرمختيايي موخوکې شامل کړل شويده. په همدې ترتيب سره د اوسنۍ نړۍ په ګوټ ګوټ کې د هيوادونوتر منځ وخت ناوخته د اوبو په سر ستونځې او ناندرۍ را پورته کيږي چې ډيره غوره بيلګه يې د اسراييلو لخوا د سوريې د ګولان د غونډيو نيول او پخپله خاوره پورې ضميمه کول دي، همدا راز د هند او پاکستان او بيا د افغانستان او ګاونډيانو (ايران) تر منځ د اوبو اړوند لانجې او ستونځې زمونږ ټولو په مخ کې پرتې دي چې له دغې پورته بيلګو څخه د اوبو ارزښت له ورايه څرګنديږي. دلته دا سوال را ولاړيږي چې اوبه څه شی دی؟

د تخنيکي او ساينسي ځوابونو ور ايخوا اوبه هغه ماده او نعمت دی چې بيله هغو ژوند د ځمکې پر مخ نا ممکن دی ! په کايناتو کې د ټولو پراخه څيړنو سره تر اوسه د کايناتو فزيکپوهان (استرو فيزيست) پدی ندی توانيدلی چې د لمريز نظام او تر هغې ورايخوا نورو ستورو کې د مايع اوبو څرک ولګوی!. کومې څيړنې چې په مريخ (**د خمکې څخه ۳۲۰ ميليونه کيلومتره ليری**) اود زمونږ د ځمکې پرسپوږمۍ (**د ځمکې نه ۳۸۴۰۰۰ کيلومتره ليری**) باندې تر سره شويدی دلته د مايع او روانو اوبو څرک ندی لګيدلی. بنا پر دې سره تر اوسه پورې زمونږ کور (ځمکه) يوازينۍ سياره ده چې روانی او مايع اوبه لری او ژوند هم دلته وجود لری. د ساينسي څيړنو پر بنسټ د ژوند اصلی عنصر (عضوی ماده) يانی امينو اسيد او البومين هم په اوبو کې جوړ شويدی.

په همدې توګه د ځمکې د مخ (**۵۱۰.۱ ميليونه کيلومتر مربع**) مساحت څخه يې **۳۶۱.۲ ميليون کيلومتر مربع** (**۷۱٪**) مساحت اوبو او پاتې **۱۴۸.۹ ميليون کيلومتر مربع** (**۲۹٪**) وچه ده

دلته يوه بله په زړه پورې خبره دغه هم ده چې په قرآن شريف کې د وچې يادون ۱۳ځله ۲۹٪ او د اوبو يادونه يا ذکر ۳۲ ځله ۷۱٪ راغلی دی چې دلته ساينس او قرآنشريف ډيره ورته سلنه وړاندې کوی دغه بيا د قرآن شريف د ستاتيستکې ارزونو پايله ده.

دلته د دغې خبرې يادون اړين بريښې چې د نړۍ اوبه دوه رنګه دی : خوږې اوبه او د سمندرونو اوبه چې ډيرې زياتې مالګينې او ترخې دی چې د خوراک، څښاک او کرهنې لپاره هيڅ وړ ندی. او همدا ترخې يا مالګينې اوبه د ځمکې د کرې

۹۷٪ جوړوی، خوږی اوبه یوازی دځمکمی د کری ۳٪ تشکیلوی.

لاندی شکل (د ځمکی د اوبو ویش)



د دی پورته جدول تشریح دارنگه ده: کیڼ اړخ ته زرغون مکعب دځمکی پر مخ ټولی موجودی اوبه (۹۷٪ سلنه یی مالگینې او یوازی ۳٪ سلنه یی خوږی اوبه دی) ښیي، دوهم نخودی او نصواری رنگه مکعب دخوږو اوبو تشریح چی ځمکی د کری د ټولو اوبو یوازی ۳٪ سلنه جوړوی او د همدی ۳٪ اوبو ۶۸.۷٪ په یخچالونو او د غرونو په یخ شوی واوری کی دی او ۳۰.۱٪ یی تر ځمکی لاندی اوبه او ۰.۹٪ یی نوری اوبه دی، او بیا د دغه ۰.۹٪ سطحی اوبو ۸۷٪ په جهیلونو کی ،۱۱٪ یی په جبه زار کی او ۲٪ یی په سیندونو کی بهیږی.

د اوبو هایدروجیولوجیکی ځانگړنې

1 -**د اوبو دوران:** دا هغه لړی ده چی اوبه د سمندر له سطحی څخه د بخار په بڼه پورته کیږی او د هوا د جریان پوسیله په وچه باندی د باران، واوری،ږلی او پرخې په بڼه را لویږی او دځمکی په سطح باندی د یخچالونو،واوری او روانو په توگه ظاهریږی.چی خوږی اوبه معمولا د همدی سیکل یا د اوبو د همدی دوران په نتیجه کی منځته راځی.

2 -**دځمکی سطحی یا روانی اوبه :** دا هغه اوبه دی چی د ځمکی پر مخ ولاړی یا هم روانی وی لکه سیندونه او جهیلونه.

3 -**تر ځمکی لاندی اوبه:** د خوږو اوبو مهمه سرچینه همدا اوبه دی چی د ځمکی د رسوبی پوړ (طبقی) په خالیگا وو کې ځای پځای شویدی او د ځمکی د سطحی اوبو څخه تغذیه کیږی. د نوموړیو اوبو ژوروالی بیاد ځمکي له سطحی څخه شروع او تر ۹۰۰۰مترو ژوروالی پوری رسیږی (سرچینه د امریکا د جیولوجیکی سروی اداره (USGS) او د رسوبی طبقی په پنډوالی (ضخامت) پوری اړه لری.

4 - **تر سیندونو لاندی روانی اوبه**: دا اوبه هم دځمکی لاندی اوبو یو بل ډول دی دسیندونو د مسیر په اوږدو کی تر سیند لاندی نوری اوبه هم روانی وی.

5 - **ایساری اوبه : دا د اوبویو بل ډول دی** چی د ځمکی د جیولوجیکی جوړښت په مهال د ځمکی ډبرین پیړ(لیتوسفیر طبقی) په منځ کی د عدسیو په بڼه ایساری شویدی او د ځمکی د سطحی اوبواو هوایی رسوباتوسره هیڅ مخامخ اړیکه نلری، دغه رنگه اوبه د تکنالوژی په مرسته (جیوفزیکی څیړنی، د سټیلایټ یا سپوږمکیو هوایی عکسونو) پوسیله تشخیص او بیا د برمه کاری پوسیله را ایستل کیږی.

په هیواد کی د اوبو ستونځی او اغیز یی

د څو پر له پسي طبعی وچکالی (تکراری النینو)، د خلکو لخوا د اوبو بیدریغه استعمال او پدی ډگر کی د لمریزی انرژی کارول، نړیواله تودوخه اوپه هیواد کی دقانون نه پلی کیدل د وچکالی کچه د نه راگرځیدونکی ناورین حالت ته رسولی ده.چی اوس یی اغیز ډیر څرگند دی .او هغه پدی ډول : **د اورښت په کچه کی غیر طبعی بدلون لکه د سړو سیمو په ژمی کی دباران اوریدل، د ډیرو خطرناکو سیلاوونو راوتل، د ځمکی د کرهنیز پوښ وچوالی، د کرهنې او څاروی پاللو محصولاتو کمیدل ، په ځمکه کی د درزونو او چاودو را ښکاره کیدل او په ښاری سیمو کی د خامو او نیمه پخو ودانیو په دیوالونو کی چاکونه(درزونو) راتلل ... او نور.**

د دی پورته پیښو میخانیکیت

- د اوبو د جیولوجی (هایدروجیولوجی) د اصولو په بنسټ تر ځمکی لاندی اوبه د رسوبی طبقو په سوریو(خالیگا/ مسامونوpores) کی ځای پځای وی او بیا پهمدی سوریو کی د ځمکی د جاذبی قوی تر اغیز لاندی حرکت هم کوی. د همدی اوبو تغذیه بیا د هوایی ترسوباتو (واوره، باران، ږلۍ او پرخې) په بڼه چی د ځمکی پر مخ را اوری او بیا یی یوه برخه په ځمکه کی جذب اود پورته ذکر شوی رسوبی پوړ خالیگاوی یا مسامونه بیرته ډکوی.
- د همدی هوایی ترسوباتوبله برخه د ځمکی پر مخ بهیږی سیندونه، جهیلونه او جبه زاری جوړوی چی د همدی اوبو یوه برخه بیرته په هوا کی بخار کیږی.
- همدا راز کرهڼیزی ځمکی او پځانگړی توگه ځنگلونه په زیاته کچه اوبه هوا ته تبخیر کوی همدا لامل دی چی په ځنگلی سیمو باندی باران زیات اوری، او لدی ځایه د ځنگلونو ارزښت د چاپیریال په ساتنه کی له ورایه څرگند دی.

د اوبو جذب په ځمکه کی د لاندی لاملونه سره مخامخ اړیکه لری.

الف: دځمکی پر سطح د اوبو حرکت چی هر څومره گړندی وی په هماغه اندازه یی په ځمکه کی جذب کمیږی، او کچیری یی حرکت ورو وی نو بیا یی جذب ډیر وی او په هماغه سیمه کی د ځمکی د مخ لندبل ډیر وی.

ب: کچیری د ځمکی پر مخ خاوره ډیره وی په هماغه کچه د اوبو جذب هم ډیر وی اوکه د ځمکی سطحه ډبرینه وی نو د اوبوحرکت گړندی او جذب یی ډیر کم وی.

پ: کچیری د ځمکی په مخ نباتی پوښ یا هم ځنگل وی هلته بیا د ځمکی پر مخ داوبو حرکت ورو او جدب یی ډیر وی .

په هیواد کی د وچکالۍ او اوبو د کمښت اغیز په دوو برخو کی ارزول کیدی شی.

1 -**په ښاری سیمو کی :** په ښاری سیمو کی د نفوسو د تراکم پوجه او د اوبو د رسونی منظم سیستم د نشتوالی په توسن نیږدی ټول د ښار اوسیدونکی د ښار د تر ځمکی لاندی اوبو په زیرمو باندی گذاره کوی چي په پایله کی یی د تر ځمکی لاندی اوبو په زیرمو باندی بی حده زیات فشار دی ، د بیلگې په توگه د کابل ښار د نړیوال نفوس د اداری لخوا په ۲۰۲۳ کال کی د نوموړی ښار آبادی ٦،٧٦٠٥٠٠ اټکل شوی ده

او همدا خلک بیا په ۱۰۲۳ کیلو متر مربع مساحت باندی میشت دی چی په منځنی توګه په هر کیلومتر مربع ساحه باندی ٦٦٠٨ کسان اوسیږی https://worldpopulationreview.com/world-cities/kabul-

اوس نو کچیری په اوسط ډول یو کس د روځي ۵۰ لیتره اوبه مصرف کړی نو په یوه روځ کی ۳۳۸۰۲۵۰۰۰ لیتره یا ۳۳۸۰۲۵ متر مکعبه اوبه مصرف کیږی او بیا هم د اټکل له مخی د دی پورته اوبو ممکن ۱۰٪ د بیرون (د اوبو رسونې ښاری شبکه) څخه تهیه او باقی ۹۰٪ د ځمکی لاندی زیرمو څخه را ایستل کیږی. چي په دغو زیرمو باندی ډیر زیات فشار دی ، له بلی خوا د همدی کابل ښاریانو بدمرغی دا ده چی د همدی ځمکی لاندی اوبو د زیرمو د بیرته رغولو یا ډکیدلوهیڅ لپاره هیڅ بدیل او تدبیرنشته، **او هغه پدی خاطر**: دکابل ښار د ځمکی لاندی اوبو د تغذیی سرچینی چی همدا د ښار غرونه دی چی بیا د خلکو لخوا قبضه او په کورونو بدل شوی کوم چی د هوایی ترسباتو د جذب مخه یی نیولې ده، او له بده مرغه د ژوند د چاپیریال اداری ناسوبتیا اوقانون د نه پلی کیدو له امله د کورونو د مخی **شنې پټی** (**معمولا ۳ متره عرض لری**) بیخی دود ندی. اوهغه د باران او واوری اوبه د لښتیو له لاری په دیری چټکتیا له سیمی وځی او هیڅ جذب نلری، پهمدی ترتیب سره د ښار هواری ځمکی کومی چی هلته د ښآر د خمکی لاندې اوبو زیرمی شتون لری د سرکونو د قیر، د کوڅو او لښتیو کانکریټ او د شنې پټی نه شتون له کبله دلته هم د اوبو د جذب صفر ته نیږدی کړیدی.

د یادولو وړه ده چی د کابل ښار د جیولوجیکی جوړښت (سترکچر) له اړخه په دریو پشقاب رنګه برخو (غربی حوزه د باغ بالا، پغمان، کمپنی، دشت برچی، دارلامان، چهلستون تر ګذرګاه پوری) شمالی حوزه (د باغ بالا شمالی لوری بادام باغ، خیر خانه، د شرق په لوری تر حربی پوهنتون پوری) او د لوګر د سیند حوزه تر ارزان قیمت پوری). د دغو دریو حوزو تر ځمکی لاندی اوبه د ښار د اوسیدونکو تر ۹۰٪ زیاته اړتیا پوره کوی چی تر ډیر سخت فشار لاندی دی.

له بلی خوا همدا دځمکی لاندی اوبو کچه په ډیره چټکتیا سره لویږی په ځانګړی توګه د دغو پرلپسی وچکالیو په توسن. د بیلګی په ډول هوایی ډګر ته څیرمه منطقه کې د اوبو خط په کال کی تر لسو مترو زیات لویدلی دی. همدا راز شاوخوا د کابل ښار تر ځمکی لاندی اوبو د زیرمو هیڅ تخنکی سروی وجود نلری لکه د رسوبی طبقی ضخامت او تخلخل یی.

په همدی توګه سره د ښار تر ځمکی لاندې اوبو د چټلی ستونځه هیڅ دولت هم تر لاس لاندی نده نیولي. د لومړی ځل لپاره په ۱۹۸۷ زیږدیز کال کی د کابل ښار جیولوجیکی- جیوفزیکی څیرنه یا سروی تر سره شوه چي پایله کی یی د کابل ښار تکتونیکی جوړښت، د اوبود چټلی اړونده څیړنه (د چټلی ژوروالی، نوعیت او سر چینه یی)، په اوبوکی د حل شویو مالګو کچه چی د زنګ وهلو سره اړیکه لری او په اوبو رسولو(آبرسانی) کی په نظر کی نیول کیږی او د غرونو د ډبرو رادیو اکتیف فعالیت وڅیړل شول او پایلی یی د هماغه وخت د ښاروالی سره شریکی شوی.

دهماغه سروی دا یو ټکی د اوس لپاره څیړو: دهمدي سروی د موندنو پر بنسټ هغه مهال د کابل ښار د ځمکی

لاندی اوبو د چټلی عمق تراوو (۷) مترو پوری رسیدو (یوه درجه یی تودوخه لوړه شوی وه او باکتریالوژیکی او کیمیاوی بدلون پکی راغلی وو، سرچینه یی هم د حمامونو او غیرسیپتیک ټانکیو کومی چی سیپتیک شوی نه وو او انسانی مدفوعات یی مخامخ په ځمکه کی جذب کیدل په گوته شوی وی، بیا وروسته په ۲۰۰٦زیږدیز کال د ډاکار (DAACAR) موسسی په مرسته د پلچرخی په سیمه کی بله جیوفزیکی څیړنه تر سره شوه چی په پایله کی یی هلته د اوبو د چټلی عمق تر ۲۷ مترو ښوولی وو. او بیا پدی برخه کی اصلا هیڅ کار ندی شوی. او د همدی ناکاری بیه بیا دکابل ښآریان د روغتیایی ستونځو (ناروغیو) په بڼه پری کوی .

د روغتیا، اوبو او حفظ الصحی پوهان پدی اند دی چی ۷٦ ناروغی د اوبو پوسیله انتقالیږی.

لکه ایچ پایلوری، د گیډې ناروغی، تور زیړی (هیپاټایټ بی)، سلمانیلا یا محرقه او داسی نور. (**آیت شریف: ولا تلقو بی ایدیکم الی التهلکه.ص .ژباړه : خپل ځانونه پخپل لاس په هلاکت گاه کی مه غورځوی.**

دغه نیمگړی مالومات یوازی د کابل تر ښار پوری محدود دی او د هیواد نور ستر او گڼ میشتی ښارونه لکه کندهار، هرات، مزار، کندز، جلال آباد او داسی نور ممکن تر کابل هم زیاتی ستونځي ولری مگرځرنگه چی هلته مسلکی او علمی سروی گاني ندی تر سره شوی نو د ژوند چاپیریال ته چی هلته انسانانو (ښاریانو) کوم زیان رسولی دی کچه یی نشی اټکل کیدی. انسان د طبعت دوښمن دی.

د اوبو حالت په کلیوالي سیمو کي: افغانستان یو وروسته پآتی او غرنی هیواد دی چی اقتصاد یی تر ډیری کچي په کرهنه او څاروی پاللو ولاړ دی. د تیرو شلو کالو په اوږدو کی په هیواد کی دوو سکتورونو (د ښارونو پراختیا او په کلیوالی سیمو تر یوی اندازی کرهنه او پدی برخه کی بیا د لمریزی انرژی کارول) یو څه پرمختگ گڼل کیږی. چي همدی تکنالوژیکی آسانتیاوو بیا دلته د چاپیریال ناورین رامنځته کړیدی.

له بلی خوا افغانستان په وچه کی ایسار او غرنی ملک دی چی د هیواد نیږدی ۸۰٪ سلنه ځمکه غرونو نیولې ده ، د غرونو موقیعت یی داسی دی چی لوړه څوکه یی په شمالشرق هندوکش (نوشاخ دسمندر له سطحی۷۴۹۲ متره) او ټیټي سیمی یی په شمال (آمو سیند د قلعه زال منطقه۴۳۲ متره، غرب - جنوب غرب ۵۰۰ متره او شرق ٦۰۰ متره) دي ، د دی مانا دا شوه چی د افغانستان اوبه ډیري په چټکی د هیواد له جغرافیی بیرون ته درومی. زیاتره غرونه یی ډبرین او توند دی چی د سیندونو د مسیر یا لاري په اوږدو کي د اوبو جذب ډیر کم وی د یوی آټکلی څیړنی له مخی افغانستان د کال په منځنی کچه ۷۵ میلیارد متر مکعب روانی اوبه لری او له هغی جملی څخه یی ۵۷ میلیار متر مکعب اوبه بیله گټی اخیستنی له هیواده بیرون وځی.

لکه مخکی چی ویل شویدی د افغانستان د کلیوالی چاپیریال لپاره دوه خطرونه وجود لری یو یی طبعی ناورین (تکراری وچکالی یا **ال نینو/لانینا** په بڼه او نړیواله تودوخه) او بل یی انسانی یا تخنیکی ناورین دی .

ال نینو: یوهسپانوی لغت دی او مانا یی په نړی کی د اوبو او هوا څرخ (اقلیمی) گردش دی چی په نړیواله د ۲ـ۷ کالونو په موده کی په نړی یوځای منځه راځی چی پایله یی په هغه سیمه کی وچکالی،سیلابونه او توپانونه وی. ال نینو په آرام سمندر کی ځمکی لاندی انرژی د آزادیدو په توسن د سمندر دو ابو تودوخه یوه درجه زیاتیږی او د همدی تودوخي پر بنسټ بیا د هوا جریان د وچی لخوا څخه د سمندر لوری ته وی او هغه بارانونه، واوری چی باید په وچه اوریدلی وی هغه بیرته په سنمدر اوریږی. دغه طبعی پیښه په افغانستان کی له ۱۹۹۴ څخه تر ۲۰۲۴ دوه

ځلی تکرار شویده. چی د ۲۰۲۴ کال د مارچ میاشتی په اورښت سره داسی ښکاری چی اغیز یی مخ په ختمیدو دی.

لا نینا: تقریبا د ال نینو غوندی عمل کوی مگر په سرچپه بڼه په آرام سمندرکی د حرارت د درجی د تغیرپوجه منځته راخی اود نوموړی پیښی لړی بیا د لمرپه حرکت پوری اړه لری چی پایله یی د افغانستان او ایران لپاره بیا هم اوږد مهاله وچکالی ده. د افغانستان او ایران د وچکالی لپاره یو بل لامل هم په منځنی ختیځ کی د ځمکی او هوا گرمیدل دی.

د طبعی ناورین وړاند ویینه او مخنیوی تر اوسه ناممکن ښکاری اوچاره یی یوازی د وریځو په لوشلو کی خلاصه کیدای شی.

-بل د انسان په لاس جوړ شوی ناورین چی زموږ د بحث موضوع جوړوی دغه نوموړی ناورین موږ داسی ارزولی شو:

- د لمریزی انرژی په کارولو سره د اوبو بی کچی را ایستل:

دلته ددی خبری یادون اړین دی چی تر ځمکی لاندی اوبه هیڅوخت شخصی ملکیت نشی گڼل کیدی او ټول پکښې مساوی وندې او حق لری دا پدی دلیل: تر ځمکی لاندی اوبه حرکت لری او کچیری یو څوک پخپله ځمکه کی ژور څاه وکیندی نو د نورو گاونډیانو د اوبو حق غصب کوی. او په شاوخوا کی د محلی او مصنوعی وچکالی لامل کیږی ، دا رنگه د وچکالی بڼه د ژورو څاگانو د شاوخوا څخه د قیف په بڼه شروع کیږی او څومره چی په ژورڅا کی د اوبو کچه ښکته درومی هغومره یی د دیبریسیونی قیف شعاع پراخیږی چی په همدی محل کی د وچکالی د پراخوالی مانا ورکوی. اوس نو کچیری کوم څوک د ښار څخه دباندی کلیو او باندو ته لاړشی او یا خو هم د کابل – کندهار په لویه لار سفر وکړی نو به ووینی په هر۱۰۰-۲۰۰متره واټن کی به د تورو لمریزی بریښنا زیږوونکی تختو ځنگل ووینی او یو ډنډ به ورته جوړ ویی او ټوله روځ به اوبه د خمکی څخه راوځی، دلته هر څوک د خپل مالی توان په اندازه په لمریزی انرژی څرخیدونکی واټرپمپونه (د یوه انچ څخه تر ۱۰ انچ پوری) کاروی، اوس نو که اوسط کچه ۵ انجه په نظر کی ونیول شی نو په یوه ساعت کی به ۱۵مترمکعب اوبه راوباسی او په لسو ساعتو کی به ۱۵۰ مترمکعبه شی . د مصنوعی وچکالی اصلی لامل دغه دی .

مهم یادونه: د هایدروجیولوجی د اصولو پر بنسټ کله چی د ځمکی د رسوبی طبقی څخه اوبه راووزی او هلته هغه خالیگاوی چی اوبه پکښی وې هغه بیا کمپریس (کیمپدل) کیږی او دغه بیا بیرته نه رغیږی یانی کچیری بیا همدی طبقی ته اوبه ورشی په هماغه اندازه اوبه نشی خوندی کولی یا پر بل عبارت د اوبو د خوندی کولو ظرفیت یی کمیږی. دغه خبره په ښاری او هم په کلیوالی چاپیریال کی یوشان ده. کچیری څوک د ایران اسلامی جمهوریت د دخامو تیلو د سیمو انځورونه وگوری چی هلته ځمکه دومره وچی شوی چی لوی درځونه او ژوری چاودی لری او دباران یا احتمالا واوری د اوبو اغیز د ځمکی پرمخ هیڅ نه ښکاری، علت یی همدا دی چی هلته د خامو تیلو له څاگانو نه خام تیل او گاز را وباسی او په بدل کی یی په ځمکه کی چی کومه تشه لدی وجی راځی له اوبوڅخه نه ډکوی چی معمولا باید هلته اوبه ور پمپ شی. او د تیلو د پلور نیږدی تر ۲۵٪ پوری عاید بیرته د همدی ځمکی په بیا رغونه (اوبه پمپ کول) باندی مصرف کیږی.

بل عمیزه دغه ده چی ډیرو زیاتو خلکو اوس دبهیدونکواو یاهم موسمی سیندونو د تغذیی (catchment) په ساحه یا سرچینو کی ژورڅاگان وهلی دی. (**انسان د چاپیریال دوښمن دی**). نوموړی څاگان په هماغه سرچینه کی د سیند اوبه وچوی اود سیند د اوبو د کموالی لامل گرځی.

دریم یی دا چی د آبادی په زیاتیدو سره په غرونو او دښتو کی شنی ونې او بوټی د انسانانو پوسیله له منخه وړل کیږی او د انسانانو دهمدی کړنی تاوان بیا د طبعت د قهر (خطرناک سیلاوونه او د خاوری د ورکیدو) په بڼه را څرگندیږی.

پدي وروستيو کالونو کی هيواد او سيمه د ورانوونکو سيلاوونو شاهد وو (تير کال د پاکستان دريمه حيصه خاوره سيلاوونو لاندی کړه).

نو څه کول په کار دی؟! دغه ډير اوږد بحث غواړی خو دلته به ډير لنډ وليکو چی:

-حکومت لومړی درجه مسوليت لری چی د چاپيريال د ناورين مخه ونيسی، اړوندی اداری فعالی، اوږد مهاله ستراتيژی،پلان او پاليسی جوړ او پلی کړی .قانون پلی کوونکی اداری په دی باره وگوماری.

دغه پورته موارد په لاندی اړخونو باندی تمرکز وکړی:

1 -دژورو څاگانو مخه بايد ونيول شی او هر چاته يی اندازه او کچه تعين شی او پدی ساحه کی د خپلسری مخنيوی وشی. اوپدی ډگر کی د نورو بريالیو هيوادو پاليسی تعقيب شی د بيلگی په توگه د امريکا متحده ايالاتو د ځمکی لاندی اوبه تر ۴۰۰ مترو ژوروالی پوری حکومتی ملکيت گرځولی دی او پدی کی هيچا ته د مداخلی حق نه ورکوی.

2 -د ښارونو څخه د اوبو د تصفيی (معدنی اوبو) فابريکی او دی ورته نوری فابريکی چی د ښارونو د ځمکی لاندی اوبه را باسی وتړی او د ښارونو څخه بهر ته يی وليږدوی.

3 -د سيندونو د تغذيی (catchment) په ساحه کی د خاوری د طبقی د ساتنی په پار د ځنگلونو ايجادول، او په نور ځايونو د خاوری ساتل د شينيليو د ساتنی له لاری لکه څرځايونه او طبعی ځنگلونه.

4 -په غرونو او غونډيو کی دهغو ميوه لرونکو اوغير ميوه لرونکو ونو کينول چی د هغی ځای له چاپيريال سره تطابق ولری.

5 -د کرهنی، باغداری او ځمکو اصلاحات اود داسی تخمونو رواجول چی لږ اوبه وغواړی.

6 -په غرونو او موسمی سيندونو کی د چک ډم (check dam) او (Reservoir) جوړول چی د ژمی د واورو او موسمی سيلابونو اوبه ذخيره کوی او د ځمکی لاندی اوبو ذخيری ژوندی کوی.

7 -په ښارونو کی د تجارتی اوبو د څاگانو تړل.

8 -په ښارونو کی د کورونو د سيپتيک ټانکيو معاينه او سرغړونکو کورونو ته د سيپتيک ټانک تړل او جرمانه.

9 -د تولنيز شعور بيدارول (کلو واشربو ولا تسرفو،.او دا چی اوبه ټولنيز ملکيت دی او څوک حق نلری چی ککړی يی کړی او يا يی له نورو غصب کړی).

د دعوت رسنيز مرکز ملاتړي شئ!

زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي يا لويه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پياوړی او راتلونکی مو ژغوري. له دعوت رسنيز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امريکايي ډالر يا يورو مرسته وکړئ - دا يوازې يوه دقيقه وخت نيسي. که تاسو کولی شئ، د مهربانۍ له مخې مو زموږ سره هره مياشت په منظم ډول ټاکلې اندازه مرسته وکړئ .له تاسو مخکی له مخکی مننه!

به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!

زمان حمايت ما همين اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و يا کوچک، مطبوعات ما را تقويت و از آينده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/يورو حمايت کنيد - فقط يک دقيقه طول می کشد. اگر می توانيد، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنيد . تشکر.

Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

dawatmedia@gmail.com
AC# 0530 2294668
BIC (SWIFT-addressee): DNBANOKKXXX
A/C for international payments:
NO15 0530 2294 668

د هالیډې له انده د متني انسجام شننه

څېړنه: نقیب الرحمن عمري

متن څه ته وايي؟

متن د هغه کلمو او جملو ټولګې ته ویل کیږي، چې په لیکلي او ویناي بڼه د معلوماتو، فکرونو، اندونو او احساساتو د لېږد له پاره کاریږي. متن کیدای شي، د مقالې، داستان، لیک، راپور، شعر او داسي نور بېلابېلو شکلونو کې ځان ښکاره کړي. د هالیډې په اند د متن لومړنی معیار دادی، چې باید انسجام ولري.

انسجام

انسجام کلمه د فرانسوي cohesion له پاره کاریدلې چې د پیوستونکي مانا لري، دا کلمه د ۱۷ پېړۍ په وروستیو کې په انګلیسي کې ژبه کې مروجه شوه. انسجام د یوه متن په بېلابېلو برخو کې ګرامري او ویزې اړیکې دي، چې یوه متن ته مانا ورکوي او متن د درک وړ ګرځوي.

د متن لومړنی معیار دادی، چې په متن کې انسجام وي. په ۱۹۷۶ کال کې هالیډې او حسن دانګلیسي ژبې د انسجام پر عواملو وغږېدل، د دوی د لیکنې(په انګلیسي ژبه کې انسجام) په خپرېدو سره د ډېرېو ژبپوهانو توجه انسجام او متني ژبپوهنې مسایلو ته شوه. دې وروسته په ۱۹۸۴ کال کې رقیه حسن د هالیډې نظریه په(د انسجام او پیوستون هماهنګي) مقاله تکمیل کړه. بیا یو کال وروسته دوی یو ګډ کتاب د (ژبه، قرینه او متن) په نوم خپور کړ. د دوی دنظریې له مخې انسجام او پیوستون د متن له پاره اړین عوامل دي.

د هالیډې او حسن په نظر انسجام یو نحوي او مانایي مفهوم دی، چې په متن کې مانایي اړیکو ته اشاره کوي. انسجامي اړیکې د متن په کچه مانیزې اړیکې دي، د مانا د نظام د نورو برخو غوندې د کلمو ګرامر د نظام د اوازو په مټ څرګندیږي اود متن بېلابېلو برخو تر منځ انسجام پیدا کوي.

موخه مو په متن کې له انسجام څخه مانایيز مناسبات دي، چې د یوه متن په توکیو کې موجود وي او متن ته یوالی ورکوي. انسجام هله په متن کې موجود وي، چې د یوه متن د ځینو برخو تفسیر او شننه د همدې متن د ځینو نورو برخو په تفسیر او شننه شونې وي. انسجام یا په خپله د متن د ټوکونو ترمنځ په متن کې وي یا د متن او د موقعیت قرینې ترمنځ وي.

ګوټ وینسکي په دې باور دی، چې په متونو کې کېدای شي قوي یا ضعیف انسجام وي، خو هېڅ متن بې له انسجامه نه جوړیږي، نو هغه څه ته متن ویلای شو، چې انسجام ولري، په ځانګړي ډول په لیکني متن کې د متن او نامتن د تشخیص له پاره همدا دانسجام ابزار دي. انسجام یوه مانایيزه اړیکه ده، خو د نورو مانیزو نظامونو اجزاوو غوندې د ګرامري(ویيز) او (پیوندي) نظامونو په مټ رامنځته کیږي.

د انسجام عوامل

د هالیډې او او حسن په نظر هغه څه چې د متنیت سبب کیږي، هغه د انسجام عوامل او ابزار دي. د دوی له نظره د انسجام ابزار او عوامل د کلمو، فقرو، جملو او د متن د تولید سبب کیږي. انسجام هغه ژبنی ابزار دی، چې په مټ یې موږ لیکنه متن بللی شو.

هالیډې او حسن په (۱۹۷۶) کال کې هغه عوامل چې په متن کې انسجام رامنځته کوي. په درېیو ډلو وویشل، په ۱۹۸۵ کال کې یې په همدې ډلبندۍ کې بدلونونه راوستل. منسجمونکي وسایل یې په دوو برخو وویشل.

۱.د ګرامر زېږنده: اړیکوییکي، ارجاع، حذف او ځایناستي

۲.ویيز انسجام دی: تکرار او ملتیایي

کوروش صفوي په خپل کتاب(تعبیر متن) کې انسجام دوه ډوله ښودلی دی. یوه ته د متن د ننه انسجام وايي، چې مطلب يې همغه د ګرامر زېږنده او ویيز انسجام دی او دویم ډول ته بهرنی انسجام وايي. بهرنی انسجام همغه د متن دویم معیار(پیوستون) دی، نو له پورته خپرو معلومېږي، چې انسجام او پیوستون د متن دوه هغه عوامل دي، چې د یو بل په څنګ کې راځي. د دغو دوو توپیر په متن کې شکل او محتوا غوندې دي. انسجام بهر او پیوستون دننه اړیکې ښيي.

د ګرامر زېږنده عوامل

په دې ډول انسجام کې په یوه متن کې د جملو جوړښت او نحوي عناصر د انسجام سبب کېږي په دې عواملو کې ارجاع، تکرار، حذف او ځایناستي راځي.

اړیکوییکي

منطقي مانیيزې اړیکې ښيي او د یوه متن مختلفې برخې له یو بل سره پیوستوي. په دوه ډوله دي: لومړی: رغښتي اړیکوییکي، چې د یوه غونډ ټوکونه یا دوه غبرګ غونډونه سره نښلوي لکه: چې، ځکه، ولې...

دویم ربطي اړیکوییکي، چې د یوه غبرګ غونډ دوه برخې سره پیوستوي لکه د بېلګې په توګه، پر دې بنسټ او له دې پرته.

ارجاع

په ژبه کې داسې توکي چې له نورو توکیو سره له رجوع پرته يې د مانا درک شونی نه دي. دې توکیو ته د ارجاع توکي وايي، چې یوې مرجع ته یو څیز ارجاع کېږي. ارجاع په متن کې انسجام پیدا کوي. که مرجع په متن کې د ننه وه، د متن د ننه ارجاع او که مرجع له متن بهر وه، د متن بهر ارجاع نومېږي، چې دویم ډول يې د فرهنګي او موقعیتي قرینې په مټ معلومېږي او ژبه له بهرنی قرینې سره نښلوي. متن کې د ننه ارجاع، په متن کې د بېلابېلو ټوکونو ترمنځ انسجام پیدا کوي، ځکه مرجع او د ارجاع توک دواړه په متن کې شته.

ارجاع په دوه ډوله ده؛ لومړی: مخ مرجع لکه احمد راغی، خو زه يې ونه لیدم. دویم: پس مرجع لکه هغې راکې سترګې خښې کړې، ما په لومړي ځل د زرمینې په سترګو کې مینه ولیده. په لومړی جمله کې (يې) او په دویمه جمله کې (هغې) ارجاعي توکونه دي.

حذف او ځایناستي

د غونډ هغه برخه حذف کېږي، چې له تېرې برخې نه يې استنباط کېږي او کله يې ځای نوي توکي نیسي، چې ځایناستي ورته وايي: لیکوالي یوازې لیکل نه دي، بلکې سم لیکل او د پیغام لېږد دی. د بلکې نه مخکې لیکوالي حذف شوې، د مخکیني غونډ له مخې يې استنباط ممکن دی. همدارنګه لومړنی: احمد راغلی دویم: نه

نه دی راغلی حذف شوی.

ویيز انسجام

د متن د انسجام دویم عامل د کلمو ترمنځ د مانیزو اړیکو شتون دی، چې دوه برخې لري، چې یو تکرار او بل ملتیايي دی:

ا. تکرار په درې ډوله دی:

۱) د یوې کلمې تکرار: د ویيز انسجام مستقیمه بڼه ده چې په تصریفي ډول پکې یوه کلمه تکرارېږي:

قانون باید په ټولنه کې سمون راولي، داسې سمون چې د ګډوډۍ هره لار وتړي.

۲) هممانیزتوب: په یوه متني ټوټه کې د دوو یا څو هممانا کلمو تکرار:

خدای رڼا ته ورځ او تیارې ته شپه وویله.

۳) مانیز ګډون: د یوه جنس د څیزونو ترمنځ د کوز و پاس (سلسله مراتب) اړیکې له مخې د کلمو تکرار:

ګل: ګلاب، نرګس، رېدي، غاټول (حمیدزی ۱۳۹۶، ۱۹۰-۱۹۵)

ب. ملتیايي: په متن کې ځينې کلمې نورې کلمې راتداعي کوي. په دې توګه لوستونکي هممهاله يا د وړپسې کلموو په اړه وړاندوينه کوي او يوه توقع جوړوي. دا تداعي ښايي د موضوع له مخې وي. مثلا: که ليکوال د کيسې پر توکيو غږېږي او پېښه يادوي، د لوستونکي ذهن ته پلاټ، حرکت، کشمکش او نور راځي او په دې ډول له دې کلمو سره چې له متنه بهر دي، په متن کې يو انسجام پيدا کېږي.

ماخذونه

۱. حميدزی، راحله. ۱۳۹۶. گذار از مقوله و ميزان به دستور نقش گرايی هاليدی. پوهنتون کابل، پوهنځي زبان و ادبياب، ديپارتمنت فارسی دری.

۲. ښکلی، اجمل. ۱۴۰۱. د ژبپوهنې نظريې. لومړی چاپ، پکتوس خپرندويه ټولنه.

۳. هاليديۀ مايکل. حسن، رقيه. ۱۳۹۳. زبان، بافت و متن. ترجمه مجتبی منشي زاده، طاهر ايشانی. تهران: نشر عملي.

۴. حميدزی، راحله.۱۴۰۲. نظريه های زبان‌شناسی. کابل: انتشارات سمون.

د ریاضي مور؛ هېپاتیا

لیک: غلام سرور ظهیر

نېټه: د ۲۰۲۴ کال، د اپرېل شپږمه

نجلۍ دومره ښایسته وه چې ستایلو ته یې توري او تعبیر نه لرم. که یې د پښتنو د ښکلا په تله تلې؛ نو باید ووایې چې «د خره په لور ښایست تمام وو.» او یا هم «نغمه یې په زېري کې څوک نه اخلی.».

د پښتنو د ښکلا پېژندنې او ښکلا خوښونې اړوند؛که خبره دېرش پینځه دېرش کاله شا ته ستنه کړو؛ د هغه وخت ځوانانو د نجونو ښایست او ناز و نزاکت یوازې په نکلو و کیسو کې اورېدلی وو. یوه و نیم د خدای بختور به له هېواده بهر کوم هنیدي عاشقانه فیلم پر تور و سپین کوشني سکرین کتلی وو؛ نور نو ټول داسې ول لکه اسد دانش لالا چې بټوې به یې شاپېرۍ نغمې د کیسټونو له راپرې کړو انځورونو ډکې وې ـ مانا د عکسونو عاشقان ول.

چې خوږ باندار پر بله ولاړ نه شي؛ که کاظم خان شېدا ژوندی وای؛ نجلۍ به یې داسې ستایله:

مخ؛

مخ یې گل، شونډې لاله، تن یې نسرین
سراسر همه گلزار دی؛ هغه کس

یا هم؛

چې حجاب له مخ لري کړې گُلرُخه
شي عرق په مخ د اور په اضطراب گډ

پزه؛

پزه ستا د فتنه گرو سترگو بریده شوه
گوندې دوی په کور کې هم کاوه پرخاش

سترگې؛

هسې وژله کا؛ بې لارې برندې ســــــترگې
لکه مست خوني چې ځي پر سمه لار کج

یا؛

التفات یې راته سترگې هومره نه کا
لکه شوخ آهو چې وگوري په رم کې

یا هم؛

د کجل لکۍ یې گوره، شوخې سترگې
په دا هسې خوبي ښاخ د غزال نشته

بانې؛

په هزار نېشه د زړه پر سر چیچل کا
الغیاث د دې د سترگو له زنبوره

یا هم؛

د مژگانو له سایې یې الف لوېږي
د الماسو پر تخته د میم دهان شوخ

وروځې؛

دواړه وروځې یې موجونه شول؛ نظره کړه
چې نمود زما د سترگو په دریاب کا

شونډې؛

که یې خوی د سمندر نه وي اخیستی
ستا د شونډو په انګار به پېزوان وسو

یا هم په فحوی د دې کلام متصور شه؛

چې یې سرو شونډو ته ګورم حیرانېږم
وایم اوس به ترې روان شي دم په دم

د شونډو د سر خال؛

د شکرو پر دوکان هندو بچه دی
که تور خال دی ستا د سرو شونډو جایګیر

غاښونه؛

غاښ یې هسې په سرو لبو کې ښکارېږي
په پیاله کې د لاله لکه ژاله

باړخو؛

ته به وایې د ګلاب پر ګل شبنم دی
چې باړخو یې د ملاستې په وخت خولې وې

زنه؛

مخ او زنه یې له څه سره مُخی کړم؟
چې تر ګل ډېره هغه زېبا صفا ده

غاړه؛

سپین ګردن یې صراحي؛ بلوري رنګ دي
فریفته یې نرګسین دواړه بصر

زلفې؛

دواړه زلفې یې ماران، شونډې جړی دي
خسته تن لره مې رنځ او دوا راغله

ادا؛

چې نرګس په خواب و نه لیده؛ غزال هم
ستا د سترګو ده هغه ادا غرض

یا؛

ستا چشمان به څه نګاه کا په خاکسارو
چې له کبره دې باڼه ګوري اسمان ته

کېدای شي د نجلۍ هنري او کلاسیکه ستاینه پر ډېرو لوستونکو غمېدلې وي؛ او د هغې د پېژندلو تلوسه یې پر ځای پاتې وي. که هغه د یوویشتمې پېړۍ د ښکلاپېزو مشاهدو او تجربو په تناظر کې تعریف او توصیفوو؛ نو، وایوو چې غاړه یې تر اېشوریا رای دوه ګوتې اوږده وه، سترګې یې تر ډیا میرزا ښکلې وې، اننګې یې تر نورا هم سره او هم پاسته ول، شونډې یې د اریانا غوندې، زنه یې تر ډېپیکا ښایسته وه، او سینه او ورنونه یې لکه د ولاډیسلاوا ګالاګان هومره ول یانې پر [۲٦، ۳۴، ۲٦ فورمول] برابره او په فیټنیس کې تر کېټرینا بره وه ـ خلاصه؛ د کوپر مال تیاره کېم کرډاشیان وه.

وبښئ؛ د نجلۍ په ښایست کې مې سوچ بند او خبره راڅخه اوږده شوه. دا یو سختهکُن خو لنډ پاراګراف هم لا وزغمي؛ نور اصلي کیسې مخې ته ږدم.

د څلورمې مېلادي پېړۍ د پای په کلونو کې د روم امپراتوري دوې ټوټې شوه چې یوې برخې ته یې لوېدیځه امپراتوري ویل کېده چې خورد کم یوه پېړۍ وپایېده او بله یې ختیځه یا د بېزانس امپراټوري وه چې د لوېدیځې امپراتورۍ تر دړې وړې کېدو روسته یې د هغې ځمکې هم لاندې کړې او لا پسې پراخه او پیاوړې شوه چې پلازمېنه یې اوسنی ستانبول وو. دا امپراټوري څه باندې یوه زرۍ روانه وه چې په ۱۴۵۳ زېږدیز کې د عثمانیانو له لوري ونړول شوه.

د ختیزې امپراتورۍ له ازمیر ښار څخه یو نوموتی فیلسوف او ریاضیپوه؛ تئون د مصر سکندریې ښار ته چې هغه وخت د دې امپراټورۍ د پوهې و فرهنګ مرکز او د لویې دروګې او پرتم ځای وو؛ وکوچېد او هلته په پوهنتون کې استاد شو. کره مالومات نشته چې د هغه د راتګ نېټه او موخه سپینه کړي. خو اټکل جنګولی شو چې په

۳۵۰ زېږدیز کې به تللی وي. هرګوره؛ دا بېلبره [= موضوع] نور رېش او رڼاوی غواړي او سپینول یې پر پوهانو پور دی.

د سکندریې په اړه کیسه په لنډو تېروم؛ کله چې تر مېلاد ۳۳۱ کاله وړاندې لوی سکندر د سوبو [= فتحو] له منډو ترړو د ارام سا واخیسته؛ د سکندریې ښار یې ودان کړ چې د نړۍ ښکلی ښار وو. سکندریه اوس د مصر دویم غټ ښار دی، شاوخوا پینځه میلیونه وګړي په کې اوسي، او د افریکا او اروپا تر منځ پُل ګڼل کېږي.
په ۳۷۰ زېږدیز کال کې د تئون د مېرمنې پښه درنه شوه؛ لور یې پیدا وزېږېده او هیپاتیا یې ونومولې. هغې چې کله په نړۍ کې سترګې وغړولې؛ سکندریه د رومیانو یوه بانډه وه. هیپاتیا بختوره وه؛ یانې پلار یې داسې نه وو لکه یو پښتون چې پر لور و خور د مېرو رمه پیایي خو ښوونځي ته یې نه لېږي. بلکې؛ کله چې نجلۍ په ښه و بدو پوه شوه؛ تئون یو بنډل قلمونه او یوه ډمبارۍ کتابونه او کتابچې ور ته راوړي او د فلسفې، ریاضي، ستورپوهنې، او سنداراپوهنې لوستونه یې سر کړل. ډېر ژر دا اومه خوله هیپاتیا د نړۍ لومړۍ نو-اپلاتوني فیلسوفه، ریاضیپوه، ستورپوره، او سنداراپوه شوه چې روسته په سکندریه کې د ریاضیاتو او فلسفي ښوونکې، اورژېې ویناواله، اوڅاره ستورپوهه، لویه څېړنونکې، او د سکندرې د لوی کتابتون پازواله [مسؤله] شوه.

عمومي پېژندنه:

هیپاتیا ښکلې او هوښیاره یونانۍ وه چې له خپل پلار یې فلسفه، ریاضي، او ستورپوهنه زده کړه او د ریاضي مور ګڼل کېږي. هغه پر ریاضي سربېره په فلسفه، ستورپوهنه، او سنداراپوهنه [= موسقي پوهنه] کې لوی نوم لري.
هیپاتیا په بېلابېلو پوهنیزو برخو کې کتابونه ولیکل، نوي-اپلاتوني نظریات یې تبلیغول، او ګڼې الې یې اختراع کړې. یاده دې شي چې هغه تکړه لامبوزنه، غرختونکې، او اس‌سپره هم وه.
هیپاتیا د سنکدریې په پوهنتون کې محبوبه استاده وه چې د خپل پوهنیز دریځ او عقیدې له کبله کلیساوالو د مرګ تر کومې تېره کړه.

ژوند:

د هیپاتیا پلار؛ تئون د سکندریې پوهنتون له نوموتو ریاضیپوهانو او تکړه استادانو څخه وو. هغه په پوهنتون کې د استادۍ پر مهال یوه د لمر تندر نیونې او یوه هم د سپوږمۍ تندر نیونې بشپړه پېښه ثبت کړه چې روسته یې د ستورپوهنې او یوناني ریاضیاتو په ځانګړې توګه د بیټلیموس او سطرلاب په اړه لیکل وکړل چې همدې کار یې د پوهنتون مشرتابه ته ورساوو.

تئون په سنداراپوهنه [= علم الموسیقي] ډېر پوهېد او کله ناکله به یې د سختو او ستغو ریاضي فورمولونو څخه د شعرې نرمې او پسې غېږې ته فنا وړه چې دا خوی یې لور هم ورڅخه اخیستی وو. تئون د ریاضي په اړه وایي:
ریاضي د شعر ژبه ده؛ هر ریاضي پوه که وغواړي که و نه غواړي؛ یو ویناوال او شاعر هم دی.
هیپاتیا له وړکوالي څخه په کور او پوهنتون کې د پلار څنګ نه پرېښود او ان په ماشومتوب کې به یې هم د پلار په پوهنیزو بانډارو او ناستو کې د پوهانو خبرو ته کلک غوږ نیولی وو او چې یوازې به شوه؛ پر همدې خبرو به یې سوچ کاوو. پلار یې هم همدا غوښتل؛ یو ځل یې هیپاتیا ته وویل چې زما لور حق لري چې فکر وکړي؛ تر فکر نه کولو؛ ناسم فکر کول غوره دي.

د ښوونکي لپاره دا ډېره اړینه ده چې هم پر پوهنو برلاسی وي او هم غوره ویناوال وي.
هیپاتیا دا دواړه ځانګړنې درلودې؛ ځکه خو د سکندریې او سیمې پر کچ وتلې ښوونکې وه. د هغې ټولګي ته له ډېرو هېوادونو څخه خلګ راتلل چې هم خیر ټول کړي (زده وکړه) او هم وکړي دیدنونه. ان چې ځینې ښاریان به د ټولګي مخ ته ورته پنډ ول.
سکندریه نوره پر هیپاتیا وغمېده؛ پلار ته یې وویل چې نه خو نړۍ یوازې سکندریه ده او نه هم ځمکه تر اسمان پراخه ده؛ یوازې د کتابونو په لوستلو څوک حقیقت ته نه رسېږي ـــ غواړم چې له سکندریې څخه ووځم او په نړۍ کې ورګرځم. تئون ورته د روم او اتېن د لیدلو سپارښتنه وکړه. هیپاتیا ډېر کلونه پر سفر تېر کړل او چې

بېرته سکندرېې ته راوګرځېده؛ په پوهنتون کې د رياضي او فلسفې استاده شوه.

هېپاتيا د سفر، وينا، او پوهنتون د استادي پر مهال؛ د نرانو غوندې اوږد بالاپوش او ارتې جامې اغوستې، کاړګوتي خرمايي وېښته به يې پر اوږو راخپاره ول، او د اتن له پوهنتونه ګټلی تاج به يې پر سر وو. يوه ورځ يې د پوهې او زدکړو لېواله نجونو ته په خپله وينا کې وويل: زما خويندو! هغه څوک يتيم نه دی چې مور او پلار يې مړ وي؛ بلکې يتيم هغه دی چې د پوهې له زدکړو يې لاس اخيستی وي. د کومې ټولنې ښځې چې نالوستې او کم پوهې وي؛ نران يې د شيدو پر ځې ناپوهي او جهل څښي.

واده:

هېپاتيا پوره يوه لسيزه په اروپا کې وګرځېده؛ کلي په کلي او جومات په جومات يې پوهنيزې او ويښونکې ويناوې او بحثونه وکړل. کتابونه ليکي چې هغه د نړۍ تر ټولو ښايښته، مؤدبه، ځيرکه، او پاکه ساکه پېغله وه او د هغې ټولګي او وينا ته به له ډېرو لرې ځايو ان له نورو هېوادو څخه خلګو ځانونه را رسول او د هغوی په زړونو کې به د الهې په څېر اوسېده. د هېپاتيا لږ داسې شاګران ول چې لږ پر هغې به يې زړه نه وو بايللی؛ مانا هر شاګرد به په بغل جېب/بټوه کې کانډم ورته ګرځاوو. د اروپا او سکندرې د ډېرو فيلسوفانو، ملايانو، او سردارانو

په جنسي امبوش [= شهوت] کې د حيا سترګې ړندې شوې وې او پر هېپاتيا يې د خدای ان تمام کړ چې واده ورسره وکړي خو هغې د چارلي چاپلين پر دې خبره باور وو چې: واده لکه بازار ته تلل داسې دي؛ چې پيسې او اړتيا نه لرې، بازار ته مه ځه. خو په ښکاره يې هغوی ته يې ويل چې ما له فلسفې او رياضي سره واده کړی دی او لکه د زلمي رسول خور؛ د ژوند تر پايه مجرده پاته شوه.

رياضيات:

هېپاتيا به کرۍ ورځ له خپلو زده کوونکو سره په پېچلو فلسفي او رياضيکي مسايلو اخته وه. هغې په رياضي کې د نبوغ تر کچې استعداد درلود. د ډيوفانټوس لارې و رودې به يې لا پخې او پراخولې او ګونګو مسلو ته به يې هواری پيدا کاوو. هېپاتيا غوښتل چې د ځمکې د حرکت لپاره فورمول جوړ کړي چې د اپولونيوس په مخروطونو کې ونښته. په يادو برخوکې کې د هغې پر ليکنو او څېړنو؛ زرګونو پوهانو تر اوولسمې پېړۍ پورې شخوند واهه.

فلسفه:

هېپاتيا د سکندرېې په پوهنتون کې نوي-اپلاتوني نظريې او د ايامبليکوس اندونه او د ارستو نښيرونه [= اثار] خلګو ته تدريسول. هغه په يوه ليکنه کې وايي؛ زه په تېر کې نه اوسم بلکې په راتلونکي کې ګرځم. کيسې، اسطورې، او افسانې دې يوازې او يوازې کيسې، اسطورې، او افسانې وويل او وګڼل شي. د خرافاتي، باطلو، او بې بنسټو ګروهو [= عقيدو] تدريس او ترويج؛ د وحشت او ځناورتوب ونې ته اوبه ورکول دي. دا کړنې يوازې ماشومان مني چې بيا په لويوالي کې ورڅخه کړېږي رنځېږي او د تېښتې لاره نه لري.

ستورپوهنه:

هېپاتيا د خپل پېر وتلې ستورپوهه وه؛ هغې داسې اله جوړه کړه چې د ستورو په پيدا کولو او پېژندلو کې تر اوولسمې پېړۍ کارېده او د دې اوزار پر مټ يې د ستورو، لمر، او سپوږمۍ تر منځ واټنونه هم ټاکل. هغې د خپلو څېړنو په لړ کې دا زباد کړه چې ځمکه پر لمر راګرځي او پېنۍ [= کاينات] بې کچې لويه او بې څنډې ده چې دا خبره يې له سپېڅلي کتاب سره په ټکر کې وه او د کليسايي ملايانو په سترګو ورته توره شپه شوه.

ليکوالي او پنځونې:

پېړۍ پېړۍ د تجربوي پوهنو سترګور دې باور وې چې يوازې د « ګاليلو» په نوم پلار لري؛ خو اصلي خبره دا ده چې د دې پوهنو مور؛ هېپاتيا تر ګاليلو ۱۲۰۰ کاله مشره ده.

هغه مهال چې ستورپوهنه د هوسۍ په ښکرو کې وه او رياضيات چارمېخ ولاړ ول؛ هېپاتيا د هندسې او جبر په اړه ګڼې ليکنې او کتابګوتې وليکل چې ډېرې يې هغه وخت له منځه ولاړ چې خلګو د سراپېس پر پرښځې [= معبد] برید وکړ. هغې د هندسې او جبر ګڼې

پېچلې او ستونزمنې ربړې [= مسلې] هواري کړې. تر اوولسمې پېړۍ پورې د مخروطونو په تړاو د هېپاتيا نظرونه چلېدل. هغې د اوبلنتوکو د ټينګوالي د کچې مالومولو اله جوړه کړه او همدارنګه د سمندروهونکو لپاره يې قطب نما يا سطرلاب رامنځ ته کړ.

ګروهه :

د تاريخ د حافظې په هډېره کې په زرګونه هغه پوهان او څېړونکي پراته دي چې د خپلو نظرونو او ګروهو [= عقايدو] له کبله؛ بېلابېلو دينونو څپ وهلي دي او له دينه د سرغړاوي په تور د زرګونو ساينسپوهانو ککريو پر دار ټالۍ وهلې دي. هېپاتيا يې څرګنده بېلګه ده چې د کفر په کاڼو وويشتل شوه. هغې د يونان د دوديزې ګروهې پت پاله او پر لرغونو خدايانو يې باور درلود. د هېپاتيا د ژوند پر مهال سکندريه د مسيحت مرکز وو او نور ټول دينونه او اندونه په کې سخت ځپل کېدل. نو، د هغې ګروهې (بُت‌لمانځنې) د هغې وژنې ته لاره هوارواله.

وژنه:

کليسا کرۍ ورځ په ټولنه کې خرافات خپرول او خلګ يې د پوهنې دوښمنۍ ته رابلل. اسقف سېريل پر دې کلک ګرومن وو چې ځمکه د پېنۍ [= کايناتو] منځ دی او سپېڅلې هم ده ځکه خو نور ستوري وربانديې راچورلي. هغه د خپلو خبرو په لکۍ پورې دا هم ور تړله چې انسان پاک او اشرف المخلوق دی. خو، هېپاتيا؛ د کليسا دا ګڼترې او خرافې پر ځمکه وويشتې او د کليسامشرانو اندونه او باورونه يې په يوه پيسه کړل. دا پوهېده چې د لمر ځی او دريځی تر ځمکې لوی و لوړ دی؛ نو، يې د کتنو او رياضيکي فورمولونو پر مټ دا زباده کړه چې ځمکه پر لمر راڅرخي هغه هم په دايروي نه بلکې بيضوي پېړ [= مدار] کې!.

ياده دې شي چې د ځمکې د ثابتوالې د نظريې پر تابوت روستۍ مېخ ګاليلو ټکواهه. کوپرنيک دا خبره په واز کومي کوله چې لمر د نړۍ

مرکز دی نه ځمکه؛ همداراز لمر ولاړ دی او د ځمکې په ګډون ګڼ ستوري پرې راګرځي. ګاليلو د کوپرنيک پل پسې واخيست خو خبره يې تر پانسۍ ورسېده. هو، په دې خبره کې د خاشخاش دانې هومره شک نه ځايېږي چې دا هر څه د هېپاتيا له برکته ول.

د هېپاتيا څېړنو او پوهنيزو بحثونو د بدېښمو [= معتصبو] مسيحي ملايانو پر کونه اور بل کړ او اعلان يې وکړ: هېپاتيا يوه شيطانه او ګوډګره ده. هغه به کوم د نر زوي وي چې د «ناقص العقلې او ناقص العلمې» هېپاتيا خبرې د روح القدوس پر سپينو سپېڅلو خبرو لوړې و غوره وګڼي؟!

د کليسا لوی مشر؛ سېرل دا خبره د دوک و دليل په توګه راوړه چې عيسی (ع) دوولس ياران [= حواريون] درلودل چې ټول نران ول او ښځه په کې نه وه؛ ښځه په هيڅ توګه سړی نه شي تابع کولای او اوس چې دې مُشرکې خلګ تابع کړي دي؛ هغوی يې يوازې او يوازې د ګوډو پر زور کاڼه و ړانده کړي دي. هېپاتيا د خپلې ټولنې د بې خرته بدمرغۍ او بې ساري انحصار ادرسونه په ښه توګه پېژندلي ول. نو، دا خبره يې په ځغرده کوله چې:

به جز شيخ، کشيش و کاهن که غارتگر اند

بنی ادم اعضاي يک ديګرند

هغه «مباح پوهنې» چې هېپاتيا زده کړې وې او خلګو ته يې ورښوولې؛ کليسا ته ګمراه کوونکې ښکارېدې او همدارنګه يوه ژبوره فيلسوفه او رياضيپوه يې په هيڅ توګه نه شوای سهلای.

بله ورځ د سېرل تر مشرۍ لاندې سياسي سرواکان، مذهبي سرلاران، او کاهنان سره جرګه شول؛ پر دې خبره يې وېره څرګنده کړه چې هر علمي پرمختګ مسيحت په سپکو کاڼو تللی دی؛ که ښځې لوستې شي او په ټولنه کې پوهنه و پوهاوی خپور شي؛ له دين سره تړلې ټولې ګټې مو له ګوتو وځي او مذهبي اجاره داري په هيڅ لګېږي. نو، يې د هېپاتيا د وژلو خبره غوټه کړه. سېرل د کليسا د يوه قاري يا نوحه ويونکي؛ پېټر تر مشرۍ لاندې ګڼ مسيحيان راوپارول چې ګواکې هېپاتيا د کوډګرۍ تر څنګ د دين دوښمنه ده؛ خلګ بې لارې کوي او د مسيحت/کليسا پر وړاندې توطيې جوړوي.

- د ۴۱۵م زېږدیز په مارچ کې هېپاتیا په ټانګه [= اس ګاډي] کې له کور څخه کتابتون ته روانه وه. کله چې د پېټر د لنډغرو تر برید لاندې راغله؛ کتابتون ته ننوته او زده کوونکو په ګړېدلو ژامو ورته وویل چې کوم خوندي ځای ته ولاړه شي. دې ورغبرګه کړه چې د موږک غوندې په غار نه ننوزم، کتابتون زما لپاره تر غورو غوره پناګاه ده، زه پر خپلې ګروهې ولاړه یم او پر خپلو لیکنو باور لرم. هیڅکله به ورڅخه په څنګ او څټ نه شم؛ که مې بند پر بند هم پرې کړي؛ همدا کتابتون زما سنګر دی او په مېړانه او هسکه غاړه مرګ ته ورغاړیوزم. څو شېبې روسته جوپې جوپې یرغلګر راغلل، جګړه او خرخښه ونښته؛ ګڼ شاګردان ژېړې تلې پرېوتل؛ تر وهلو ټکولو روسته یې هېپاتیا کلیسا ته کش کړه، جامې یې ور څېرې کړې او غوښتل یې چې ژوند یې له پوسته کړي خو د دې یوه زده کوونکي؛ ډېویس چې د کلیسا خادم وو؛ د خپلې ښوونکې دا حال و نه شو زغملای. برید کوونکو ته یې وویل چې هېپاتیا کافره ده؛ په مرداره وینه یې کلیسا مه چټلوئ ــ کومه بله جزا ورکړئ. پاربدلو لنډغرو دا وړاندیز ومانه ــ پرېکړه یې وکړه چې سنګساره یې کړي. دوی په ډبرو پسې بهر ووتل؛ ډېویس هېپاتیا خپه کړه. کله چې د پېټر ډله را وګرځېده؛ ډېویس ورته وایي چې هغه بېهوښه شوې ده. هغوی یې پر بدن د ډبرو ګوزار وکړل. روسته یې د هغې غوښې له هډو بېلې کړې؛ د غوښو بوټۍ یې په ښار کې د عبرت په دود ورګرځولې، بیا یې همدې غوښو ته اور ورکړ. چې غوښې ایره شوې؛ ایرې سیند ته ور وغورځولې. د هېپاتیا مرګ کلیساوال ډېر خوشاله کړل؛ په شپو شپو یې په ښار کې سندرې وبللې او وګډېدل خو تئون ته سپېره برخلیک؛ اوښکې او وینې وښلې.

هېپاتیا د نړېوالو په زړونو کې:

کلیسا د خلګو له شرمه؛ څو پېړۍ روسته هېپاتیا سپېڅلې وبلله. په ۱۹مه پېړۍ کې چارلیز کینګزلي د هغې په اړه رومان ولیکه. په شلمه پېړۍ کې هېپاتیا د ښځو حقونو او فېمینیزم عالمبرداره وګڼل شوه. همدارنګه په ۲۰۰۹ کې د اګورا فیلم د هېپاتیا پر ژوند جوړ شو چې ریچل وایس یې لوبغاړی دی.

یونسکو د ۱۹۰ هېوادونو د غړو په غوښتنه د هېپاتیا په نوم پروژه پیل کړه چې د ښځو پوهنیزې طرحې به پلې او دودوي.

د هېپاتیا ویناوې:

- د کومې ټولنې چې ښځې نالوستې او کم پوهې وي؛ نران یې د شیدو پر ځې ناپوهي او جهل څښي.
- اریستیس؛ یو نومور مشر او غټ سوبمن او د هېپاتیا زدکوونکی وو. یو دوه ځلې یې هېپاتیا په غوږ ووهله چې ګواکې درباندې مین یم. دې ورته وویل؛ په هغه پېر کې چې نران د ښځو له سیوري تښتي، ور سره ناسته ملاسته ګونا ګڼي، خبرې او باندار یې پرې غمېږي؛ نو په داسې حالت کې زما لپاره تر ټولو غوره مېړه «یوازېتوب» دی.
- هېپاتیا هیڅکله داسې غوښتونکی پیدا نه کړ چې فلسفي ذهن او پوهنیز ذوق یې ورسره برابره وي. دې تل ویل؛ هر څوک د خپلې مینې د کیسې خپل لیکوال لري، موږ ټول خپله ایډیاله کیسه لرو او ما له رښتینتوب سره واده کړی دی.
- کیسې، اسطورې، او افسانې دې یوازې او یوازې کیسې، اسطورې، او افسانې وویل او وګڼل شي.
- د خرافاتي، باطلو، او بې بنسټو ګروهو [= عقیدو] تدریس او ترویج؛ د وحشت او ځناورتوب ونې ته اوبه ورکول دي. دا کړنې یوازې ماشومان مني چې بیا په لویوالي کې ورڅخه کړېږي رنځېږي او د تېښتې لاره نه لري.
- تل رښتیا وایاست؛ تل د رښتیا/حقیقت پلوی وکړئ؛ څنګه چې د حقیقت لپاره جګړه اړینه ده؛ همداراز د خرافاتو پر وړاندې مبارزه مهمه ده.
- زما خویندو! هغه څوک یتیم نه دی چې مور او پلار یې مړ وي؛ بلکې یتیم هغه دی چې د پوهې له زدکړو یې لاس اخیستی وی.


افسوس

یو مُلا مو کسب د ټوپک، ټوري، نېزې کوي
بل مُلا مو کار د دَم، تعویذ او اجازې کوي
بل مُلا مو مُلا د سیاست کار ته ټرلې ده
مونږ ئې خوار وزار کړو او مُلا صاحب مزې کوي
دا فرقې فرقې رنګین اسلام راته اورشوے دے
یو مُلا مو وژني بل مُلا مو جنازې کوي

عبدالرحیم روغاني (بابۍ قطعه)



د وریښمو کاروان



چلوونکې او مسئوله: شبه گهیځ

د وریښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او لیکوالانو له پیژاند نیولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څیړنو او نور بیلابیل ادبي او غیر سیاسي لیکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختیا او غوړیدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هیله یو.

dawatafghanmedia@gmail.com

کاوون توفاني انقلابي شاعر

اصلي نوم یې غلام صدیق کاوون او په شاعرۍ او لیکوالي کې یې ځان په کاوون توفاني نومولی دی. د ۱۳۳۳ل کال په یوه لمرینه ورځ، د زرغون جنتي لغمان د الینگار په اخندزاده کلا کې زېږیدلی دی. پلار یې عزیز الرحمن میاخېل، نیکه یې حبیب الرحمن میاخېل اخند زاده او غور نیکه یې غازي محمد کریم اخند زاده نومېده. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په لغمان کې د کتل په کلیوالي ښوونځي او د لغمان نمبر اول ښوونځي کې پای ته رسولې دي. په ۱۳۵۲ل کال کې د روښان عالي لېسې له دولسم ټولګي څخه فارغ شو. په ۱۳۵۴ل کال کې یې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل او یاد پوهنځي کې یې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې کړې دي.

کاوون توفاني هغه وخت چې په هېواد کې اوسېده، هند، د شوروي اتحاد یو شمېر جمهوریتونو لکه (روسیه، ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ملداویا)، کوبا، فرانسې، پرتگال، بلغاریا، چکسلواکیا، پولند او دیموکراتیک آلمان ته یې رسمي سفرونه کړي دي.

د ۱۳۷۱ل کال د غبرگولي میاشتې په شلمه نېټه له خپلې مېرمنې او درې کوچنیانو سره له هېواده کډوال شو. څو میاشتې یې په مسکو کې د هېواد د آرامتیا او وطن ته د بېرته ستنېدو په تمه تېرې کړې؛ خو دا هر څه هسې یو خام خیال او خوب و؛ نو د وطن حالات او خپل اقتصادي وضعیت ته په کتو یې پرېکړه وکړه، چې جرمني ته کډوال شي. کاوون توفاني له(۱۹۹۲ز/۱۳۷۱ل) کال راهیسې تر دې دمه د جرمني د (نورد راین ویستفالن) ایالت په یوه کوچني ښار کې مېشت دی.

د کاوون توفاني اثار:

۱: سپرغۍ ۲: د تېرو په ذهن کې ۳: شګې او ګلونه ۴: وروستی ټکی ۵: د باد په کنډوالو کې ٦: مرثیې د چنارونو ۷: ایینې د سرابونو ۸: د هوا په تشو پاڼو ۹: ازادې مرغۍ ۱۰: کله چې ونې مري ۱۱: د سیندونو سرودونه په دې کلیات (د سیندونو سرودونه) د کاوون توفاني لس شعري ټولګې را تولې شوي دي.

شبه: د توفاني تخلص ټاکنې وجه څه وه؟

کاوون توفاني: بشپړ نوم مې غلام صدیق کاوون دی. له کوچنیوالي څخه د غلام له کلمې سره جوړ نه وم او کوښښ مې کاوه چې یوه لاره پیدا کړم او له خپل نامه څخه یې لرې کړم.

هغه مهال رادیو افغانستان د نورو خپرونو تر څنګ دوه هنري خپرونې درلودې چې شعرونو ته ځانګړې شوې وې. یوه یې « د شومه دم انګازې» نومېده چې هره شپه په لسو بجو او پنځه دقیقې پیلېده او تر یوولس بجو یې دوام کوله. بله خپرونه چې « از هر چمن سمنې » نومېده هره جمعه تر غرمې وروسته په یوه بجه خپرېدله.

ما له دغو دواړو خپرونو سره ځانګړې مینه درلوده. لمونځ مې قضا کاوه خو د دغو خپرونو اورېدل مې نه قضا کول. ورو ورو راته دا فکر پیدا شو چې خپل ځنې « شعرونه» د خپرېدو په هیله ور واستوم. هغه وخت زه د شعر په تمرین او سیه مشق بوخت وم. البته تر اوسه هم هغه سیه مشق دوام لري.

یو شعر مې له خپلو تمرینونو څخه غوره کړ؛ خو حیران وم چې په کوم نوم یې ور واستوم. نه مې غوښتل چې څوک مې و پېژني او د منفي تبصرې په وجه د خپلو ټولګیوالو د خندا شم.

د شعر لاندې مې ولیکل (کاوون توفاني). البته کاوون مې پخوا، هغه وخت چې د اتم ټولګي زده کوونکی وم غوره کړی و؛ خو توفاني هغه وخت چې شعر مې رادیو ته لېږه ور زیات کړ. باید اعتراف وکړم چې د ځوانۍ احساساتو هم د دې تخلص د انتخاب په مساله کې نقش درلود.

هره جمعه به منتظر وم چې اوس به زما شعر ته هم نوبت ورسېږي؛ خو هر ځل به خپرونه پای ته ورسېده او زما شعر به خپور نه شو. ورو ورو مایوسه کېدم چې یوه جمعه د معمول سره سم د « از هر چمن سمنې» خپرونې اورېدو ته ناست وم چې ناڅاپه مې خپل نوم واورېد. د تکړه فرهنګي او خوږ غږي نطاق او دکلماتور ښاغلي سیف الرحمان ابراهیم خپل(وروسته سیف الرحمان سهي) له خوا زما شعر دکلمه شو. شعر داسې و:

سترګې دې دواړه ادمخورې شولې	زخمي زړګي ته مې منګورې شـــولې
زما په زړه توره تیاره ګډه شـــــوه	چې ستا په مخ زلفې سمسورې شولې...

بس نو له هماغه وخته وروسته د اوږده نوم او تخلص په جنجال اخته یم.

شبه: شاعري ته مو څنګه مخه کړه؟

کاوون توفاني: ډېر کلونه پخوا کله چې زه لا کوچنی او د لومړي ښوونځی زده کوونکی وم. له شعر او شاعرۍ سره مې مینه درلود کله نا کله به مې نظم او یا نظم ډوله یو څه ولیکل

او ځان سره به مې بیا بیا لوستل او خوند مې ترې اخیست؛ خو په کور کې مې یوه ورځ یو لرګین صندوق ته پام شو. صندوق مې پرانیست، ګورم کې له کتابونو ډک دی. کتابونه مې یو یو له صندوق ویست او ومې کتل چې پکې د رحمان بابا دیوان، د خوشحال خان ختک بازنامه، سکندرنامه، بهار دانش، مرسلات، چهار درویش او ځینې نور و. د رحمان بابا دیوان مې ترې واخیست او نور کتابونه مې بېرته په صندوق کې کېښودل. له هغه وروسته بیا نو زه ومه او د رحمان بابا دیوان ان تر دې چې شپې به مې د رحمان بابا دیوان تر بالښت لاندې و. په هغو کلونو کې مې ننګرهار ورځپاڼه او ننګرهار مجله هم لوسته. کله چې به مې دا ورځپاڼې تر لاسه کړې په ډېرې خوشحالۍ به مې ولوستې او له همدې لارې هغه مهال د ښاغلیو نصر الله حافظ، قتیل خوږیاڼې، ارواښاد شهید سیلاب صافی، ارواښاد سید محمد طاهر بینا، غلام دستګیر رنګ او نورو له نومونو او شعرونو سره اشنا شوم او ډېر څه مې ترې زده کړل، چې د هغو هر یو پر ما د استادۍ حق لري. په دې ډول و چې د شعر په سیاه مشق مې پیل کړ او تر اوسه په دغه سیاه مشق اخته یم.)

شبیه : د تاسو په آند هم شاعري الهام دی؟

کاوون توفاني: دغه خبره چې شعر د الهام زېږنده دی او شاعر هغه وخت د شعر په لیکلو توانېدلی شي چې الهام ورته وشي، یوه ډېره پخوانۍ او متنازع فیه نظریه ده.

په دې برخه کې هم غربي پوهانو او فلاسفه وو او هم د اسلامي نړۍ عالمانو او فیلسوفانو خپلې نظریې څرګندې کړې دي چې دلته یې د بحث د اوږدوالي له وېرې، له تفصیل څخه تېرېږم او په څو لنډو ټکو بسنه کوم.

سُکرات او اپلاتون شعر د الهام زېږنده باله خو ارستو له دغې نظریې سره پوره هم غږی نه و.

ارستو عقیده درلوده چې هنر د واقعیت تقلید دی. هنر هینداره ده چې هنرمند یې د طبیعیت په وړاندې ږدي.

په اصل کې دا د محاکات نظریه ده. محاکات د یوناني Mimesis معرب دی چې د تقلید، بیا ښودنې او حکایت کولو په معنا استعمالېږي. دغه نظریه له سُکرات، اپلاتون او ارستو څخه تر اوسنۍ زماني پورې کارول کېږي.

اپلاتون عقیده درلوده چې د غه جهان د ظواهرو جهان دی. شیان او پدیدې په مثل عالم کې چې د معقولاتو نړۍ ده، شتون لري او دغه نړۍ چې موږ پکې ژوند کوو، د محصولاتو نړۍ او، د حقایقو سیوری دی. هنر مند اوشاعر چې د دغو شیانو او پدیدو بیا ښودنه او بیا جوړونه کوي په رښتینې معنا د واقعیتونو د سیورو تقلید کوي. د محاکات د نظریې پر اساس هنرونه او په ځانګړي ډول شعر د طبیعت تقلید او په طبیعت کې د شته پدیدو حکایت، غبرګون او بیا ښودنه ده.

اسلامي پوهانو لکه ابن سینا، فارابي، خواجه نصیر الدین طوسي او نورو ترې د تخیل مفهوم اخیستی دی.

د دې نظریې پر بنسټ ویل کېږي چې شاعر هغه وخت شعر لیکلای شي چې عینې یا ذهنی واقعیتونه یې د ذهن په هینداره کې غبرګون و مومي. د یوې منظرې لیدل، د یوې خاطرې را یادېدل، له یوې ترخې یا خوږې پېښې سره مخامخ کېدل... دا ټول کېدای شي د شاعر حساس زړه او سیال ذهن ته د الهام حیثیت ولري او د شعر د راپنځولو لامل شي.

همدلته باید دا خبره هم وکړم چې د شعري الهام په هکله دوه نظریې شتون لري:

ـ لومړی الهام یوه متا فزیکی پدیده ده چې له عالم الغیب څخه پر شاعر نازلیږي،

ـ دویم الهام ذهني پدیده ده چې د شاعر له لاشعور یا د کارل گوستاف یونگ په خبره له ناخود آگاه ضمیر څخه را ولاړیږي او شاعر شعر ویلو ته رابولي.

که زه اجازه ولرم د خپلې شخصي تجربې له مخې خبرې وکړم، و به وایم چې زه هغه وخت شعر لیکلای شم چې له یوې طبیعي یا ذهني او خیالي پدېدې څخه متاثره شم.

همدا رنگه هر کله چې مې له ناخودآگاه ضمیر څخه د خود آگاه شعور سطحې ته کومه پخوا لیدلې یا اورېدلې پېښه، یوه پخوانۍ خاطره، د خوښۍ یا غم احساس، د ژوندانه د ښکلاوو انځور راپورته شي، زما په ذهن کې ترې شعر جوړېږي.

کله کله داسې هم کېږي چې نیمه شپه مې یو احساس له خوبه راویښ کړي او مجبور مې کړي چې څه ولیکم. دغه څه یو بشپړ شعر نه وي خو د شعر لومړني توري یا بیتونه وي چې د یوه ټاکلي شعر تهداب او خاکه جوړوي.

زه هرکله چې له کومې غمجنې یا خوشحالوونکې پېښې، کومې طبیعي، معنوي یا انساني ښکلا څخه متاثر شم، د غم یا خوښۍ باران مې د زړه پر دښته و ووري او یا مې د کوم یاد خوږه وړمه د ذهن پر کرونده و چلېږي، قلم را اخلم او د کاغذ پر مخ د خپل زړه او ذهن احساس انځوروم.

شبه له شعر څخه ستاسو تعریف څه دی؟

کاوون توفاني : زما په نظر د شعر لپاره د یوه جامع او مانع زمان شموله تعریف وړاندې کول نا شونی دی. هغه پدیده چې تل د تغییر او بدلون په حال کې وي د تعریف په چوکاټ کې نه ځاییږي.

د اپلاتون او ارستو له وخته بیا تر اوسه په لسگونو ډولونو شعر تعریف شوی او هر چا د خپلې پوهې او درک په چوکاټ کې شعر تعریف کړی دی، لکه دا لاندې تعریفونه چې د بېلابېلو شاعرانو، منتقدینو او پوهانو له خوا شوي دي:

شمس قیس رازي په خپل مشهور او مهم اثر « المعجم فی معاير اشعار العجم » کې لیکي :

ـ شعر سنجول شوی، مرتب، معنوي، موزون، متکرر او متساوي کلام دی چې وروستي توري یې یو بل ته ورته وي.

ـ ابن سینا په خپل مهم اثر « شفا » کې د شعر په هکله داسې وايي:«شعر د محاکات د ځانگړنو او وزن په درلودلو سره کولای شي خیال پاروونکی او خوندور وي.»

ـ خواجه نصیر الدین طوسي په خپل کتاب « معیار الاشعار » کې لیکي چې شعر مخیل، موزون، مقفا او متساوي وینا ده.

ـ شکسپیر شعر د ښکلا زمزمه بولي.

ـ ساموئیل جانسون شعر د حقیقت او لذت د یو ځای کولو هنر بللی دی.

د شعر نور تعریفونه په لنډون داسې دي:

ـ ارستو وايي شعر مخیل کلام دی، او وزن د شعر له ذاته بېل خو د هغه د سینگار توکی دی.

ـ ځینې شعر موزون او مقفا کلام بولي چې معنا ولري،

ـ ځینې وايي شعر یو آهنگ لرونکی، لنډ، لطیف او خیال پاروونکی کلام دی،

ـ همدا راز ځینې کسان شعر د تصویر په قالب کې د فکر بیان بولي،

ـ رضا براهني وايي شعر یوه ناڅاپي پېښه ده چې له چوپتیا څخه راوزي او چوپتیا ته ستنېږي،

ـ شعر موزون او د منځپانګې لرونکی کلام دی چې ایماژ ولري، ښکلی وي، آهنګ ولري، او د مثبت پیغام لرونکی وي، (سیا وش کسرایي)

ـ شعر د شاعر په روح کې هیجان دی چې په ژبه کې تشکل مومي او فعلیت پیدا کوي،(احمد شاملو) همداسې د شعر لپاره لسګونه نور تعریفونه هم شته چې سر به پرې نه خوږوو.

دغه تعریفونه په ځنې برخو کې یو بل سره ورته والی لري خو پوره یوشان نه دي.

زه سره له دې چې لاندنی تعریف یو زمانشموله او مکانشموله جامع او مانع تعریف نه بولم، خو سمدستي ور سره ګوزاره کوم: (شعر هغه ښکلی، موزون، مخیل او آهنګین کلام دی چې لکه د موسیقي روح، د شاعر د زړه او احساس له پردو څخه راپورته شي، د لوستونکو او اورېدونکو زړونو او ذهنونو ته لاره پرانیزي، اغېز پرې وکړي او د شاعر پیغام ورته ولېږدوي.)



شبه: ستاسو په نظر که کاوون توفاني شاعر نه وای، نو کوم فیلد کې به و؟

کاوون توفاني: زما په فکر که کاوون توفاني شاعر نه وای، یوازې خدای پوهېږي چې څه به ترې جوړ وای. شعر دی چې پر هغه یې مینه، اخلاص، رینښتینولي او د سرېتوب لوړ ارزښتونه لورولي دي. سره له دې چې کله دی له شعر څخه او کله شعر له ده څخه مرور وي، خو بیا هم له یو بل سره ګوزاره کوي او یو بل زغمي.

شبه: غزلیزه شاعري خو مو ماشا الله ډېره خوندوره ده، څنګه مو آزاد شعر ته مخه کړه، لامل څه و؟

کاوون توفاني: د شعر لیکلو تمرین مې له کلاسیک شعر څخه پیل کړی. زموږ په کور کې د یو شمېر نورو کتابونو تر څنګ، د رحمان بابا دیوان هم شتون درلود. له ښوونځی څخه به چې کور ته راغلم، لومړی به مې خپل کورني کارونه سر ته و رسول، بیا به مې د رحمان بابا دیوان په تخرګ کې و نیو، سین غاړې ته به ولاړم او د رحمان بابا له شعر سره به مې راز و نیاز کاوه. د رحمان بابا د دیوان نږدې ټول شعرونه مې یادي زده وو.

هغه مهال دا د پښتو شعر یواځینی مدون کتاب و چې ما ورته لاس رسی درلود. وروسته مې د اجمل خټک « د غیرت چغه» لاس ته راغله. د غیرت چیغې مې په زړه کې د وطنپال او انقلابي شعر ولولې را وپارولې. له هغه وروسته د سلیمان لایق له « د چونغر ترانې » سره آشنا شوم. د چونغر اغېز راباندې له « غیرت چغې » هم زیات او ژور و.

اوس مې په یاد نه ده چې د روښان لیسې د اتم یا نهم ټولګي زده کوونکی وم چې مشر ورور مې خلیل نهضت راته له کابل څخه د « نوي شعرونه / اشعار نو » کتاب راوړ. دغه کتاب ۱۳۴۱المریز کال کابل کې « د مطبوعاتو مستقل ریاست » له خوا چاپ او خپور شوی و. په دغه کتاب کې د افغانستان د یوشمېر شاعرانو آزاد شعرونه چاپ شوي وو. په لومړۍ برخه کې پښتو شعرونه او دویمه برخه کې پارسي شعرونه راغلي وو.

د پښتو شعرونو برخه کې د عبد الرووف بېنوا، سلیمان لایق، سعد الدین شپون، محمد صدیق پسرلي، محمد موسی شفیق او نورو ... شعرونه وو.

په« اشعار فارسی » برخه کې د محمد رحیم الهام، بارق شفیعي، سلیمان لایق، عبد الحی آرینپور، یوسف آیینه او یو شمېر نورو شاعرانو شعرونه چاپ شوي وو. همدغه کتاب و چې زه یې له آزاد شعر سره آشنا کړم.

آزاد شعر په دوه لارو زموږ هېواد ته راغی:

لومړی هغه کسانو چې بهر کې زده کړې کړې وې، بهرنۍ ژبې یې زده وي او له اروپايي شعر سره آشنا شوي وو، او دویم زموږ د ګاونډي هېواد، ایران له لارې.

په ایران کې نیمایوشیج (علي اسفندیاری) په فارسي شعر کې د شکل او منځپانګې له نظره انقلاب راوستی و. د فارسي شعر زاړه قالبونه یې مات کړي وو او د عروضي وزن پر ځای یې نوی وزنونه چې وروسته د نیمایي وزنونو په نامه یاد شول، رامنځ ته کړي وو. د هغه مهال ډېری شاعران یې د شعر پیروان او شاګردان وو. هغه مهال د ایراني سنت شکنه او دآزاد شعر د سرلارو شاعرانو پرېمانه کتابونه زموږ هېواد ته راوړل کېدل او د هېواد په کتابپلورنځیو کې پلورل کېدل.

بېرته به خپل اصل مطلب ته راشم. د « نوي شعرونه / اشعار نو» کتاب و چې زما پر مخ یې د آزاد شعر د باغ پر لور کړکۍ پرانیستله.

وروسته چې د لوړو زده کړو لپاره کابل ته راغلم، د هغه وخت د پارسي آزاد شعر د سرلارو له شعر سره آشنا شوم. د واصف باختری، سلیمان لایق، بارق شفیعي ، لطیف ناظمی ، اسد الله حبیب، نیما یوشیج (علی اسفندیاری)، فروغ فرخزاد، نادر نادرپور، احمد شاملو، سیاوش کسرایي، سهراب سپهري، فریدون توللی او نورو شعرونه مې ولوستل. هر څومره مې چې د آزاد شعر لوستل زیاتېدل، هم هغومره مې ورسره علاقه ډېرېدله.

ورو ورو په نسبي ډول، د تنګو قافیو او د سنتي وزن له قفسه راووتم. لکه مولوي چې وایي:

ای شه و سلطان ازل، رستم ازین بیت و غزل ـ مفتعلن مفتعلن، مفتعلن کشت مرا

قافیه و مغلطه را گو همه سیلاب ببر ـ پوست بود پوست بود درخور مغز شعرا...

آزاد شعر مې پرمخ نوي افقونه پرانیستل، د خیال د پرواز لپاره یې پراخه فضا را وښله. د آزاد شعر په نړۍ کې مې ځان آزاد احساس کړ. شعر ته مې په نوي نظر وکتل. ورو ورو خو په هوډمن ډول د آزاد شعر په لاله زار ورګډ شوم. دلته باید دا خبره هم وکړم چې هېڅکله مې له سنتي او کلاسیک شعر سره، چې زموږ د ادب ویاړلې او ډېره شتمنه برخه او زموږ د فرهنګ وسپنیز بنسټ دی، خپلې اړیکې و نه شلولې او دادی تر اوسه، هم آزاد شعر لیکم او هم، د کلاسیک شعر په رنګین اوسمسور بڼ کې د خپل ذوق ګلانو ته اوبه ورکوم.

شبیه: په شاعرۍ کې مو الګو څوک و؟ یعنې داسې و وایم کله مو چې شاعري پیل کړه، نو تاسو غوښتل د چا په څېر واوسئ؟

کاوون توقاني: د شاعرۍ په پیل کې خو سړی نه پوهېږي چې د چا په څېر شعر و وایي او ځان ته الګو وټاکي. شعر په ناخودآګاه ډول د شاعر پر ژبه جاري کېږي، وروسته کله چې د نورو شاعرانو شعر لولي، فیض ترې اخلي او زده کړه ترې کوي. هېڅ شاعر له موره « شاعر » نه زېږي. خو د شاعرۍ د استعداد تومنه یې د مغز په ژونکو کې شتون لري. دا د شاعر ټولنه او د هغه چاپېریال دی چې شاعر ترې جوړوي. زه هم له دې قاعدې څخه مستثنا نه وم. له وړوکتوبه مې ځنې نظم

ډوله ټوټې لیکلې او له ځانه سره مې زمزمه کولې. لومړنۍ هڅه مې په دې برخه کې زموږ د کلي د یوه زیار اېستونکي بزګر د کورنۍ د غمجن ژوندانه په هکله د څو منظومو کرښو لیکل و. تر هغه وروسته، هغه مهال چې د لومړنۍ ښوونځی زده کوونکی وم. زما یو همزولی هلک چې طاهر نومېده، زموږ خپلوان او زما نږدې ملګری و او یو ځای به ښوونځی ته تلو په ناڅاپي ډول د مور له نعمت څخه محروم شو. مور یې د ډاکتر او روغتیایي خدمتونو د نشتوالي له امله په لنګون وفات شوه. دغې ترخې حادثې د هغه د زړه او ذهن پر دنیا د ناپایه غم او غوصې تورې وریځې خپرې کړې. هرسهار به چې ورسره مخامخ شوم د هغه درد او غم زه هم زورولم. په همدغه وخت کې و چې زما د ذهن پر دښته د راتلونکې شاعرۍ تېغنې و ټوکېدې او څو نظم ډوله کرښې مې ولیکلې. پیل یې داسې و:

مور چې وفات شي، بچیان یې خوار شي
د کـور انـګـړ یـې، د غـم غـبـار شي ...

همداسې څو نورې ګډې وډې کرښې چې نه شعر ته ورته وې او نه نظم ته خو زه یې د راتلونکې شاعرۍ د سرېښو ډنډ ته وغورزولم.

وروسته چې د رحمان بابا له دیوان، « غیرت چغه » او « چونغر » سره آشنا شوم، د نظم لیکلو سیاه مشق مې هم پراخ او ګړندی شو.

د خوشحال خټک د رزمي او بزمي نړۍ، د حمید مومند د « نیرنګ عشق » د بېنوا د « پرېشانه افکار » و، د الفت د مرغلرو، د کاظم خان شیدا د نازکخیالیو د فیض او معرفت له سیندونو څخه مې لپې لپې رڼا څښلې ده.

دلته باید دې ټکې ته هم اشاره وکړم چې هېڅکله مې په عمدي ډول د بل چا پیروي او تقلید نه دی کړی او هم مې هېڅکله هم دا آرمان زړه کې نه درلود چې کاشکې د کوم بل ټاکلي شاعر په شان وای. خو دځنې شاعرانو له شعر څخه مې یوڅه زده کړي او همدا اوس هم په دا ډول زده کړه بوخت یم.

په لومړنیو شعرونو کې مې زموږ د هېواد د ستر شاعر او سیاسي شخصیت سلیمان لایق د شعر اغېز شته او دا ځکه چې زموږ سیاسي او ادبي لاره یوه وه او هغه زموږ د سیاسي فکري کرښې له مشرانو څخه و. له دې پرته، لایق په څلوېښتمو، پنځوسمو او شپېتمو کلونو کې زموږ پر ادبي نسل ستر اغېز درلود. په زغرده ویلای شم چې دغه اغېز اوس هم سره له دې چې ځنې کسان ترې انکار کوي، د ډېرو شاعرانو پر شعر او ادبي پنځونو شتون لري.

شبه: ستاسو په اند ښه شعر باید کوم خصوصیات ولري؟

کاوون توفاني: زما په نظر ښه شعر هغه دی چې د شاعر له زړه را پورته شي او د لوستونکې او اورېدونکي پر زړه کښېني. خو فکر کوم چې تاسې به په دې لنډ او تنګ ځواب قانع نشئ. نو مجبور یم لږ پر مخ ولاړ شم او بحث لږ و غځوم.

کله چې شاعر د خپل ویښ ذهن په مرسته د انسان او طبیعت ترمنځ اړیکه منځ ته راوړي او په طبیعي او همدا رنګه معنوي پدیدو کې تصرف کوي او د خپل ذهني برداشت او لوړپروازه خیال او ایماژ پر بنسټ ورته بدلون ورکوي او د شعر په بڼه یې وړاندې کوي، شعر یې ویلی دی. خو ښه شعر په فني لحاظ یو شمېر اړینې ځانګړنې هم لري چې باید پام ورته وساتل شي لکه

خیال، فکر، تصویر، آهنگ، ژبنی‌ښکلا، تشبیه، استعارات، سمبولونه، کنایې، اساطیر او ... نور.

ښه شعر د شاعر له احساساتو،عواطفو او دروني انفعالاتو څخه رازېږېدلې وینا ده چې د شکل او منځپانګې ښکلا ولري، خیال او ایماژ ولري او لکه د غره په لمن کې د رڼې چینې اوبه چې د سپینو شګو له فلتر څخه راوزي، او د سترېو لارویانو تنده ماتوي سوچه او سپېڅلی وي او د شعر د مینه والو تنده ماته کړي.

ښه شعر هغه دی چې د خپلې زمانې درد و دوک منعکس کړي او ښه شاعر هغه دی چې د خپلې زمانې او خپلې ټولنې د غمونو او دردونو له غرونو څخه بې پروا او ناګاره تېر نه شي، ورته ودرېږي، فکر ورته وکړي او د شعر په ژبه، یعنې د هنر په ژبه یې منعکس کړي.

دلته به سمدستي ځنې کسان و وایي چې دا خو شعر نه بلکې شعار دی. زه به دا ډول کسانو ته د خسرو ګلسرخي هغه خبره یاده کړم چې یو وخت یې ویلي وو: « هلته چې ژوند له ژوند سره ډېر لږ ورته والی هم نه لري، ولې باید شعر، شعار نه وي. دا کفر دی چې په نږه شعر او د شعر په اوبلن (سیّال) جوهر پسې سینه څیرې کړو. زه له شعر څخه د ژوند په ګټه دا طمعه لرم چې که لازمه وي، یوازې شعار نه، بلکې خنجر، رسۍ او زهر شي، ګولۍ او سوک شي » د ستم او ستمګرانو په وړاندې.

زه د هغه شاعر او منتقد له دې وینا سره همغږی نه یم چې وایي: که شاعر د وینو د ډنډ خواته هم ولاړ وي باید و نه وایي چې قاتلانو د وینو تویول بند کړئ. ځکه چې دا شعر نه بلکې شعار دی. شاعر باید د خپل شعر او هنر د صیقل په فکر کې وي او په نورو کارونو کې مداخله و نه کړي.

زه په لوړ غږ وایم چې دې عالیجناب خپل روح خرڅ کړی دی او خبرې یې له شعر او هنر سره هېڅ تړاو نه لري. زه وایم که شاعر په خپله ټولنه کې ظلم ویني، ستم او استبداد احساسوي او د تالانګرو او متجاوزینو په لاس د بې ګناه انسانانو د وینو تویېدل ویني، د خلکو پر حقونو تېری ویني، باید غلی پاتې نه شي، له شعر څخه د پرګنو د تخدیر وسیله جوړه نه کړي، بلکې په ټول قوت چیغه کړي چې ظالمانو د وینو تویول بند کړئ، ستم او استبداد پای ته ورسوئ او د خلکو پر حقونو پښې مه ږدئ! په داسې حالاتو کې دا مهمه نه ده چې دا خبره سل په سلو په هنري ژبه یا غیر هنري عباراتو وشي. شاعر باید خپله خبره وکړي او خپل رسالت تر سره کړي. هغه کسان چې د بې رسالته هنر مریدان دي پر هغو کار نه لرم. هغوئ دې د وینو په ډنډونو کې د خپل مراد، کبان و نیسي.

کله چې په ۱۹۷۳ کال په چیلي هېواد کې سي. آی. اې د یوې خونړۍ کودتا په وسیله د سلوادور النده ملي حکومت نسکور او د پنوچت د واک ته رسولو په ترڅ کې یې د چیلي پایتخت د سانتیاګو ښار کې د وینو حمام جوړ کړ، شاعر، موزیسین او سندرغاړي ویکتور خارا و نه ویل چې واه واه څه ښکلې وینې دي چې ټولې لارې او کوڅې یې رنګینې کړې دي. بلکې خپل زړه او روح یې د خپل شعر په حرف حرف کې غوټه کړ او لکه وسپنیز سوک یې د ستمګرو او متجاوزینو پر خوله و واهه او چیغه یې کړه چې: یانکیانو وینې تویول و دروي. د چیلي ولس به هېڅکله د ستم او استبداد بت ته سجده و نه کړي. ویکتور خارا و وژل شو خو هغه حماسه یې چې په خپلو وینو ولیکله د آزادۍ اوخپلواکۍ په منشور واوښته او تر اوسه د چیلي د ولس په غوږونو کې انګازې کوي.

همدا راز فلسطیني شاعر رفعت العرعیر چې د ۲۰۲۳ کال د دسمبر په دولسمه د غزې په ترانګه کې له خپلې کورنۍ سره، د صهیونستي تجاوزګرانو له خوا و وژل شو، هېڅکله هم و نه ویل چې زه مې شعرونه د اسراییلي شوبلو او بمونو په وسیله د فلسطینیانو په ویجاړو شویو کورونو او د بې ګناه ماشومانو په وینو کې صیقلوم او هنري رنګ ورکوم بلکې خپل شعر یې لکه ګولۍ د صهیونیستي استعمارګرو پر مخ و ویشت. تاریخ له داسې، او دې ته ورته پېښو ډک دی.

زه وایم هو شعر هنر دی او شاعر هنرمند. خو د دې ترڅنګ شاعر یو ټولنیز انسان هم دی، په ټولنه کې ژوند هم کوي، لوستونکي او اورېدونکي یې هم د ټولنې ژوندي انسانان دي. نشي کولای د عاج ماڼۍ کې کښېني او و وایي، بلا مې ورپسې

چې په ټولنه کې څه پېښېږي، زه مې دټولنې په غمونو او دردونو کې خپل هنر صیقلوم او د بې تفاوتۍ ترانې ورته وایم.

بله خبره چې باید له پامه و نه غورځول شي، داده چې شاعر چاته او په کومه ټولنه کې شعر وایي، مخاطب یې څوک دي؟ خپل ځان ته شعر وایي؟ یو تعلیم یافته او اکادیمیک قشر ته، که د ټولنې پراخو پرګنو ته؟ د شعر هدف یې څه دی؟ دا هغه ټکي دي چې د شاعر تګلوری ټاکي.



شاعر باید د خلکو د زړه غږ واوري، درد یې احساس کړي او د شاعر مخاطب باید د شاعر د شعر په هینداره کې خپل ځان و لیدلای شي او خپلې خوښۍ او غمونه احساس کړای شي.

لنډه دا چې هغه شعر چې د لوستونکې یا اورېدونکي پر شونډو د خوښۍ او لذت د موسکا غوټۍ و نه غوړوي او یا یې سترګې لندې نه کړای شي، ښه شعر ورته نه شو ویلای.

شبېه: ادبیاتو کې په ځانګړي ډول په شاعرۍ کې کومې لاسته راوړنې لرئ؟

کاوون توفاني: که رښتیا ووایم نه یوازې په ادبیاتو کې بلکې د ژوند په نورو برخو کې هم د یادونې وړ لاس ته راوړنې نه لرم.

ـ په ۱۳٦۲ لمریز کال کې مې د « سپرغۍ» په نامه د شعرونو ټولګه چاپ او خپره شو چې د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا ورته د سنایي په نوم جایزه ورکړل شوه. د یادونې وړ بولم چې هغه مهال د جایزو د ژوري هیيت مشر لوی استاد عبد الحی حبیبي و، د نوموړي په سپارښتنه « سپرغۍ» د جایزې وړ وګڼل شوه.

ـ په ۱۳٦۸ کال د افغانستان د لیکوالو انجمن له خوا راته د رحمان بابا ادبي جایزه راکړل شوه.

ـ په ۱۳٦۹ لمریز کال د لیکوالو انجمن د مشرتابه له خوا د افتخار نښان راکړل شوی دی.

ـ په ۱۳٦۳ کال د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې له خوا ستاینلیک راکړل شو.

شبېه: د کډوالۍ ژوند څنګه تېرېږي؟ آیا هلته ادبي ناستې لرئ، یا هم داسې غونډې جوړېږي چې شاعران دې پکې راټول شي، ناستې او مشاعرې دې ولري؟

کاوون توفاني: زه مې د عمر هغه کلونه چې په مهاجرت کې ضایع شوي، د ژوند په ښکلو کلونو کې نه حسابوم. زما له نظره مهاجرت او د مور وطن له غېږې څخه جلا کېدل، د انسان په ژوندانه کې تر ټولو ترخه پېښه ده. سره له دې چې سړی له نویو ژبو، ناآشنا کلتورونو، پردیوخلکو او نالیدلو ښکلا ګانو سره آشنا کېږي خو پر پردۍ ځمکه د شین کېدو توان او امکان نه مومي. مهاجرت یعنې بې ریښې کېدل، له خپل معنویت څخه ورو ورو لرې کېدل او له خپل ځانه پردی کېدل دي.

المانیان د ژوند لپاره دوه لغتونه لري. یو یې Leben دی بل یې Überleben، یعنې

« لېبن » د ژوند کولو په معنا او « یوبرلېبن » د ژوندي پاتې کېدلو په معنا ده. د مهاجرت ژوند، ژوند نه بلکې ژوندی پاتې کېدل یا د ژوندي پاتې کېدلو لپاره هڅه ده.

د ادبي ناستو، غونډو او مشاعرو په برخه کې باید و وایم چې دلته ځنې فرهنګي ټولنې شته چې د خپل ملي فرهنګ او ادب ډیوه بله ساتي او سره له ډول ډول ستونځو، کله ناکله په بېلابېلو مناسبتونو، غونډې او مشاعرې جوړوي خو د ګډون لپاره یې زما پښې ګوډې دي. د واټنونو زیاتوالی، ورځنۍ

بوختیاوې او ځنې نور لاملونه دې چې ډېر لږ کولای شم په دا ډول غونډو کې ګډون وکړم.

شبه: ولې مو وطن ته خراب آباد یا دردآباد خطاب کوئ؟

کاوون توفاني: « خراب آباد » په اصل کې د دې دنیا یا عالم سفلی په معنا دی.

خواجه حافظ شیرازي وایي:

بیا بیا که زمانی ز می خراب شویم

مگر رسیم به گنجی در این خراب آباد

د حضرت بیدل وینا ده چې:

در خراب آباد هستي از کدورت چاره نیست

دوش مزدوریم باید خاک و گل برداشتن

خراب آباد بېلابېلو شاعرانو په خپل کلام کې کارولی دی او له دې کلمې څخه هر څوک خپل برداشت لري، خو ما په خپلو ځنې شعرونو کې بیخي په بله معنا کارولی دی. یعنې هغه آبادي، کور یا هېواد چې د غمونو، دردونو، بدیو، بې غوریو او خرابیو په پایله کې ویجاړ شوی وي.

همداسې راواخله درد آباد، غم آباد، ماتم آباد، زورآباد، ګل آباد او نور چې ځنې یې مثبت او ځنې یې منفي بار لري.

صایب تبریزی وایي:

هر که آمد در غم آباد جهان چون گرد باد

روزگاری خاک خورد، آخر به خود پیچید و رفت

زما د یوه غزل یو بیت داسې دی:

د تیارو پیره ولاړه، پر ویجاړ څراغ آباد

تور بندیز دی لګېدلی، د رڼا په دروازو

شبه: له تاسو، وخت ورکولو او له دومره ارزښتمنو خبرو مو نړۍ مننه. په پای کې د وطن د حالاتو په هکله څه نظر لرئ او د دعوت مجلې لوستونکو، په ځانګړي ډول ځوان نسل ته مو پیغام څه دی؟

کاوون توفاني: زموږ هېواد، افغانستان د خپل تاریخ په ډېرو حساسو او نازکو شېبوکې دی. د ځینو داخلي او بهرنیو ناسالمو ځواکونو منګلو تر اوسه پورې زموږ د هېواد او خلکو ګرېوان نه دی خوشې کړی. ځینې د دین ځینې د دنیا په نامه د خپلو او خپلو بهرنیو متحدینو د ګټو د خوندي کولو هڅې کوي. ځینې د هغه متل په پیروۍ چې وایي « تفرقه واچوه، حکومت وکړه » divide et) impera) د ورونو ولسونو په منځ کې قومي، ژبنیو، مذهبي او اتنیکي اختلافاتو ته لمن وهي او هڅه کوي یو ځل بیا په هېواد کې د جګړو اوربل کړي او ملي ګټې د خپلو شخصي، حزبي او تنظیمي ناروا ګټو د خوندي کولو لپاره د وینو په سین لاهو کړي.

په دغو حساسو، نازکو او برخلیک ټاکونکو شېبو کې د ټولو ملي، وطنپالو او دیمو کراتیکو ځواکونو او شخصیتونو دنده ده چې د افغانستان د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي ګټو د تامین او ټینګښت لپاره، له خپلو شخصي او حزبي کوچنیو او حقیرو ګټو څخه تېر شي، خپل اختلافات د خبرو او بین الافغاني تفاهم له لارې حل کړي. ټولو بهرنیو لاسوهنو او د هغو رنګینو وعدو ته نه و وایي او د یوه آزاد، آباد او پرمخ تللي افغانستان د جوړولو لپاره لکه خویندې او ورونه یو بل سره لاسونه ورکړي او متحد شي.

جنګ او جګړه د کړکېچ د حل لار نده. سیاسي اختلافات باید له سیاسي لارو حل شي. هغه سودپرسته سیاستبازه افراد او ډلې چې په تېرې درې لسیزې کې یې د سیاست او حکومت داری په ډګر کې خپل امتحان ورکړی او ناکامه شوي دي، د افغانستان خلکو ته نور د باور وړ نه دي.

د مور وطن زخمي زړه د سولې او ورورۍ مرهم ته اړ تیا لري، نه د کرکې او دښمنۍ زهرو ته.

افغانستان د خپلو ټولو بچو ګډ کور دی. ټول باید په خپل ګډ کور کې آزاده سا واخلي، ټول باید ښځې دي که نارینه، د ژوندانه په ټولو برخو کې له خپلو طبیعي او مدني حقونو لکه د زده کړو حق، د کارحق،د فکر او بیان او عقیدې د آزادۍحق، دانتخابولو او انتخابېدلو حق،... له جنسي، نژادي او عقیدوي تبعیض پرته، په مساوي ډول برخمن شي.

زموږ د هېواد ځوان نسل باید د تېرو نسلونو له سیاسي ناروغیو او مرګنیو اشتباهاتو زده کړي او د هغوئ په کړو پلونو پل

کښې نه ږدي. د هغوئ له مثبتو تجربو څخه ګټه واخلي او د منفي کړنو له تکرار څخه يې ځان وژغوري.

لومړی بايد خپله ټولنه او د ټولني تاريخ، معنوي جوړښت، او د پراخو پرګنو له ديني، روحي او فرهنګي ارزښتونو سره ځان په واقعي معنا بلد کړي او بيا يې د تغيير او بدلون په فکر کې شي. تاريخ د ځوان نسل پر اوږو د يوه خپلواک، بسيا او سرلوړي افغانستان د جوړولو مسووليت ايښی دی. دا يو ډېر ستر کار دی. سترکارونه په پوهه، درايت، له ځانه تېرېدنې، او د هېواد د ټولو هستوګنو پرګنو، حقونو ته په ژور احترام تر سره کېدای شي.

زرين شال د پلوشو

مستان وچې شونډې ګرځي، ښار خالي له ميکدو
نـه خـندا د صـراحي شـته، نه شرنګا يې د پيالو
نه په شنه ساغر کې ناڅي مرغلرې د صهبا
نـه نغـمې د رباب اورم، نه ژړا د سريندو
نه د خُم په زړه کې اور شته، نه د دروي خوله کې شور
نه ګرمي د تودو غېږو، نه سکروټې د بوسو
نه نارې د « انالحق» شته نه ټپې د مينتوب
د هوا ځولۍ ده ډکه، له هی هی او له هو هو
زه د لمر په انتظار وم، ما څارله د ژوند لار
د قيامت استازی راغی، توره شپه يې پر اوږو
نه د شونډو په باده کې، سره اورونه د مستۍ
نه ښايسته نرګسي سترګې، نه ځلا د اننګو
نه دمن دمن غاټول شته، نه چمن چمن ګلاب
دښتې خړ ټيکري اغوستی، ځولۍ تشه د وږمو
نه په تالو کې شوې پلنې د ښايسته زرکو نغمې
نه په دښتو کې شوې تيتې انګازې د غرځنو
د تيارو پيره ولاړه، پر ويجاړ څراغ آباد
تور بنديز دی لګېدلی، د رڼا په دروازو
نه سپوږمۍ مخ را ښکاره کړ، بيا د وريځو له ټيکري
نه د لمر لونو اغوستی، زرين شال د پلوشو
نه د باغ اننګي سره شول، نه د راغ لمنې شنې
نه د غرونو وږمې راغلې، نه شمال د سردرو
دا نو څنګه پسرلی دی، چې نه ګل شته او نه مُل
چنارونه په ملا مات دي، سروې سر په زنګنو
بد شګونه راته ښکاري، دا بې ګلو پسرلی
دا د باغ مينځلی ذهن، د بلبلو له نغمو
زه په خپله لار روان يم، زاهد ځي په خپله لار
زه مين د يار په سترګو، دی عاشق په سيپارو
د جانان د حسن توري، لکه ستوري د آسمان
زه يې شمارم په جامونو، شيخ يې شماري په سجدو

د شپې په غېږه کې

لا مې د ژوند يو څو شېبې پاتـــــې دي
چـــې مې په زړه تا ته اسرې پاتې دي
زلفې خورې کړه خوب مې سترګې څاري
د شپې په غېږه کې مې شپې پاتې دي
ستا په خمارو تورو ستـــــــــرګو پسې
له مانه ټولـــــــې ميکدې پاتـــې دي
زړه دې کانـــې د مغلوالـــــــــې کوي
سترګې دې اوس هم پښتنې پاتې دي
زه ګنهـــــکار يمـــــــه چې مينـــه کوم
کنه له تا نه څه ګيلـــــــې پاتې دي

د نړۍ تر ټولو لوی ځنګلونه

ژباړه او راټولونه: شبیه ګهیځ

په نړۍ کې تر ټولو لوی ځنګلونه یقیناً د نړۍ تر ټولو په زړه پورې ځایونه دي، چې د لېدلو لپاره ځانګړې جاذبې لري. ځنګلونه یو له خورا ښکلي ځایونو څخه دي، چې د ځمکې نږدې درېیمه برخه جوړوي. د ځمکې دا ښکلې برخه د انسان په ژوند کې خورا مهم رول لري. په هغو سیمو کې چې ځنګلونه پراخ او ونې زیاتې وي؛ د هغو سیمو د خلکو لپاره د اړتیا وړ اکمالات، لرګي او ځینې میوې له همدې ځنګلونو تر لاسه کېږي او دغه لرګي نورو هېوادونو ته هم صادرېږي. ځینې ځنګلونه خورا ښکلي وي، چې د سیلانیانو په راجلبولو سره د یوې مهمې طبیعي جاذبې په توګه د سیمې اقتصاد کې مرسته کوي. په دې مقالې کې مو تاسو ته د نړۍ تر ټولو پنځه لوی ځنګلونه پېژندلي دي.

۱: تایګا ځنګلونه

تایګا د نړۍ تر ټولو لوی ځنګل چې په حقیقت کې یو ایکوسیستم او په نړۍ کې د اکسیجن یو له مهمو سرچینو څخه ده. تایګا د شمالي ځنګل یا د واورې ځنګل په نوم هم یادېږي، چې په روسیه او شمالي امریکا کې پرته ده او شاوخوا دولس میلیون کیلو متر مربع مساحت لري. د تایګا ځنګل منځنۍ تودوخه په درېیو میاشتو کې له ۱۰ درجو څخه زیاته ده؛ منځنی اورښت یې له ۲۵۰ څخه نیولی تر ۵۰۰ ملي لیترو پورې دی. د دې ځای ځمکه تل لمده او ستنې په ډول پراخه ځنګلونه لري او په دې ځنګل کې صنوبر، دیودار او د ونو نور بیلابیل ډولونه شته.

۲: د امازون ځنګلونه یا هم د ځمکې سږي



کیدای شي داسې څوک نه وي چې د امازون ځنګلونو نوم یې نه وي اورېدلی. دا مشهور ځنګلونه چې د ځمکې د سږي په نامه هم یادېږي د نړۍ له سترو باراني ځنګلونو څخه دي. د دې ځنګل ټول مساحت شاوخوا ۱،۷میلیارد هکتاره دی، چې ډېره برخه یې په برازیل کې موقعیت لري. دا ځنګل په ختیځ کې د اتلانتیک له بحیرې څخه پیل او په لویدیځ کې د اندین تر غرونو دوام کوي. د دې ځنګل په زړه کې د امازون سیند تېرېدل دې ځنګل ته ځانګړې ښکلا ښېلې ده او امازون ځنګل د څارویو، حشرات او نورو ژویو خورا لوی ډولونه لري.

۳: کنګو ځنګلونه

د کنګو باراني ځنګل د افریقا په وچه او د استوا په شاوخوا کې موقعیت لري او د نړۍ له لویو او اوږد سیندونو څخه یو سیند له دې ځنګل څخه تېرېږي. دغه سیند چې د کنګو په نامه یادېږي د دغه ځنګل په ایکولوژي کې مهم رول لوبوي او په دې سیمه کې د حیواناتو د ژوند په بقا کې بنسټیز ارزښت لري. کنګو ځنګل کې د حیواناتو مختلف ډولونه لکه: هاتین، چمپنزی، ګوریلا، بابون، زرافه، مور او نور استوایي مرغان ژوند کوي. د نورو استوایي ځنګلونو په څېر په دې ځنګل کې هم هر ډول حیوانات ژوند کوي، د بیلګې په ډول: پګمي او چمپنزي یوازې په دې ځنګل کې شته او د نړۍ بل ځای کې نه لېدل کېږي. هېوپوټامس په دې سیمې کې یو له نورو حیواناتو څخه دی، چې غوښې سره یې د ځایي خلکو د لیوالتیا له امله

په پراخه کچه ښکار شوی دی. افریقایي هاتیان، ګوریلا، زرافه، زیبرا، مور، پړانګ، افریقایي زمریان او د مارانو بیلابیل ډولونه د دې ځنګل ځانګړي حیوانات دي.

دا ځنګل شاوخوا دوه میلیون کیلو مترمربع مساحت لري. ددې ځنګل سویلي او شمالي سیمې وچې دي او د سوانا میدانونو ته لاره هواروي. لویدیځې سیمې یې د ګینا، ګابون، کامرون، سویلي نایجیریا او بینین ساحلونو ته لاره هواروي؛ د ځنګل ختیځې سیمې هم غرنۍ دي او د البرتین په لوړو کې پای ته رسېږي.

۴: والدیویان ځنګلونه

د دې ځنګل نوم د والدیویا له ښار څخه اخیستل شوی، چې ۲۸۴،۱۰۰کیلو متر مربع مساحت لري او د نړۍ له پنځو لویو ځنګلونو څخه شمېرل کېږي. والدیویان ځنګل د چیلي او ارجنتاین هېوادونو تر منځ موقعیت لري. د دې ځنګل شهرت د دې اصلي بوټو، د نادرو حیواناتو ډولونو او لوړو ونو له امله دی. د دې ځنګل منځنۍ تودوخه له ۴ څخه تر ۱۲ سانتي ګراد درجو پورې توپیر لري او د دې بدلون اصلي لامل په معتدل زون کې موقعیت دی. د والدیویان ځنګل بله ځانګړنه دا ده چې اوږد مهاله بارانونه لري او په دوړو پوښل شوې فضا یاد ځنګل ته غیر معمولي ښکلا وربښي. پراخه پاڼې لرونکي ونې، د شمالي پینتاګون ونې، انډین پینتاګون ونې او د الرقه زړې ونې چې په نړۍ کې له پخوانیو ونو څخه دي؛ په دې ځنګل کې لېدل کېږي. په زړه پورې خبره دا ده چې دا ونې په نړۍ کې د دویم ژوندي مخلوق په توګه هم پېژندل کېږي. اخذونه

۵: د تونګاس ځنګلونه

په امریکا کې د تونګاس ملي ځنګل د متحده ایالاتو له شنه ځنګلونو څخه دی، چې د الاسکا په سویل ختیځ کې موقعیت لري. دغه ځنګل د ۱۹۷۰م کال د سپتمبر له ۱۰مې نیټې راهیسې د ملي ځنګل په توګه اعلان شو؛ د غوره تفریحي او سیلانیزو شرایطو په لرلو سره هر کال له یو میلیون څخه زیات سیلانیان راځي. تونګاس ځنګل شاوخوا ۱۷ میلیون جریبه مساحت لري. دا په زړه پورې ده چې په دې سیمه کې شاوخوا ۷۰۰۰۰ خلک ژوند کوي. که څه هم په پخوانیو وختونو کې د الاسکا د سیمې خلکو اقتصاد د لرګیو په صنعت پورې تړلې و؛ خو نن ورځ تفریح، کب نیونې او سیاحت د دې سیمې اقتصادي برخې جوړوي.

اخذونه:

1 :https://merswood.com/%D8%AC%D9%86%DA%AF%D9%84-%D8%AA%D8%A7%DB%8C%DA%AF%D8%A7/

۲ :https://lahzeakhar.com/Tourist-attractions-full-information/23710-%D8%AC%D9%86%DA%AF%D9%84-%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%A2%D9%85%D8%A7%D8%B2%D9%88%D9%86

۳https://sinapress.ir/news/8871/%DA%AF%D8%B2%D8%A7%D8%B1%D8%B4-%D8%AA%D8%B5%D9%88%DB%8C%D8%B1%DB%8C-%D8%A7%D8%B2-%D8%AC%D9%86%DA%AF%D9%84-%DA%A9%D9%86%DA%AF%D9%88/

په کابل کې د دعوت رسنیز مرکز درې کتابونه

دعوت رسنیز مرکز ویاړي چې د خپلو نورو فرهنګي فعالیتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت میډیا ۲۴ او افغان سباوون ویبپاڼو تر څنګ په دې وروستیو یو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طریقه او د کتاب بیه او پوستي بیه ښوول کیږي.

کله چې طوطي والوت

د ماشومانو دغه پاسني کتاب مینه والی په کابل کې د سروش کتابپلورنځي څخه په لاندې ادرس ترلاسه کولی شئ:

مازیګر کتابپلورنځی - مینه یار مارکېټ - کوټه سنګي – کابل

سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د درېیمې ناحیې کوڅې ته نږدې، میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل-785200212





پری افغان در کییف

کتاب داستان واقعی (پری افغان در کییف) را علاقمندان میتوانند در کابل از کتابفروشي سروش به ادرس ذیل بدست آورند:

کتابفروشی سروش ، مینه یار مارکېټ، د درېیمې ناحیې کوڅې ته نږدې، میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل-افغانستان .0785200212

د کییف افغانه ښاپېرۍ

د یوې رېښتینې کیسې له مخې لیکل شوی کتاب (د کییف افغانه ښاپېرۍ) د لومړی ځل له پاره په هېواد کې چاپ چې تر اوسه په پښتو، دری او انګلیسي ژبو خپور شوی، مینه وال کولی شی په کابل کې یې د سروش کتابپلورنځي څخه په لاندې ادرس ترلاسه کړي:

مازیګر کتاب پلورځی - مینه یار مارکېټ - کوټه سنګي

سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د درېیمې ناحیې کوڅې ته نږدې، میرویس میدان (کوټه سنګي)، 785200212



ناروې میشتو هېوادوالو ته زیری!

نارویژي پښتو قاموس Pashto Ordbok- Stor Norsk

هغه هېوادوال چې په ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون او سیمه ایز کتابتون (Bibliotek) کې یې تر اوسه نارویژي پښتو قاموس نه وي نو کولای شي چې د خپل ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون او سیمه ایز کتابتون څخه د نارویژي پښتو قاموس(Stor Norsk-Pashto Ordbok) غوښتنه وکړي تر څو یې ورته واخلي تاسو یواځې هغوئ ته د کتاب نوم، د لیکوال نوم او د اس بی این ISBN شمېره ورکړئ نور هغوئ پوهېږي چې څنګه یې ترلاسه کړي. د ناروې په هر کمون کې یوه او یا له یوې ډېر کتابتونونه وي.

هغه هېوادوال چې په ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون او سیمه ایز کتابتون (Bibliotek) کې یې تر اوسه نارویژي پښتو قاموس نه وي.

د کتاب نوم : نارویژي پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok

د لیکوال نوم: محمد طارق بزګر Mohammed Tariq Bazger

اس بی این:ISBN: 978-82-691395-0-1

په مستقیم ډول یې په Lillestrøm کې د دعوت میډیا رسنیز مرکز څخه تر لاسه کولی شئ .

د ویپس او یا هم بانکی اکونټ ته د ۵۰۰ کرونو په رالېږلو به کتاب ستاسی په پوستی ادرس تر تاسو درورسیږي.

د معلوماتو له پاره په لاندې شمېره او همدا شمېره د ویپس له پاره کارولی شئ: 90856195

د دعوت میډیا بانکی اکاونټ شمېره: 0530 2294668

او یا هم د ویپس د لاری90856195 :

د هر ډول معلوماتو له پاره زموږ د تلیفون شمېره :90856195

Over one million Afghan refugees forcibly expelled from neighboring countries: Official

The Deputy of the Prime Minister of the Taliban stated in a meeting with representatives and ambassadors of countries in Kabul that in recent times, over one million Afghan migrants have been forcibly expelled from neighbouring countries.

According to a statement issued on Tuesday, Abdulsalam Hanafi, the second deputy of the acting Prime Minister of the Taliban, raised this issue during an iftar dinner held at the Ministry of Foreign Affairs headquarters. Referring to the negative impacts of the forced expulsion of Afghan citizens from various countries, he mentioned that this action does not contribute to bilateral and neighbouring relations.

As per the statement, officials and representatives from various countries, diplomats, and UNAMA officials attended this iftar dinner.

Hanafi urged all regional and extra-regional countries in this meeting to curtail drug trafficking and ensure stability in Afghanistan to prevent the migration of youth to other countries. He emphasized aligning major development projects such as the Afghanistan Trans, Herat-Bulldak, Chabahar Port, Lajward Road, Khan Corridor, and TAPI investment in Afghanistan to achieve this goal.

He emphasised that security in Afghanistan is not only important for the country's citizens but also crucial for the interests of all regional countries. Therefore, investment in various sectors is essential for the continuation of stability in Afghanistan.

However, since the Taliban took over the country, they have imposed several strict restrictions resulting in the violation of human rights and women's rights and have failed to form an inclusive government.

The Taliban's oppressive policies have led to a dire humanitarian crisis in the country. According to UN reports, over 28 million people needed aid assistance in 2023, and the ongoing crisis has been exacerbated by the forced deportation of Afghan migrants by neighbouring countries.

Stor Norsk-Pashto Ordbok



For å få **Stor Norsk-Pashto Ordbok**, kontakt oss med e-post og mobilnummer nedenfor:

dawatmedia@gmail.com

Mobil:90856195

WHO issues warning on rising respiratory illness cases in Afghanistan

The World Health Organization has announced that since the beginning of January of this current year, more than 286,000 individuals have been afflicted with respiratory illness, among whom 668 have lost their lives.

Khaama: On February 24, the organization reported hundreds of deaths and infections due to respiratory illness across the country, coinciding with the onset of winter.

According to the World Health Organization, the increase in the number of individuals afflicted with respiratory issues is due to cold weather conditions, affecting mostly children.

Based on the organization's report, over 63% of the patients are children under five years old, with nearly 50% of them being women.

Previously, the World Health Organization emphasized in a report that the average recorded statistics of respiratory illnesses in the country have increased compared to the same period in the years 2020 to 2022.

It is noteworthy that with the arrival of the cold season and increased air pollution, concerns regarding the spread of respiratory illnesses in the country have intensified.

Previously, thousands have also lost their lives due to acute respiratory illnesses in the country.

Amidst the heightened deportation of Afghan refugees from neighbouring countries like Pakistan, over half a million people are returning home to dire conditions, lacking food, shelter, water, and job

In conclusion, the diplomatic endeavors in Afghanistan, as exemplified by the Bonn Conference in 2001, the Doha Accord of 2020, and the Doha Conference in 2024, underscore the complex and evolving nature of peace initiatives in the region. The Bonn Conference demonstrated a unique convergence of former adversaries, with collaborative efforts aimed at addressing the power vacuum post-Taliban. However, the unintended consequences of supporting a system that saw the reintroduction of the warlords contributed to a corrupt and fragmented presidential system lasting two decades only with the support of the international community.

The Doha Accord of 2020, while groundbreaking in its aim for peace, brought about the exclusion of the Afghan government from negotiations due to its fragmented corrupt incompetence, leading to the disintegration of the Afghan National Security Forces and ultimately paving the way for the Taliban's takeover of Kabul in 2021.

The Doha Conference in 2024, designed to chart a course for global engagement with Afghanistan, faced its own challenges. Despite aspirations for dialogue between the Taliban and the international community, the conference fell short of expectations, as the Taliban chose not to participate unless recognized as the legitimate government and objection to be at the same footing with some of the Afghan participants who represented the past corrupt warlord government.

In examining these three pivotal moments, it is evident that the path to peace in Afghanistan is fraught with complexities, as each diplomatic effort has had its successes and shortcomings. The need for inclusive, comprehensive, and sustainable solutions remains imperative, recognizing the nuanced dynamics and diverse interests at play in the region.

❖

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

www.dawatmedia24.com

Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

DNB Bank AC # 0530 2294668

Account for international payments: NO15 0530 2294 668

Vipps: #557320

www.dawatmedia24.com email: dawatmedia@gmail.com -

Dawat Media Center: V/ M. Tariq Bazger. Voldgata. 37A. 2000 Lillestrøm NORWAY

Navigating Afghan Diplomacy: Unraveling the Complexities through the Bonn Conference 2001, Doha Accord 2021, and Doha Conference 2024

By: Ahmad Fawad Arsala

Introduction:

The landscape of Afghan diplomacy has been marked by a series of critical moments, each shaping the trajectory of the nation's quest for stability and peace. Among these milestones, the Bonn Conference in 2001, the signing of the Doha Accord in 2020, and the recent Doha conference in 2024.

Bonn Conference 2001:

In 2001, the Bonn conference witnessed an unprecedented collaboration among former adversaries, such as the United States, Russia, and Iran, united by their common goal of combating the Taliban. This cooperative spirit even extended to historical rivals India and Pakistan. Participants at the conference included representatives from the Northern Alliance and diverse Afghan ethnic and interest groups. Notably absent were the Taliban, a decision that potentially prolonged the conflict despite their apparent defeat. Initiated by US Secretary of State Colin Powell, the conference aimed to address the power vacuum in post-Taliban Afghanistan, with the goal of preventing a return to the chaotic warlord era. Unfortunately, by bringing the same warlords of the chaos of the 1990's the subsequent years saw the resurgence of warlords within a system supported by the US and NATO, ultimately contributing to the corrupt and fragmented two decades of the presidential system.

Doha Accord 2020:

The Doha Accord of 2020, also known as the United States-Taliban deal, emerged as a groundbreaking peace agreement. The corrupt, intensely fragmented ineffective Afghan government was excluded from the negotiations, and this exclusion played a significant role in the disintegration of the Afghan National Security Forces (ANSF). The ANSF, ill-equipped, hugely reliant on the US and NATO air support and led by an intensely fragmented, incapable, corrupt and unmotivated leadership, proved incapable of deterring the Taliban, ultimately resulting in the Taliban's takeover of Kabul in 2021.

Doha Conference 2024:

The Doha conference in 2024 aimed to set a course for global engagement with Afghanistan, fostering dialogue between the Taliban and the international community on critical issues. However, the conference fell short of achieving its objectives, leaving participants dissatisfied. Despite U.N. Secretary-General Antonio Gutierrez expressing hope for internal peace and harmonious relations, the Taliban chose not to participate. Insisting on attendance as the government of Afghanistan rather than on equal footing with other participants, which was not accepted by the UN. Professor Obaidullah Baheer, an expert in transitional justice at the American University of Afghanistan, voiced frustration on Twitter, stating, "As much as the Taliban's presence at the UN meeting in Doha would've been useful, the invitation extended to affiliates of an armed insurgency (NRF) and female drug lords makes a mockery of the whole process. No need for participation if the meeting is designed to platform spoilers." The status of official representation from the National Resistance Front (NRF) at the meeting remains unconfirmed, but Baheer's tweet reflects the widespread discontent among the Afghan population concerning the international community's decisions on representation in discussions addressing the Afghan crisis.

Documented evidence indicates that the Pakistani establishment, particularly the Army and ISI, presented Islamic extremist groups and the concept of Jihad to the United States as an alternative in their objective to oppose the Soviet occupation of Afghanistan. The issue arises from Pakistan consistently framing this use and reliance on Islamic extremist groups and Jihad as a joint venture between Pakistan and the US. In a discussion with the Carnegie Endowment on October 26, 2012, General Pervez Musharraf described this narrative, stating that the United States and Pakistan "both decided to fight for Afghan independence by launching a jihad, or holy war, that would have support from across the Muslim world." While it is acknowledged that the United States initiated operations to arm and fund resistance against the Soviet occupation, shifting the blame from Pakistan, which has historically utilized Islamic extremism and Jihad for its geopolitical objectives and presented these groups to the United States, is a clever political maneuver by the Pakistani establishment.

Since the late 1990s, Pakistan has confronted terrorism from various groups, stemming from local veterans of the U.S.-supported mujahideen in Afghanistan who redirected their focus to domestic issues. The government's strategy has involved collaborating with certain jihadists while rejecting others. Although Pakistani officials differentiate among different categories of jihadis, the militants do not always share the same perspective. Despite disagreements over theological nuances and the vision of an ideal Islamic state, these groups operate within a cooperative ecosystem. Individuals frequently transition between groups, and groups undergo transformations and mutations, yet their commitment to jihad remains steadfast.

For years, Pakistan's military leaders have pledged a robust counterterrorism plan targeting all violent extremist groups indiscriminately, but its implementation is still pending. Without such implementation, new factions and splinter groups from existing jihadi movements will continue to emerge, each with variations in emphasis and targets. Consequently, attacks like the recent one will persist at regular intervals.

In conclusion, the complex tapestry of Pakistan's history, geopolitics, and internal dynamics reflects a nation grappling with its identity and the consequences of its historical choices. The recent accusations against Afghanistan, juxtaposed with Pakistan's own history of facing allegations related to Islamic extremism, highlight the intricate interplay of regional geopolitics and internal struggles.

The inception of Pakistan itself, a product of Cold War real-politics and British strategic maneuvering, set the stage for the utilization of Islamic identity as a cohesive force. However, this has also become a double-edged sword, leading to a slippery slope marked by ethnic suppression, proxy wars, and the rise of Islamic groups.

The shifting blame for the rise of Islamic extremism in the region, from Pakistan's historical use of these elements for geopolitical objectives to a supposed joint venture with the United States during the Afghan conflict, showcases the intricacies of political narratives. While the accusations persist, the reality remains that Pakistan is confronting the consequences of its historical choices and is now grappling with internal security challenges.

The ongoing struggle against terrorism, coupled with the challenges posed by various extremist groups, underscores the need for a comprehensive counterterrorism plan in Pakistan. The emergence of new factions and the persistence of attacks highlight the urgency of implementing effective measures to address the root causes of extremism within the country.

As Pakistan navigates its path forward, it faces the daunting task of reconciling its historical legacy, geopolitical realities, and the imperative to foster a secure and stable future. The intricate relationship between religion, identity, and governance will continue to shape Pakistan's trajectory, making it imperative for the nation to navigate these complexities judiciously for a more harmonious and secure future.

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

www.dawatmedia24.com

narrative of Pakistan is essential for comprehending the country's perplexed identity, its ongoing crisis with the Islamic insurgency, and its future outlooks.

The British initially contemplated the creation of Pakistan within the framework of Cold War real-politics. Faced with the inability to rely on India's dominant Congress party, led by Nehru, which had demonstrated independence and anti-colonialist stances, the departing British Power resorted to a well-established strategy of creating division. This approach aimed to weaken India through the manipulation of the idea of Pakistan and eventually establishing the state of Pakistan to safeguard British strategic interests in the region. The partition served the purpose of preventing the spread of Communism throughout the entire region of India and the oil-rich Middle East. By designating Pakistan as a separate Muslim state, it was intended to act as a buffer state, thwarting the spread of Communism in the region.

From the inception of the Pakistan movement, Islamic groups have been actively encouraged and employed for various purposes. These groups were utilized to garner support for the concept of Pakistan on certain occasions, employed to suppress ethnic identities at other times, and used to execute Pakistan's foreign policy in the region on yet another front. The consistent promotion of Islamic identity and the simultaneous suppression of ethnic identity have set Pakistan on a historical trajectory that seems to be its vulnerable point, akin to an Achilles' heel.

Creating a new nation, especially by delineating it from contested territories within a region rich in history, cultures, religions, and shared experiences developed over centuries, necessitated a cohesive national narrative. This narrative was crucial to justify the existence of this artificially created entity and the separation of ethnic groups from their kin. Islam emerged as the chosen adhesive to bind the new country of Pakistan together and simultaneously function as the tool to keep ethnic groups within this freshly established nation disconnected from their counterparts across borders, from whom they were recently separated. The process of carving out Pakistan, coupled with ethnic suppression, proxy wars, and conflicts with neighboring nations, has not only strengthened the Islamic narrative but, more significantly, bolstered the influence of Islamic groups and their network of madrassas in Pakistan.

